# استعاره، تخیل او تخلیق

(تنقید او تحقیق)

Ketabton.com

ژباړن: عبدالجمیل ممتاز



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: استعاره، تخیل او تخلیق
لیکوال: معید رشیدی
ژباړن: عبدالجمیل ممتاز



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سرلیکونه مخونه


۱ - پیلیزه ........ الف
۲ - د استعارې راز ........ ۱
۳ - تخیل ........ ۲۲
۴ - عروض، معروض او نوی بوطیقا ........ ۳۲
۵ - شعري مقاله ........ ۴۹
۶ - شعر ........ ۵۷
۷ - نظم او موزون کلام: د آزاد د فکر اساس ........ ۶۸
۸ - شپه، احتجاج او سهار - فیض احمد فیض ........ ۸۰
۹ - د ابهام ښایستونه: میراجي ........ ۸۸




www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوازې همدومره وایم:

هم مې دا کتاب خوښ شو او هم مې د لیکوال سبک، په ښه طرز یې لیکلی دی.
په دغه کتاب کې تنقید شوی دی، خورا مهمو ټکو ته پکې اشاره شوې او ښایسته معلومات پکې راټول شوي دي.
ویې لولئ، هیڅ سترې کوونکی نه دی، هیلمن یم، زما په شان به ډېر څه ترې زده کړئ. د نیمګړتیاوو په برخه کې یې بخښنه کوئ.

درښت
ممتاز


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعر درجه له حکمت څخه ډېره اوچته ده او حکمت د شعر په بنسټیز مفهوم کې شاملېږي، شاعر ته د حکیم خطاب کېدی شي. خو حکیم ته هیڅ وخت شاعر نشي ویل کېدی.
په یو حدیث کې راځي چې په بیان کې جادو شتون لري خو په جادو کې بیان نه وي، نو په دې اساس شاعر ته د ساحر خطاب کېدلی شي، خو ساحر ته د شاعر خطاب نه.
( امیر خسرو )

استعاره د بلاغت یو لوی رکن دی او ورسره د شاعرۍ تړاو داسې دی، لکه روح له بدن سره.
تمثیل او کنایه هم استعارې ته ډېر نږدې دي. دا هغه څه دي چې شعر ته روح ورکوي. کله چې دیوې ژبې په اصل کې د قافیې ساحه تنګېږي، نو شاعر د استعارې په مرسته خپل احساسات او خیالات په ډېره ښه توګه بیانولی شي او په کوم ځای کې چې خپل منتر ورته اغېزمن و نه برېښي، نو د همدې په زور د خلکو زړونه تسخیروي.
(خواجه الطاف حسین حالي )

که څوک غواړي چې نظم یا نثر ولیکي، خو چې تخلیق وي؛ نو د خارجي او داخلي نړۍ له منلو او د هغو دواړو له یو ځای کولو پرته بله هېڅ چاره نشته، چې پایله یې د استعارې رامنځته کېدل دي.


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعاره د انساني تجربې له رګونو نه را څاڅي. دا د عقل او نقل خبره نه ده، لکه څنګه چې يو روغ سړی يا د روغتيا پلټونکی له خوب ليدلو پرته نشي اوسيدی، همدغسې د استعارې تخليق هم د ادب لازمي عمل دی. دا بېله خبره ده چې يو څوک د خپل دغسې عمل مخه نيسي يا پټم ورته دروي او خپل تخليقي صلاحيت محدودوي.
(محمد حسن عسکري)

# پیلیزه

او بيا سمندر وويل
د ساحلونو په غېږ کې، زه يو سفر يم
(سارا شګفته)

د انسان پياله د سمندر له پيالې نه ختېدا باسي
د ختې مار جوړوي او لوږه پالي
وښو چې د وړانګو تنده ماته نه شوای کړی نو اور ولګېد
ما اور ووينځه او لمر مې وچ کړ
لمر چې د ورځې سينه سوځوله
اسماني رنګ يې ورکړ
اوس د اسمان پر ځای سپين کاغذ پاتې دی
(سارا شګفته)


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عادي خبرو او ادبي تخليقي خبرو ترمنځ ولې توپير شته؟ د دې پوښتنې ځواب د استعارې په پراخ تصور او د هغې په روح کې پروت دی. خدای خبر! ژبه په شاعرۍ کې د ماتې له څومره پړاوونو څخه تيرېږي. عادي خبرې په تخليقي هيجان(پاربدنه) کې په سمه توګه نه څرګندېږي، چې دغه ماته د استعارې اعتراف دی. لامل څه دی چې په شاعرۍ کې چوپتيا د ويلو ځواک مومي؟ الفاظ چې کله د تخليق په اور کې سکروټه وګرځي، نو استعاره رامنځته کيږي، ځينې تشبيه، ځينې تصوير او ځينې هم هنري بڼه اخلي.

که څوک دا وايي چې شاعري له خالصې ژبې څخه بې برخې ده، نو بخښنه دې وکړي، دا محرومتيا مونږ ته ډېره خوږه ده، ځکه چې همدا محرومتيا شعر ته ژوند وربخښي او په دې محرومتيا کې هنرمن (شاعر) خپل ځان سوځوي.

تخليق د اور هغه لمبه ده، چې سړی پکې وسوځي خو ايره کيږي نه، بلکې هغه ته يو نوی ژوند ور په برخه کيږي، چې دا ژوند د لفظونو په دستور پوهيږي.

لفظونه هيڅ وخت ګونګيان نه وي، ګناه د هغو غوږونو ده؛ چې نه يې اوري. ګناه د هغه ادراک ده چې د خپل وجود شته نشي ببلولی. په ادراک کې چې د تخيل واک نه وي، نو شاعري مري.

تخيل د هغه غږ انعکاس دی؛ چې د وجود په پټو ځايونو کې را ټوکيږي.

دلته خبره په حقيقت راڅرخي، ابهام ګنې پوښتنې را ولاړوي، چې د پوښتنې آرامتيا نه، بلکې توفان رازيږوي او شايد له همدې امله د مفروضې د معنا شرحه تل په حاشيه کې وي. اصل يا زړې ته لاسرسی د هغې اصليت نه دی، ټوله لوبه د جوهر لاس ته راوړل دي. معامله د اسرار موندلو ده، چې استعاره دغه رمز خړوبوي او د هغې د لاسته راوړلو لپاره هغې ته نږدې کېدل يا په هغې کې تم کېدل پکار دي.

د استعارې پر ژبه باندې اعتراض هيڅ معنا نه ورکوي. ځکه مونږ ويلای شو چې سمندر به چغې کړي. تجربه اور وينځلی شي، لمر وچولی شي، که لمر د چت په شان ښکاره شي، نو ناممکنه يې مه ګڼه، که له اوبو نه اور راووت، نو کومه د انديښنې خبره نه ده، آسمان ته سپين کاغذ ويل څه مسخره نه ده. څاڅکی سيند جوړېدای شي او لاس توره. سترګې فکر کولی شي او زړه اورخونه (آتش کده) جوړيدای شي. محبت يوه ښاپيرۍ ده او غم يې داسې لوربينه ده چې ژوند تل پاتې ساتې. همدا د استعارو نړۍ ده، زمونږ دننه نړۍ.


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورد غالب له خولې او ربړلي چې شاعري قافيه پالنې ته نه، معنا زيږونې ته وايي. كه چېرې دا خبره سمه ده، نو بيا د استعارې جواز ته هېڅ اړتيا نشته. فيلسوفانو د وجود معنا او څرنګوالي ته د سواليې علامه ايښې. د ادب د زده كوونكي په حيث زه هم په دې اړه د فكر كولو دا حق لرم؛ چې د حيات او كاينات اسرار څه دي؟ اظهار څه دی؟ تخيل څه دی؟ شاعري څه ده؟ عروض څه دی؟ ويره څه ده؟ او استعاره څه ده؟

دا لومړنۍ خبرې ځكه اړينې دي، چې له مبادياتو پرته د شاعرۍ تصور ناشونی دی. ښه نو چې امكان نه لري، نو په كار ده؛ چې په يادو موضوعاتو باندې په وار – وار خبرې اترې وشي. كه شعر په خپل حالت نه دی پاتې نو دا بحث يوه لړۍ وګڼئ او په دې لړۍ كې د دغه زده كوونكی (زه) ور ګډ شوی دی، چې همدغه هم ورته غټه خبره ده. شاعري يو سمندر دی، د هغې په تشكيلي توكو باندې بحث كول دومره آسانه خبره نه ده، له ختيځه تر لويديځه د ادب لوی مفكرين په دغو مباحثو كې برخه اخلي، چې دلته هم د همدې خبرې پای نه دی:

د خبرو ور تر قيامته خلاص دی

(ولي)

د اصولو او شاعرۍ په اړه زياتول د لويو ذهنونو كار دی. انسان د ژوندانه په هر پړاو كې څه ناڅه زده كوي، چې دغه زده كوونكي هم د شعر د تشكيلي توكو په هر پړاو كې څه ناڅه زده كړل. دا مطالعه زما لپاره ډېره ګټوره تمامه شوه، ځكه چې زما پوهه ورسره ډېره شوه. كله هم چې له پوهو او هوښيارو خلكو سره څوک مخ كيږي، نو هغه د خپل جهالت احساس ډېر ښه كولای شي. زما په ليكنه كې چې هر څه دي؛ دا د هغو لويو فكرونو فيض دی، چې په لوستلو يې زه ددې وړ وګرځېدم؛ تر څو يوه دوه كليمې وليكلی شم.

دا ليكل زما د افهام او تفهيم پايله ده، كه څه هم د زده كونكي د زده كړې پر مهال نيمګړتياوې او خطاوې طبيعي وي، خو زه د حاسدو مشرانو پر ځای د هغو نظرخاوندانو په لټه كې يم چې نيمګړتياوې په ګوته كوي.

درنښت

معيد رشيدي



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استعارې راز

استعاره څه ده او د ادبي اظهار لپاره ولې اړینه ده؟ خو له دې مخکې باید دا وپوښتل شي چې ژبه څه ده؟ او دا ولې زموږ اساسي اړتیا ده؟ د دې ټولنیزې دندې کومې دي؟ آیا ژبه یوازې د غږونو لپاره ده؟ که نه، نو ولې؟ د لفظ او معنا اړیکه څه ده؟ د ژبني نظام له جوړښت، ترتیب او ارتقا څخه وړاندې د هغې د لیږد لاملونه څه ډول ول؟ جذبات څه دي؟ احساسات څه دي؟ د معنا د ادراک پیمانه څومره ده؟ په ادراک، تصور او تخیل کې فرق څه دی؟ د معنا اصل ته لاسرسی ممکن دی کنه؟ معنا زېږونه او معنا ټوکېدنه یعنې څه؟

مصحفي ما خو ګڼله داسې چې یو زخم به وي
دا ستا په زړه کې خو د پیوندېدو ډېر کار دی

خبره خو یوازې د استعارې وه، نو دا دومره پوښتنې بیا له کومه شوې؟ له دې داسې ښکاري چې استعاره کوم معمولي څیز نه دی.

ښه، ژوند څه دی؟ د ژوند په اړه د شاعرانو ډېر اشعار او د فیلسوفانو اقوال شته. لوی لوی مفکرین د هغه په پلټنه بوخت دي، خدای خبر څومره ذهینو فکرونو خپل توازن او انډول له لاسه ورکړی دی، خو بیا هم د هغه کوم څرک نه دی لګېدلی.

ځواب یې په یوه جمله کې دی:

ژوند څه دی؟

ژوند یوه استعاره ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښنايي څه ده؟ تياره څه ده؟ رښتيا څه دي؟ درواغ څه دي؟ اور، هوا، اوبه، خاوره او..... دا ټولې استعارې دي. لفظ له پيله شتون درلود او لفظ چې دی، نو خدای دی. معنا دا چې لفظ هم استعاره ده. ځينې خلک دا ادعا کوي چې استعاره له منځه تللې ده او بيانيه (وينا) بيرته رامنځته شوېده. خو د تجريدي شاعرۍ او کيسو زمانه اوس پای ته رسيدلې. هغه شپيتمه او له هغې را وروسته بله لسيزه وه، دا له اتيايمې لسيزې را وروسته ادب دی.
لومړی خو په دې نه پوهېږم چې له تجريد سره دومره ضد ولې؟ له علامت (سمبول) څخه ويره په څه؟ د استعارې په نوم اورېدو سره زړه ولې تنګيږي؟ استعاره خو کوم بد څيز او يا هم کومه اروا نه ده؟ زه خو له هغې ورځې وېرېږم چې د استعارې په اړه د فکر کولو واک به هم د انسان له لاسه ووځي. که داسې وشول؛ نو د تل لپاره به استعاره د مرګ په غېږه کې چوپه پاتې شي. د استعارې مرګ د دې دنيا تر ټولو بده پېښه ده.
فريډريچ نيچه (Friedrich Nietzsche) د خدای پاک د مرګ اعلان کړی ؤ(نعوذ باالله).
مرګ هيڅکله په خپل راتګ سره نه څوک پوښتي او نه هم د هغه د راتګ اعلان کيږي، خو د نيچه نفي، استعارې ته لا ژوند ور وبانښه. هغه لار نور هم د استعارې روح داسې وپاله؛ چې د هغه د ژوند او استعارې ترمنځ هېڅ توپير پاتې نه شو. له همدې امله هغه ليونی شو او د ژوندانه وروستني يوولس کاله يې (۱۸۸۹م-۱۹۰۰م) په ليونتوب کې تير کړل، په پايله کې يې استعارې ته تاب رانه ووړ او مړ شو.
استعاره د رسوايۍ وسيله ده، بيا نو د خبرو په بازار کې د دې بيه ولې لوړه ده؟ آيا موږ له استعارې پرته ژوندي نه شو پاتې کيدی؟ صنعتي انقلاب څه وخت لا پيل شوی دی، اوس يوويشتمه پېړۍ ده، ويل کيږي چې د ساينس او ټکنالوجۍ دوره ده. د فکر کولو نه، بلکې د معروضيت زمانه ده، د کړنې او تېرېدنې زمانه ده......
(تښته ! زمانه د قيامت په فريب کې لاړه)، په دې تېښته کې ولې څوک شاته وګوري؟ پر سپوږمۍ باندې کمندونه اچول شوي دي، دغه نوی نسل هلته خپلې ځالې جوړوي. د ساينس ځواکمنۍ اوس د هغې له روماني څهرې څخه پرده لېرې کړېده، نو آيا سپوږمۍ اوس د روزي استعاره نشي کېدی؟ يا هغه د مېنې په توګه نشو تعبيرولی؟
په کوچنوالي کې مو اوريدلي، چې هلته کومه بوډۍ اوسيږي، آيا د هغې پته به ونه موندل شي؟ آيا د چندا ماما رومان له منځه لاړ؟ د اختر مياشت اوس له لوړو غونډيو څخه نه؛ بلکې د الوتکې او دوربين په مرسته ليدل کيږي. آيا اوس په وريځو کې د آس بګۍ نه ښکاريږي؟ آيا هلته زمری او فيل نه دي پټ شوي؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ، دا رښتیا ده چې ستوري تقدیر نشي ټاکلی ! خو هر څومره چې له فطرت څخه را لېرې کېږو ، د هغه حسن بې خونده کیږي.
له نوې پېړۍ سره موږ په یوه نوې دوره کې را دننه شوي یوو. اوس له نویو بدلونونو سره مخامخ کیږو ، په دې دوره کې بهرنی حقیقت د منلو لپاره نوی فصل پرانیزي. خو بیا هم د حقیقت او مجاز تر منځ په سلګونو پردې شتون لري، ولې؟ په اوسني چاپېریال کې د تخیل پالنه او ساتنه ډېره ستونزمنه ده، سوداګریزې مفکورې ان ادب د پېر او پلور وسیله ګرځولې ده، سوداګریز یرغل د انسان ذهن دې ته اړ کړی چې ماشین ترې جوړ شي. خو ماشین استعاره نه شي خلق کولی، ماشین په قومنده کولو مصرعې را ویستلی شي، خو شعر نه شي ویلی.
انسان د جذبې په واک کې دی، کله چې هغه ته رنځ او درد رسیږي، نو د هغه دننه ننوځي، د هغه دننه نړۍ ودانېږي، هغه په یو ژور فکر کې اچوي او اړ کوي یې چې د ځان پېژندلو هڅه وکړي. په دغه عمل سره هغه د تجرید له دیوالونو او پولو څخه اوړي، چې همدا د استعارو نړۍ ده.
انتظار حسین شاید د دغسې موقع لپاره ویلي: (زموږ په تن کې دننه یوه تیاره لویه وچه ساه اخلي).
هر خیال یوه ځانګړتیا لري، ادراک په باور بدلیږي او په باور او خیال کې ټکر نه وي. انسان له تخیلاتو څخه خلاصی نه لري. ژبه د تخیل د احضار او اظهار وسیله ده. خیال یوازې د فطرت ورکړه نه؛ بلکې یو داسې عجیب څیز دی؛ چې له بهرنۍ او دننۍ نړۍ سره اړیکه ساتي، هر خیال د یو نه یو فاعل محتاج دی.
د منطقي بیان او خیال ترمنځ ډېر لېرې واټن دی، استعارې سره د منطق هېڅ تړاو نشته، استعاره ییز آشنا د خیال زیږنده دی:

خو چې بدن یې په لاس نه راځي
خیال لټوي یوه استعاره خامخا
(عرفان صدیقي)

د استعارې معما له روماني خوند څخه ډکه ده، دا هغه څیز دی چې ژوند ته نوې معنا وربخښي، خیال یو اساسي حقیقت دی چې بېلابېلې اړیکې لري، احساس د خیال په څهره



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خوځېږي او هر خيال په خپل ذات کې غير مادي دی، نو ځکه خو هغه نه موږ ليدلای شو، نه يې اورېدلای شو، نه يې څکلی شو، نه يې بويولی شو او نه يې هم لمس کولی شو.
خيال آزاد دی او شاعري له کليمو څخه نه، بلکې له تخيل، احساس او جذبې څخه منځته راځي. افلاتون پر دغو درېواړو څيزونو باندې، عقل او منطق ته ترجيح ورکوي. هغه له خپل (مثالي جمهوريه) څخه ځکه شاعران بهر و ايستل، چې ګواکې هغوی د جذبې په واک کې دي او بس همغه انځوروي.
افلاتون ځکه په شاعر باندې فلسفي ته ترجيح ورکړه، چې هغه تر فلسفي پر شاعرۍ ډېر کم پوهېده. په همدغه اساس هغه دا يو اصل وګرځاوه، چې شاعري او فلسفه ازلي دښمني لري. د فلسفې بنسټ پر عقل ولاړ دی، چې د انساني ذهن تر ټولو غټ صفت دی، حال دا چې شاعري د احساساتو او عواطفو تصوير دی.
افلاتون وايي:

- جذبه، د دې پر ځای چې انسان رښتينی او صالح کړي؛ د هغه ذهن سوځوي، نو ځکه خو د عقل لپاره زيان لري. شاعري د جذباتو او احساساتو پالنه کوي، حال دا چې د هغې دنده بايد د هغو کابو کول او د هغو مخنيوی وي.

معنا دا چې د جذبې حاکمېدو پر ځای د هغې محکومېدل په کار دي. شاعري احساس ته پياوړتيا وربخښي او ادراک ځنډوي. عقلمن غور او فکر کوي او په جذباتو کې ځان نه ډوبوي، په الهامي کيفيت يا وجدان باندې شاعر واکمن نه دی، د همدې لپاره د هغه حاکميت منل ناپوهي ده. (شاعر کله پيغمبر جوړېږي او کله ليونی، خو خپل شخصيت يې د دواړو تر منځ ځوړند پاتې کېږي).

افلاتون زياتوي: (شاعر نقال دی، هغه له نقل نه نقل راکاږي)، نو ګواکې استعاره هم يو ډول نقل شوه، ځکه چې هغه خو د شاعرۍ نه بېلېدونکې برخه ده.

افلاتون د مفکورو تعبير له رښتينولۍ څخه کوي، يعنې هره مفکوره هغه لومړنی، حقيقي او لافاني جوړښت دی، چې د هغې هر څه نقل دي او نقل هېڅ وخت د اصل مقابله نشي کولی.
(دلته د افلاتون مثالي نظريې ته اشاره ده: افلاتون فکر کاوه چې پر دې نړۍ ټول حقيقتونه د يوه اصلي يا لوی حقيقت کاپي او سيوري دی، موږ د حقيقت مفهوم پېژندلای شو، خو خپله حقيقت نه شو موندلای).


د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ته ورته په دنیا کې چې ځومره ځیزونه شتون لري؛ هغه مادي دي او د مادي په توګه ثانوي دي. د نظریاتو ژوند د هغو له زمان او مکان څخه ډېر اوږد دی، آن لافاني دی.
هغه علم رښتینی دی چې بنسټ یې پر صداقت ولاړ وي او صداقت له هغه روح سره اړیکه لري، چې لافاني دی. قانون د مادي او فاني خیالونو په وسیله نشي پلی کېدی. په نړۍ کې د یو قوم ځینې ځیزونه لکه د (افلاتون د هغو په شان پاینښت مومي، چې په دې ټولو کې ډېر لږ توپیر شتون لري. له دې نه هغه چا نتیجه اخستې؛ چې په یو توکم کې یو نه یو ځیز باید داسې وي چې تر ټولو ښه او کامل وي، یعنې له دا ډول ځیز نه لوړ بل هېڅ نه وي. همدا شان دغه آیډیل یا مثالي ځیز د لویانو د نړۍ په مثال کې شته (په مثالونو کې یو مثالي انسان، مثالي آس، مثالي څوکۍ او...... شتون لري. په نړۍ کې موجود هر انسان، آس او یا څوکۍ تر خپلو همجنسو غوره نه دي، ځکه ټول ځیزونه د خپلو مثالونو ورته برخې دي.
ددغه ډول استدلال منطق په ظاهره ډېر پیاوړی دی، خو په باطن کې بیا له منطقي حقیقت څخه ډېر لېرې دی. ځکه چې مثالي څهرې یا ځیزونه ټول د خدای مخلوق دي.
افلاتون د خپلې اسانتیا لپاره دا مفروضه ټینګه کړې؛ چې په نړۍ کې ځومره ځیزونه دي، د هر ځیز یوه مثالي څهره خدای جوړه کړېده او رښتیا هم یوازې د یوې مثالي څهرې امکان شته. هغه د پالنګ(کټ) مثال ورکوي.
د کلیم الدین احمد په وینا ؛ تاسو د پالنګ پر ځای غوا ته ځیر شئ؛ ځکه چې مصور یوازې د کټ ساری نه دی جوړ کړی. کلیم الدین احمد د غوا او ګل د مثال په وسیله نه یوازې د افلاتون نظریه رد کړې، بلکې خبرداری یې هم ورکړی، چې د مشرانو د نظریو تر مفروضې لاندې د فیلسوفانو مفکورې بدلون مومي. ځکه چې غواګانې په څو ډولونو او څو رنګونو کې وي. (سپینه، توره، خړه، برګه، چاغه، ډنګره، ښکروره، بې ښکرو او .... مینبه او میښ یا سنډا ) هم له همدې ډلې څخه دي. ښه نو ، که چېرې خدای یوازې د یوې مثالي غوا په رامنځته کولو قادر دی؛ نو بیا دا دومره ډول ډول غواګانې له کومه شوي دي؟ نو معنا دا چې هره غوا خدای پیدا کړې ده.
د هغه مطلب دادی چې (خدایج هم د ترکاڼ په شان نقال دی (نعوذ بالله)، چې د خپلو مثالي ځیزونو بڼې یې په مختلفو ډولونو جوړې کړې دي). چې خدای دا غواګانې نه دي جوړې کړې، نو بیا چا کړې؟ مصور خو نه دي کړې. آیا پرته له خدایه بل هم څوک خلاق شته؟ آیا خدای کوم نایب لري چې د هغه مثالي څهرې جوړوي؟ (نعوذ بالله)



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له ګل نه يې را ونيسئ ! که چېرې د ټولې نړۍ د ګلانو يوازې نومونه په يو لړليک کې را غونډ شي، نو يو ډبل کتاب ترې جوړېږي. افلاتون وايي چې خدای يوازې يو مثالي ګل رامنځته کړی دی. ښه نو ؛ دا زرګونه ډوله ګلان بيا له کومه شول؟ دا نقالي چا وکړه؟

افلاتون فلسفي دی، ځکه خو هغه پر شاعرۍ باندې فلسفه لوړه ګڼي، هغه تعقل پال دی. هغه د شاعرۍ او حقيقت ترمنځ هېڅه تړاو نه مني. د هغه له نظره، شاعري د حقيقت نقالي نه، بلکې له نقل څخه نقل دی.

دلته دوه ځانګړې موضوع ګانې مخې ته راځي:

۱- شاعري، وجدان يا حقيقت

۲- د شعري نقل څرنګوالی

دا چې له شاعر سره يې د خپلې شاعرۍ واک او صلاحيت نه وي؛ پر هغه باندې د پرښتو سيوری پروت وي او کله چې هغه په شعر ويلو راځي، نو القا يې د شاعرۍ پرښته ورته ډالۍ کوي او هغه ته الهام کيږي.

دا خبرې بلکل بې ځايه دي، شاعر هېڅ وخت مجنون يا ليونی نه دی، هغه هېڅ وخت د عقل له نعمت څخه نه دی محروم، شاعري تخيلي تجربه ده، چې پکې د ځيرکۍ او مميزه ځواک ستر لاس دی.

شاعري او حقيقت داسې يوه موضوع ده، چې ظاهر پالو پکې، ساده ګان ښه را ايسار کړيدي. حقيقت څه دی؟آيا همغه چې را ته ښکاري؟ يا هم همغه څه چې موږ ورته لاس رسی نه لرو؟ که چېرې هر لېدلی څيز، يعنې هر هغه څه چې په سترګو لېدل کيږي؛ حقيقت وي، نو خدای ددې دنيا تر ټولو لوی درواغ دی(نعوذ بالله).

د احساساتو او پارېدنو يادونه څه ده؟ حقيقت هم يو ټکر کونکی شی دی، مجاز د حقيقت ضد دی، خو دا هم بيا همغومره حقيقي دی. دا نړۍ، يا دا ژوند هغه سکه ده؛ چې يو اړخ يې حقيقت او بل اړخ يې مجاز دی، چې د نړۍ شتون سره د دغو دواړو شتون حتمي دی.

شاعري ددې نړۍ لوی حقيقت دی، دا ټوکه نه ده، تخيلي تجربه ده. له شاعرۍ څخه کرکه حماقت او ناپوهي ده. لېرې ترې مه تښتئ ! نه هم ترې وويريږئ !

حقيقت څه دی؟ حقيقت د ډنډورې وهلو په شان کوم څيز نه دی، لکه څنګه چې په انقلاب-انقلاب ويلو انقلاب نه راځي. همدغسې د حقيقت خوښوني يا حقيقت ليکنې تر عنوان لاندې د حقيقت پوهاوی نشي کيدی. هغه خلک چې يوازې همدا ډول شعارونه يې ټينګ



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، هغوی بس همغه کوچني- کوچني حقایق چې د دوی مخې ته راځي، هغو ته غاړه ږدي او هغه لوی حقیقت ته یې د رسېدو توان نشته او یا هم وربانديې سترګې پټوي، چې د ژوندانه په راز کې پټ دی؛ هغه راز چې پوره او ژوره داخلي تجربه ده او همدغه تجربه ده چې د استعارې تخلیق ته بنسټ جوړوي.

استعاره د مجاز یو ډول دی، بیا نو مجاز څنګه حقیقت جوړېدای شي؟

دا پوښتنه هغه خلک اندېښمنوي چې حقیقت یوازې د چرګې هګۍ ګڼي. خو دا چې په هګۍ کې دننه یو څوک ساه اخلي، تر هغه ځایه پورې د هغوی لید کار نه کوي. د هغوی په فکر حقیقت یوازې د چرګې هګۍ نه، بلکې د بزګر سپاره، د مزدور ټوکرۍ، د موچي څپلۍ او د دوبي(کالي مینځونکي) خر دی.

یوې ټولنې ته یو سیاسي مشر هم ګوري، یو مذهبي واعظ هم ګوري او یو ټولنیز مصلح هم همدغسې درواخله. خو د دوی او د یو هنرمن د لید تر منځ بیا یو څه توپیر شته او مجروح صاحب هم څه لیونی نه ؤ چې داسې خبره یې کوله:

د رڼا مشعل جانه مورِ جنون صفته لاړو
چې کورته یې اور واچاوه هغه هم راسره لاړ

مجروح صاحب څومره د پرمختیا غوښتونکی دی؟ هغه د اورلګولو خبره کوي.

د کور سوځول خو د بورژوا ډلې دسیسه ده، ډېر ناسم او غیر انساني کار دی. زه نه پوهېږم چې د (مشعل جان) د ترکیب مفهوم به د حقیقت په کوم قاموس کې وموندل شي؟

بیا چې میر صاحب دا شعر ووایه:

ځیر شه ! له زړه که له تن نه را پورته کیږي
دا لکه لوګی له کومه را پورته کیږي

نو هغه په رښتیا هم د دې لپاره مجنون یادیږي، ځکه هغه ته دومره هم پته نه وه چې لوګی له زړه یا له تن څخه نه؛ بلکې له نغري را پورته کیږي. د نړۍ نابغه، غالب شاید د همدغسې خلکو لپاره ویلي: (دا خلک د تیرو وختونو دي، هغوی ته هېڅ مه وایئ ! ځکه چې هغوی شراب او نغمې ته، غم او سود وایي). که تفهیم او تعبیر په دې توګه وي، نو استعاره به بې مرګه ومري.

اصلي خبره داده چې په حقیقت کې بدلون واک لري، یعنې حقیقت په بدلون پورې تړلی دی او بدلون د ارتقا کیلي ده. ادب هم حقیقت دی، خو حقیقت بیا کومه هنداره نه ده، چې څوک دې په یوه ساه اصرار وکړي چې ادب د ټولنې هنداره ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنداره چې څه ویني، هغه ښکاروي. خو حقیقت یوازې هغه نه دی چې موږ یې د مخ په سترګو وینو. حقیقت په هر ځای کې یو ډول نه پاتې کیږي. دوه او دوه څلور کیږي، چې همدا حقیقت دی. خو د غالب دا وینا: (سړی تر خپل برېده د خیال محشر دی) هم حقیقت ده. کېدای شي د خیال محشر پر ترکیب باندې څوک ونه پوهیږي، نو داسې خلک به په رښتیا هم غالب ته لیونی ووایي؛ چې هغوی د خلوت تعبیر له ټولنې څخه کوي. نو حقیقت یوازې سیاسي، ټولنیز او اقتصادي نه وي. دا خدای خبر له څومره برخو څخه جوړ شوی دی.

دلته محمد حسن عسکري خپل نظر ځرګندوي:

- ساینس پوهانو ایله اوس د اټوم بم ماتولو او له منځته وړلو چاره موندلې ده، خو هنرمن له لومړۍ ورځې همدا کار کوي، هغه د دې لپاره د حقیقت جوهرونه تالا والا کوي څو یو نوی حقیقت را جوړ کړای شي.

د ټولنې هنرمن، نه بې زاره کیږي، نه زړه توری کیږي او نه هم مولوي ترې جوړیږي، چې وعظ وکړي او ویره واچوي. د شاعرۍ د هنر لپاره تر اخلاقي او ټولنیز حقیقت نه ډېر احساساتي حقیقت ته اړتیا ده. شعري نړۍ د محسوساتو نړۍ ده، ځکه خو هنرمن ته په کار ده چې ورځپاڼه نه؛ دیوال ولولي. دلته له خبر اورېدو نه ډېر، ناخبرۍ ته اړتیا ده. که څوک دغه ناخبري نه شي محسوسولی، نو هغه دې په خپله له ځانه ګیله وکړي او همدا ناخبري چې ده؛ د ناپېیلتیا اصول یې پیاوړي کوي.

شاعري هېڅ وخت د شخصیت ځرګندولو په معنا نه ده، هغه بس د تجربې د اظهار په معنا ده او تجربه د خپل ماهیت په ډاډ د یوې اساسي ځانګړنې زیږونکې ده. دا سمه ده چې شاعر یا کوم هنرمن ډېر حساس وي، خو هغه له هرې خبرې څخه نه اغېزمن کیږي، یوازې پر هغه باندې شوی اغېز د هغه جذبات پاروي. خو د تخلیق کوونکي بریا په دې کې ده، چې هغه د خپلو اغېزو او احساساتو د بهیر په سملاسي پایلو کې، را پیدا شوې ناترتیبه ادب ته ترتیب او تهذیب ورمومي او هغه په خپلو تجربو کې تحلیل کړي.

شاعري د غوره جوړښت او تنظیم په معنا ده، چې ددغه تنظیم لپاره د تجربې تهذیب اړین دی او دا تهذیب له سملاسي اغېزو څخه نه رامنځته کیږي. د همدې لپاره د شخصي او هنري تجربو تر منځ باید یو واټن شتون ولري.

ولیم ورډ زورت وایي: (شاعري د هیجان یا اضطراب پر مهال نه؛ بلکې د سکون پر وخت را ځرګندیږي). د هغه مطلب دا دی، چې له کومې پېښې نه سمدلاسه په راځرګندو شویو احساساتو کې غور، د څه وخت له تېرېدو څخه وروسته را پیدا کیږي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپېيلتيا د ذهني او زماني واټن په معنا ده، چې ناخبرۍ ته د ودې ځواک وربخښي، دغه ناخبري او ناپېيلتيا د استعارې په جوړښت کې ممد او مرستندويه دي او دا هغه څه دي چې د استعارې د معنا خزانې ته طلسم جوړوي.
د خبرو له دې لړۍ څخه موخه داده، چې شعري حقيقت دا نه دی، کوم چې مونږ ورسره هره ورځ مخ کېږو. د عام حقيقت او شعري صداقت تر منځ توپير شته، چې دا توپير تر ټولو مخکې ارسطو په ډاګه کړی دی. کله چې هغه بوطيقا کتاب چمتو کړ، نو د ژبې پر مجازي اړخ يې هم خپل نظر څرګند کړ او په همدې توګه د استعارې پر ماهيت باندې تر ټولو وړاندې ارسطو قلم را اوچت کړ او هغه يې د شاعرۍ ښکلا وبلله.
د نقل په بحث کې هغه له شاعرۍ نه په ملاتړ سره استعاره هم پر ځای وګڼله، د هغه استعاروي تصور د شرحې او پراختيا وړ دی. خو تر دې وړاندې مونږ د لږ څنډ لپاره پښېمانه شوي وو، ځکه چې تر اوسه لا د افلاتون له پلوه چې کومې پوښتنې مطرح شوې وې؛ پر هغو باندې پوره خبرې اترې ونه شوې.
د عام او شعري رښتينوليو تر منځ د توپير سره په دې خبره اعتراف اړين دی، چې شعر د دننه آواز دی او دغه دننه نړۍ ډېره له اسراره ډکه ده، چې له هغې سره د مصاحبې لپاره تر ادراکه ډېر شعور ته اړتيا ده.
شعور کوم آسماني څيز نه دی، د هغه تومنه له بهرني او دنني اوږده ټکر څخه را ټوکېدلې ده، دا د هغه انسان ميراث دی چې په لومړي ځل يې خپل ځان يوازې محسوس کړ. همدغه احساس د نابشپړتيا او بې باورۍ پر مهال د خيال ځيرکه څېره خپلوي او د تخليق نړۍ ته ترې کولمبوس جوړيږي.
دا نړۍ د اقبال د دغې مصرعې تعبير دی: (دم په دم د کن فيکن غږ راځي) د کن فيکن غږ په دغه پرلپسې شور کې د يو راز يو جز هم و پالئ، يا په خپل وجود کې دننه د هغه احساس را وپاورئ. دا ډېره ښه او لطيفه تجربه ده، چې د روماني او ښکلا پېژندنې له کيفيتونو سره ژور تړاو لري. دا تجربه د انقباض له پړاوونو تيريږي او د انبساط احاطې ته ورننوځي.
افلاتون ځکه شاعران ملامتوي، چې هغوی د جذباتو پالنه کوي، خو خبره يوازې د جذبې او احساساتو نه ده، خبره دا ده چې د هغه په اند شاعران له آسماني (الهامي) ژبې څخه هم استفاده کوي. ځکه چې د هغې په وسيله يو بل ځوک (د شاعرۍ ښاپيرۍ يا الهام راوړونکې پرښته) خبرې کوي. نو يوازې له نقل نه د نقل خبره له منځه نه ځي، دا په ژبه باندې يو لوی بريد هم کېدی شي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه داده چې آیا استعاره هم نقل دی؟
دلته افلاتون ته ټینګ ځوابي ټکان ورکول کیږي، زمری مورږ د یو زړور سړي استعاره ګڼو، خو د ځناور صفت د انسان صفت سره همغږی کول، د افلاتون په قانون کې نشته. دا ځکه چې انسان ته ځناور ویل له اخلاقو او عقل څخه لیرې کار دی او له همدې امله د افلاتون په پریکړه استعاره له منځه ورتلل شوه. که ژوند له سراب سره او یا شونډې د ګلاب له پاڼو سره تشبیه کول غیر عقلي سلوک دی او له څرخ یا اسمان څخه د زمانې مراد، غیر حقیقي بیان دی، نو د اظهار په واکمنۍ کې د استعارې بقا ناشونې ده.
ربښتیا داده چې مارسټن مورس(Marston Morse) یې وایي:

- (په شاعرۍ کې عقل واکمن نه، بلکې نوکر وي).

افلاتون ولې شاعري کمه وبلله؟ که څه هم لامل یې څرګند شو، خو نچوړ یې دا دی، چې هغه د شاعرۍ پر ماهیت باندې په پوره توګه نه پوهېد. تر یو څه حده پورې د هغه شاګرد ارسطو د هغه ځواب ویلی. د یونان د فلاسفې په تثلیث کې ارسطو تر ټولو ډېر د لیوالتیا څلی دی. هغه د فلسفې او ادب په اړه ځینې بنسټیزې پوښتنې را ولاړې کړلې. هغه افلاتون په ډېرو برخو کې رد کړ. هغه شاعري د نقل نه نقل، پر ځای یوازې نقل وبلله او د هغې لپاره یې Mimesis کلمه وکاروله. نقل یې هم په واقعیت باندې تعبیر کړ. چې په اساس یې دا خبره په عامه سطحه وغځېده. د جذباتو او احساساتو په پلوی یې د نفس پاکوالی(Katharsis) اصطلاح وکاروله، چې د فاسدو خیالونو او مضرو جذباتو د اصلاح دنده لري؛ نه د جذباتو او احساساتو د پالنې.
هغه د ژبې پر استعاراتي اړخ باندې هم رڼا واچوله، دلته د شاعرۍ پر ماهیت باندې د پوهېدو سره سم د بحثونو ځینې دروازې خلاصیږي او ځینې لړۍ هم پر همدغه ځای پای ته رسیږي. ارسطو د Poetics په پنځویشتم څپرکي کې د خپلو څرګندونو بنسټیزو اړخونو ته په پام سره درې مهم څیزونه په ګوته کړي دي او د هغو تفهیم یې هم په درې برخو کې کړی دی:

- The poet being an imitator just like the painter or other maker of likenesses, he must necessarily in all instances represent things in one or other of three aspects, either as they were or are, or as they are said or thought to be or to have been, or as they ought to be.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- All this he does In language, with an admixture, it may be, of strange words and metaphors, as also of the various modified forms of words, since the use of these is conceded in poetry.
- It is to be remembered, too, that there is not the same kind of correctness in poetry as in politics, or indeed any other art.(7)

ژباړه:

- ۱- شاعر مقلد وي، سم لکه نقاش يا هغه ته ورته صانع (جوړونکی). هغه چې په کومه برخه کې يو څه څرګندوي يو له دغو دريو اصلونو پکې وي:
  - یا دوی ول او یا دي.
  - بله دا چې دوی ویلي او یا ګمان کيږي، چې دوی به وي او یا به شتون و مومي.
  - یا هم دا چې دوی باید همداسې وي.
- ۲- دا ټول هر څه چې هغه يې په ژبه کې کاروي، کېدای شي په دې ترکیب کې نا آشنا توري او استعارې وي او يا هم د کلمو مختلفې بڼې پکې وي چې پخوا یې لا په شاعرۍ کې استعمال منل شوی دی.
- ۳- د يادولو وړ ده، چې د سياست په شان په شاعرۍ کې د الفاظو سمون هېڅ وخت سره ورته نه وي او يا هم بې له شکه په کوم بل هنر کې.

د پاسنيو څرګندونو پر اساس، ياده نظريه واقعي ده.

ارسطو شعري نقل د انساني اعمالو نقل بللی دی. دا اعمال هېڅ وخت د غړو له حرکاتو څخه نه دي عبارت، بلکې هغه خوځښت ته وايي چې هغه له ژوند څخه عبارت دی.

د دغه خوځښت پر اساس هغه، Mimesis له زړه او نقل څخه نه دی ګڼلی. په دغه خوځښت کې د واقعاتي (د پيښېدو وړ) حالت د استعارې د تخليق سرچينه ده.

د مخکنيو يادو نظرياتو لومړنۍ برخه په دې مشتمله ده چې د نقل درې اصلونه دي. معنا دا چې له دغو دريو څخه يو طريقه خپلېدای شي:

يوه دا چې؛ څيزونه شته يا يې شتون درلود. دوهمه دا چې؛ هغه وويل يا پوهول کوي، دريمه دا چې؛ هغوی باید همداسې وي.

په دوی کې دريمه طريقه (څيزونه بايد همداسې وي) د تخليقي ادب کيلي ده. دا چې ژبه د اظهار وسيله ده، نو د همدې لپاره په دې دريمه طريقه کې د ژبې آزادي جايزه ده. دلته د ژبې مجازي اړخونه په پوره توګه کارول کېدی شي. نا آشنا لفظونه، استعاره، کنايه، تشبيه،



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمثیل، مبالغه او یا نور د موضوع اړوند ژبني توپیرونه او بدلونونه سم له مخې راوړل کېدی شي، چې اطلاق او کره والی یې په هنري غوښتنو او اړتیاوو پورې تړاو لري.

آس یو ځاروی دی، هغه ته خلک څلور پښې وایي. معنا دا چې هغه دوه پښې مخکې او دوه شاته لري، که د هغه څلور واړه پښې په هوا کې را ځوړند وي او یا څلور واړه پښې یې مخې ته وي، نو د هنري اړتیاوو له پلوه ناسمې نه بلل کیږي. په ساینس او طب کې به دا عیب او غلطي ومنل شي، خو په ادب کې د تخیل داسې آزادي شته، چې په څیزونو کې توپیر او بدلون رامنځته کړای شي. دلته د تخلیق کوونکي په ذهن کې دا ټکی وي چې له هنري اړخه به هم څیزونه همدغسې کېدی شي. ارسطو له آس سره د هوسۍ مثال هم ورکړی، هوسۍ ښکرونه نه لري، خو که په کوم تخلیق کې هغې ښکرونه وموندل، نو دا تر هغه وخته فني غلطي نه بلل کیږي، تر کومه چې د فني غوښتنو پر خلاف نه وي. له دې نه مطلب دا دی، د تخلیق لپاره اړینه نه ده چې هغه دې له زړه او نقل څخه وي.

که چېرې تخلیق کټ مټ نقل وای، نو د هوسۍ ښکرور تصویر هېڅ امکان نه لري او د آس څلور واړه پښې مخې ته، د دې فکر به هم چا نه کاوه.

استعاره ناشونتیا ته د شونتیا بڼه ور په برخه کوي، د ورځنیو چارو په نړۍ کې که دغسې څه وویل شي، نو هېڅ مراد نشي ترې اخېستل کېدای، خو د استعارې په نړۍ کې یې امکان شته.

په دغه حقیقت کې مور زړښت (بوډا توب) ته مابښام نه شو ویلی؛ که چېرې مور غواړو چاته ووایو چې دا ستا بوډاتوب دی او د دې پر ځای داسې ووایو چې دا ستا مابښام دی، نو معنا یې له کوم ځایه کوم ځای ته لاړه، حال دا چې زړښت د ژوند مابښام دی.

د آس او هوسۍ مثالونه مو په مخکې دي، نو ویلی شو چې استعاره د تخیل د آس څغلولو په معنا ده.

تخیل څه دی او هغه له استعارې سره څه تړاو لري؟ دا یو بدیهي حقیقت دی چې ادبي تخلیق له تخیل پرته ناشونی دی، معنا دا چې استعاره هم د تخیل محتاجه ده. تخیل په لاسته راوړل شویو موادو کې ترتیب رامنځته کوي.

کولرج، تخیل د فن پارې (هنري ټوټې) روح ګڼي، خو حالي بیا د تخیل تعریف داسې کوي:

تخیل یو داسې ځواک دی، چې د معلوماتو ذخیره، هغه چې د تجزیې یا لیدنې په وسیله مخکې له مخکې په ذهن کې راټولیږي، هغه په مکرره توګه ترتیبوي او یوه نوې بڼه وربخښي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولرج دې نوې بڼې ته د ثانوي تخيل (Secondary imagination) نوم ورکوي.
چې وايي:

It(secondary imagination) dissolves, diffuses, dissipates in order to recreate( .

ژباړه: دا (ثانوي تخيل) تحليلول، خپرول او ګډوډول دي، په نوي ترتيب يا نظم سره د رامنځته کېدو په موخه.

له دې نه داسې اقتباس کيږي:

دا هغه ځواک دی چې شاعر د وخت او زماني له قيد څخه آزاد وي او هغه، تېر او راتلونکی د حال په زمانه کې را حاضروي. هغه د آدم او جنت تېر حال او د حشر او نشر بيان په داسې توګه کوي، چې ګواکې ټولې پېښې يې په خپلو سترګو ليدلې دي او هر څوک ترې داسې اغېزمن کيږي، لکه يو رښتينی بيان چې وي. په هغه کې دا پياوړتيا شتون لري، چې د پېرې او پرښتې، وريځو او اوبو او همدا راز د حيوان په شان فرضي او معدوم څيزونه، له داسې معقولو اوصافو سره انځور کړي، چې تصوير يې د سترګو په وړاندې سم ګرځي راګرځي.

کومې پايلې چې هغه را وباسي، د منطق قاعدو سره سمون نه خوري، خو کله چې زړه له خپل معمولي حالت څخه لږ څه پورته کيږي، نو بلکل پر ځای معلوميږي.

خو د تخيل دغه تعريف په اصل کې د توهم (Fancy) تعريف دی. توهم د يادښت يو داسې عمل دی چې په هېڅ يوه پايله باندې ټينګار نه کوي. دا بېله خبره ده چې حالي د توهم او تخيل ترمنځ توپير ونه شواى کولی. خو هغه په اردو ژبه کې لومړنی شخص دی چې په ادبي تنقيد کې يې تخيل د تخليق لومړی شرط بللی او د هغه له تفصيل سره سره يې د هغه پر ماهيت باندې پراخې خبرې اترې کړې دي.

استعاره د تخيل رامنځته کېدل دي، وهمي يا خيالي ځواک د استعارې د تخليق محرک دی، دا هغه ځواک دی چې د څيزونو ترمنځ تړاو پيدا کوي او انسان ته د فطرت لويه ورکړه ده.

د تخيل په دغه لړ کې د درې بنسټيزو اصلونو وضاحت اړين دی: (احساس، جذبه او تصور). د دوی او تخيل ترمنځ توپير شته دی:

- د درد شدت، د هوا څپې او د اور تاو، يوازې محسوسېدلی شي.
- غوصه، رحم او وېره د ذهن بېلابېل حالتونه دي چې جذباتو پورې اړه لري.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ذهن کې د هغو شیزونو تصویر راوړل، چې له سترګو ځخه پناه شوي وي، تصور دی.

په تخیل کې د پنځوني صفت شتون لري. دا چې تصور د حقیقت انځور دی، نو تصور ته Mimesis او تخیل ته imagination ویل کیږي.
ارسطو د Mimesis تعریف د imagination اصطلاح له استعمالولو ځخه پرته د هغو د یو ځای کولو هڅه کړې ده.
واقعیت یا امکاني حالت هم د تخیل له ټولګي ځخه دی، نو همدا لامل دی چې د ارسطو تعریف اوس هم د پام وړ دی. د امکاني حالت ریښه یا اړیکه له استعارې ځخه ده، دا هغه بنسټ دی، کوم چې ارسطو وربانديې د استعارې تعمیر کېښود.
لونجاینس (Longinus) استعاره د شاعرۍ لپاره د سنګار سامان ګڼي، په داسې حال کې چې ارسطو استعاره د کلام جوهر بللې دی. شمس الرحمن فاروقي بیا ډېره ښه خبره کړې ده:
(له دې نه داسې بریښي چې استعاره یوازې د سنګار یا ضمني وړ شیز نه، بلکې یو فلسفیانه حقیقت دی).
تر ډېره حده د استعارې دغه تصور لږ مخکې د کولرج او ورډز ورټ په وسیله د روماني غورځنګ بنسټ جوړیږي او پر همدغه بنسټ کولرج د لویدیځ تنقید په تاریخ کې د تخیل خپله نامتو نظریه وړاندې کوي، چې شاعري نقل نه، بلکې تخیلي تجربه ده.
ارسطو د استعارې له تعریفولو سره وایي:

Metaphar consists in giving the thing a name that belongs to something else.

ژباړه: د بدلون په وسیله د یو نا آشنا نوم اطلاق ته، استعاره وایي.

ارسطو د استعارې په اړه څلور مثالونه وایي:
۱- زما کښتۍ دلته ولاړه ده.
۲- دا رښتیا ده چې اوډي سیوس لس زره لویې کارنامې لري.
۳- د ژېړو تورې زړه راوویست.
۴- کښتۍ اوبه شیرولې(بوطیقا، ۲۱ باب).



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڅېدل، کښېناستل او درېدل د ژوند يو صفت دی، څملاستل يا غځېدل، کښېناستل او درېدل د انسانانو کار دی. کښتی لنګر اچوونکې ده، په مثال کې لنګر اچوني ته ولاړه ويل شوي دي، چې دا د بيان د ښايست لپاره استعاره کارول کيږي.

د اوډي سيوس کارنامې هم لس زره نه دي، خو له لس زرو څخه مراد د شمېر ډېروالی دی. توره زړه نه باسي، د هغې کار څيرول دي. همدغه شان کښتی اوبه نشي څيرولی، دلته د اوبو څيرول، له مخې نه د اوبو لېرې کولو په معنا کارول شوي دي، چې د بيان دغه متبادلې بڼې استعارې دي.

د ښکلو استعارو کښنه د هر چا له وسې وتلې خبره ده، هيڅوک نشي کولی چې د نويو او نادرو استعارو تخليق کول له چا نه زده کړي، دا د انسان په فطري استعدادونو پورې تړاو لري. (بوطيقا، ۲۲ باب).

د ارسطو دغه مفکوره تر اوسه پورې نه رد کړای شوه او نه هم په هغې کې زياتوالی او يا کموالی راغلی. د ژبې استعاراتي نظام په څه او ولې ترتيب شو؟ د دې پوښتنې ځواب د انساني تاريخ له هغه لومړني عصر څخه پيليږي، چې انسان په اشارو خبرې کولې.

اشاره څه ده؟ اشاره هم له دې ډلې څخه يوه مفروضه ده. زموږ په ژوند کې د مفروضې اهميت څه دی؟ مفروضه مجاز دی که حقيقت؟ دا هم د هغې پوښتنې په شان ده، چې لومړی چرګه وه او که هګۍ؟ بلاخره تر دې راورسېده چې انسان تصور کول زده کړل. کله چې مو پورته وکتل نو تصور مو وکړ، چې هغه عرش يا اسمان دی او چې ښکته مو وکتل نو تصور مو وکړ، چې دا فرش يا زمکه زموږ لپاره غوړېدلې ده، همدغه زمکه کله چې لوړه را تر سترګو شوه، نو د غر نوم مو ورکړ. روانو اوبو ته مو سيند ووايه او په همدغه ډول مو هر څه ته د پېژندګلوۍ لپاره نومونه غوره کړل.

د مفروضاتو لړۍ دايمي ده، کله چې مفروضه هرې ورځې ته ځانګړې کيږي، نو د هغې استعاراتي معنويت کميږي. له همدې امله هره نوې استعاره د انسان د ژوندي کېدو نخښه ده.

د همدغه بحث په پيل کې ما د فريډريچ نيچه حواله ورکړې ده، هغه په دې فکر دی:

Life would be strictly unthinkable without conceptual Fictions such as time, space, and identify which we impose upon the world.

ژباړه: ژوند شايد له تخيلي کيسو پرته ناشونی وي. لکه، وخت، فضا او پېژندنه يا معرفت. هغه چې موږ يې د نړۍ پر مخ ناوړه کاروو.



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ نه جنت لیدلی او نه دوزخ، خو بیا هم د هغو په اړه موهوم او خیالي فکرونه رامنځته شویدي. مفروضه په ژوند کې څنګه بار زغملی شي؟ د مفروضې اطلاق ولې اړین دی؟ فریډریچ نیچه چې د استعارې په اړه د خپل تصور تفصیل ورکړی، نو په همدغه اړوند Lee spinks داسې لیکلي:

(Nietzsche) broadens his argument by claiming that all of the concepts we empty to represent the (true) structure of the world- suchs (space, time, identify, causality and number- are metaphors we project on to the world to make it thinkable in human terms.

ژباړه: نیچه، د دې ادعا په اساس خپل دلیل څرګندوي، چې ټول دا عقیده لري چې موږ ناتوانه یوو، تر څو د نړۍ حقیقي جوړښت را څرګند کړو. لکه (فضا، وخت، پېژندنه، علیت او شمېره .....) استعارې دي. موږ په نړۍ کې هغه طرحه کوو، تر څو د انسانیت لپاره هغه شوني کړو.

مفروضه خو فکشن (خیالي کیسه) ده او فکشن تر هغه وخته بې معنا دی، تر کومه چې تر یوې مفروضې لاندې ورته معنا ورنکړو. څومره چې موږ په لویو حقیقتونو د پوهېدو هڅه کوو، نو هومره ولې هغه مبهم ګرځي؟ دا ځکه چې هر حقیقت په خپل ځان کې نامحدود اړخ لري او دغه نامحدود اړخ تل مبهم وي. کله چې د فاني ژوند په مفهوم ونه پوهېږو، نو هغه ته معما یا د لیوني خوب وایو.

تشه، وخت، پېژندنه او شمېر دا ټول تجریدي تصورات دي، دا هغه ژورې او لویې استعارې دي، چې له هغو پرته د ژوندانه تفهیم ناممکن دی.

په اردو کې د استعارې پر ماهیت باندې د غور، فکر او څرګندونو دود لا نه دی عام شوی، اوس په اردو کې د تنقید دنده د نظریاتو تفهیم او تعبیر دی. که په همدغه وخت کې یو مبتدي د تنقید لوستل یا لیکل پیلوي، نو خامخا د هغه په ذهن کې دا پوښتنې راګرځي، چې پرمختیا څه ته وایي؟ نوښت څه دی؟ د نوښت د مابعد تعریف څه دی؟ ادب د ټولنې هنداره ده یا که د ژوند تنقید؟ حال دا چې د ادب پر ماهیت باندې له پوهېدو پرته نور تصورونه څه په کار دي؟

زموږ اوسني کره کتونکي د لفظ او معنا پر اړیکو باندې د غور کولو زیار نه ګالي. هغه د متن د اسرار روښانولو لپاره هېڅ کله دا پوښتنه نه کوي چې سیاق څه ته وایي؟ د معنا



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرچینې کومې دي؟ د تشبیه ندرت په چا کې دی؟ د استعارې ماهیت څه دی؟ سمبول ولې رامنځته کیږي؟ تمثیل له بیان سره څه تړاو لري؟ په ادب کې مبالغه ولې ضروري ده؟ د علامتونو (نښونښانو)، نقشونو او څېرو ارزښت څه دی؟ اوسنی کره کتونکی دا ټینګار کوي چې په شاعرۍ کې باید شعریت شتون ولري، خو هغه د شعریت په توکو او د هغه پر محتویاتو باندې خبرې نه کوي.
زموږ په ادب کې د حالي، شبلي، محمد حسن عسکري، کلیم الدین احمد، شمس الرحمن فاروقي، ګوپي چند نارنګ، وارث علومي، شمیم حنفي او قاضي افضال حسین په شان ډېر کره کتونکي شته؛ چې د ادب د تیوري پر بنسټ باندې د غور کولو، د اطلاقي نمونو وړاندې کولو او د هغو شونتیا ته په خپلو لیکنو کې د راوړلو همت کوي.
ځینې خلک به دا وايي، چې موږ د استعارې د ارزښت په اړه اعتراف کوو، خو خبره دا ده چې ولې په دې ستونزه کې ځانونه ښکېل کړو، د استعارې مسأله دې اهل بلاغت پر مخ یوسي.
استعاره خو داسې کوم ستونزمن څیز هم نه دی چې د هغې تعریف یا تفهیم دې ستونزمن وي.
د عروض او بلاغت کتابونه د استعارې په اړه وروستۍ خبره کوي، که چېرې دا خبرې پر ځای وي، نو د خپلو لوستونکو ذهن او پام ددغې وروستۍ خبرې په لوري را اړوم:

استعاره لغوي مجاز دی، یعنې د استعارې کلمه چې د کومې معنا لپاره رامنځته شوې، د هغې په نا آشناتوب کې کارول شوېده، البته د ورته والي په تړاو. (حدایق البلاغت)

که د حقیقت او مجاز تر منځ د تشبیه اړیکه وي، نو دا ډول مجاز ته استعاره ویل کیږي. په استعاره کې مشبه به (له هغه څه نه چې تشبیه ورکول کیږي) عیناً مشبه (په هغه څه چې تشبیه ورکول کیږي) ګڼل کیږي. خو کله بیا د دواړو د مناسباتو او صفاتو یادونه هم راځي. (علم بیان و علم عروض)

که د استعارې په اړه دا څو ډوله تعریفونه او مثالونه، وروستۍ خبره وي، نو ما د دغې موضوع په لیکلو سره خپل وخت بې ځایه لګولی دی. آیا حالي لیونی و چې په سریزه کې یې پر استعاره باندې د پاڼو مخونه تورول.
محمد حسن عسکري (د استعارې وېره)، ممتاز حسین(د استعارې په اړه رساله)، ګوپي نارنګ(د بېدي د هنر استعاراتي او اساطیري اړیکي)، وارث علومي (استعاره او څرګنده



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره)، شمس الرحمن فاروقي(شعر، غیر شعر او نثر- د میر انیس په یوه مرثیه کې د استعارې نظام د میر ورځنۍ ژبه یا استعاره) او قاضي افضال حسین(د میر شعري ژبې)، آیا دوی ټولو په دې اړه د بېکارۍ له امله قلم را او چت کړی؟

اړینه ده چې د ادب پر بنسټ باندې باید وار- وار بحث وشي، څو زموږ بنسټ کوږ او کږه پاتې نه شي. موږ باید له حالي څخه مننه وکړو چې په لومړي ځل یې په هر اړخیزه توګه استعاره وڅېړله او دا احساس یې راکړ چې تر اهل بلاغت نه ډېر، پکار ده چې اهل تنقید استعارې ته پام وکړي. ځکه چې د استعارې تفهیم په دغو څو لنډو کرښو نشي کېدای، په څو مثالونو باندې د هغې حق نشي ادا کېدای. لکه څنګه چې ژوندون هره ورځ په یوه نوې جامه کې را ښکاره کېږي، همدغسې استعاره هم په یو نوي راز کې را څرګندېږي، د هغې هره بڼه تنقید ته د بحث او خبرو اترو لپاره بلنه ورکوي.

حالي لیکي:

- استعاره د بلاغت یو لوی رکن دی او له هغې سره د شاعرۍ تړاو داسې دی، لکه د روح چې له بدن سره وي. کنایه او تمثیل هم استعارې ته ډېر نږدې دي. دا هر څه شعر ته روح او ښایست ورکوي. کله چې په اصلي ژبه کې قافیه تنګېږي، نو شاعر د همدغو توکو په مرسته د خپل زړه غوښتې او احساسات په ډېره ښه توګه څرګندولی شي او چېرته چې د هغه منتر اغېز نه کوي، نو بیا د همدغو په زور د خلکو زړونه تسخیروي.

حالي په اردو ژبه کې تر ټولو مخکې، استعاره د بلاغت لوی رکن بللی دی، هغه دا هم په ډاګه کړې چې د استعارې او نورو له مرستې پرته شعر، شعر نه پاتې کیږي، بلکې معمولي خبرې ورته ویلی شو.

دلته اوس یوه مهمه پوښتنه رامنځته کیږي، هغه دا چې که چېرې دلته له خبرو اترو نه د (معمولي) کلمه حذف شي، نو پوښتنه به دا وي چې، استعاره له خبرو اترو سره څه اړیکه لري؟آیا په خبرو اترو کې استعاره نشته؟که چېرې خبرې هم د استعارې اصل وي، نو بیا د شاعرۍ او خبرو اترو ترمنځ توپیر څه دی؟

په استعاراتي نظام کې تسلسل ته شاعري ویل کیږي او په شاعرۍ کې د استعارې تهذیب او تنظیم هم په پام کې نیول کیږي. خو دا چې په خبرو کې دغه تسلسل نشي پاتې کېدی، نو له همدې امله هغه ښکلا چې د یو ادبي تخلیق امتیاز دی، په خبرو کې نشي رامنځته کېدلی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سمه ده چې په خبرو کې هم استعارې کارول کیږي، خو دا څه وخت؟ موږ په خبرو کې خامخا ټوکې کوو، ټوکې یعنې څه؟ دا څه ډول رامنځته کیږي؟ دا هغه خبرې دي چې یو نوی فصل پرانیزي.

یوازې یو لفظ ته محاوره نشي ویل کیدی، په محاوره کې لږ تر لږه دوه لفظونه حتمي دي. مثلاً (سپین سترګي مه کوه، که د دې پر ځای وویل شي چې، سپین سپین مه غړېږه. نو دلته د سپین مفهوم توپیر مومي.

ددې لپاره چې مسأله د استناد پر بنسټ ونه درېږي، نو په محاوره کې د کیسې جوړولو واک شته، زیاتره محاورې په استعاراتي بنسټ جوړیږي.

هغه اصطلاحات چې په افعالو پیلیږي، په هغو کې یو اسم او یو فعل په ګډه مجازي مفهوم مومي. مثلاً (سینه ځیرې شوه، په زړه کې ګوګ جوړ شو، آسمان ټوټه ټوټه شو، ته د چا سترګو وخوړې).

کاغذ ځیرې کېدی شي، خو سینه نه؛ ختین لوښی ماتېدلی شي، خو آسمان د ماتېدلو څیز نه دی. همدغسې دا ټولې ناشونې استعارې دي.

د عسکري صاحب په وینا، اصطلاحات یا لهجې یوازې د ښایست فقرې نه، بلکې د ټولنیزو تجربو برخې دي او د معاشرې په لاسته راوړنو پورې اړه لري.

مجازي اړخ که د اصطلاح وي او یا د کوم بل لفظ، نو په معنا او مفهوم کې ځکه ممد دی، چې د مجاز مطلب (تجاوز کول) دي.

استعاره معنا لوبوي، په دې اړوند د استعارې پر ماهیت باندې شبلي څه بنسټیزې پوښتنې مطرح کړې دي:

- د استعارې حقیقت څه دی؟
- دا چېرته او د څه لپاره په کار راځي؟
- په دې کې ندرت او لطافت ولې پیدا کیږي؟
- په څه ډول یوه لویه او پراخه مفکوره د استعارې په وسیله په یوه کلمه کې ادا کیږي؟

شبلي د دغو پوښتنو په مطرح کولو سره خپله ځیرکتیا ثابته کړه، خو له لهجوي او دودیز افهام او تفهیم څخه پرته، د فلسفیانه اساس په موندلو کې یې پاتې راغی. محمد حسن عسکري او ممتاز حسین، دا دواړه هغه څوک دي چې په اردو ژبه کې یې له حالي څخه راوروسته، له عام دود نه د استعارې په ګوښه کولو سره هغې ته پام ور واړاوه. د هغوی



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره استعاره داسې کوم صنعت نه دی، چې د بيان ښکلا وځلوي. هغوی په استعاره کې دکايناتو ننداره کول غواړي. ځکه خو ممتاز حسين د (انقلابي استعارې) اصطلاح وضع کړه.

بيا بيا او په ميخانيکي ډول د استعارې تعريف راوړل، لوستونکی د استعارې اصلي تعريف ته نشي رسولی.

محمد حسن عسکري وايي:

- استعاره هغه وسيله ده، چې انسان او کاينات يو په بل کې مدغم کوي او دا د انساني تجربو له رګونو څخه را ځاځي. له استعارې څخه انحراف، له ژوند څخه انحراف دی. انسان غواړي چې د خپل ذهن په وسيله له خپلو غريزو څخه وتښتي، خو بيا هم د ذهن په پټنځای کې غريزه ورته پټه ناسته وي.

د دې لپاره چې کله موږ يوه ټوکه هم کوو، نو يوه هيره شوې او يا هم له ياده ايستل شوې تجربه او يا هم د ټول عمر تجربه په هغې کې پټه وي. معنا دا چې زموږ يوه يوه ټوکه هم استعاره ده. اصلي ژبه له استعارې پرته په هېڅ حسابيږي، دا ځکه چې ژبه پخپله استعاره ده. دا چې ژبه د داخلي تجربو او بهرنيو شيزونو تر منځ د اړيکو او ورته والي موندلو، يا د داخلي تجربو پر ځای د بهرنيو شيزونو د ټاکلو په پايله کې رامنځته کيږي، نو د همدې لپاره نږدې هره خبره يوه مړه استعاره ده، چې اصلي ژبه همدا ده.

عسکري صاحب د مړې استعارې خبره کوي، يعنې ژوندۍ استعاره هم بيا يو بېل شيز دی.

د ژبې اصل ولې استعاره ده؟ مثلاً موږ يو نرم شيز اوبه فرض کوو، دا چې مفروضه د استعارې کيلي ده، خو په دې کې ځينې رعايتونه او شباهتونه بايد په پام کې ونيول شي.

هره استعاره ځانته اصل لري، په ورځنيو خبرو اترو يا عادي خبرو کې، اوبه يوازې د څښلو او يا تندې ماتولو شيز دی، دلته په دې کې ټولنيز تکر رامنځته کيږي. همدغه اوبه چې کله په ادبي تخليق کې استعماليږي، نو مراد ترې ژوندون وي. معنا دا چې که اوبه يوازې د تندې ماتېدو شيز وي، نو هغه مړه استعاره ده او که مراد ترې ژوندون وي نو بيا ژوندۍ استعاره ده.

هره خبره يوه مړه استعاره ده، خو د ژوندۍ کېدو وړتيا پکې شته. يعنې په هره خبره کې د استعارې جوړېدو واک پټ دی، شاعر چې کله په کومه خبره کې روح اچوي نو يو نوی سياق رامنځته کوي او په همدغه ډول يوه نوې استعاره وجود مومي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعر عظمت په دې کې دی، چې هغه په خپلو ویناوو او خبرو باندې څومره واکمن دی؟ هغه د ویناوو ژورتیا ته څومره ورننوتلی دی؟ د هغو څومره اصلونه موندلي شي؟ آیا هغه د یو ګل په اړه مضمون، په سلو رنګونو د سمبالولو توان لري او کنه؟

په همدې توګه د یو شاعر په آزمویلو کې دا مهمه نه ده، چې هغه له کوم فکري مکتب او ډلې څخه اغېزمن دی؟ دا هم دومره مهمه نه ده چې موضوعات یې څه دي؟ د هغه په اند د ټولنیز ځواک او اخلاقو د پیمانې اندازه څومره ده؟ هغه څومره مطالعه لري؟ نه – نه! مهمه خبره داده چې هغه ژبې او شاعرۍ ته، څومره نوې خبرې او کلمې ورکړې؟ هغه څومره نوې استعارې خلق کړې؟ څومره نوې تشبیه ګانې یې لټولې؟ څومره نوې سمبولونه یې رامنځته کړې؟ څومره نوې ترکیبونه یې کېښلې؟ پخوانیو استعارو او سمبولو کې، هغه د څه لپاره روح اچولی دی؟ او څومره کلمې یې را ژوندۍ کړې دي؟

د دغو ټولو له مخې دا جوتېدی شي چې د ردیف، قافیې او معنا تر منځ توپیر څه دی.

فیض په یو بیت کې وايي:

د قفس پروره د تیارې مهر لګیږي
نو فیضه! زړه ته ستورې ښکته کیږي

د تیارې مهر نوی ترکیب دی، دا کېدی شي چې د شپې استعاره هم شي او د مایوسۍ هم، خو ستوري بیا په دې ځای کې د ژوندانه د بقا او زغم استعاره جوړه شوېده. له منطقي پلوه، ستوري زړه ته دننه نشي ننوتلی، خو دا د بیان ښکلا او تخلیقي منطق دی، چې همدې ته استعاره ویل کیږي.

هره نوې استعاره د ژوند یوه نوې تجربه ده، شاعري هم د تجربو زېږنده ده او کله چې تجربه په استعاره کې را لویږي، نو د معنا نړۍ ودانیږي.

لفظ او معنا له پیل نه یو تر بله نه سره جوړیږي او تل سره په مبارزه کې دي. ځکه، لفظ یو سمندر دی، په هغه کې پوره کاینات پراته دي او دا هم ویلی شو، چې لفظ د معنا د خزانې طلسم دی:

د معنا د خزانې طلسمه په هغه پوه شه
چې د غالب په مړو اشعارو کې راځي



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلسم د مار هغه تصویر ته هم ویل کیږي، چې د خزانو او زېرمو د ساتنې لپاره جوړیږي، یعنې طلسم له هغې شعوري هڅې څخه عبارت دی، چې خزانو ته رسېدل ناشوني کړي. د غالب په کلام کې د معنا پټولو یا د لوستونکي له لاسرسي څخه د خوندي ساتلو طلسم (شعوري هڅه) چې کوم یو دی، هغه لفظ دی، چې همدغه معنا ته رسېدل ناشوني کوي. (قاضي جمال حسین)

لفظ ولې د معنا د خزانې طلسم دی؟ ولې په هغه کې د سمندر ژورتیا او پراختیا ده؟

د سمندر لاندې
د سمندر په ژوره کنده کې
صندوق دی
په صندوق کې یو ډبی پکې ډبی
پکې ډبی....
پکې د معنا ځومره سهارونه
هغه سهارونه چې پرې د رسالت ور بند دی
او په خپلو وړانګو وچ شوي دي
ځومره وو پرېدل !
دا صندوق ولې ولوېد ؟
خدای خبر چا پټ کړ؟
زموږ له لاسه په لومه کې بند شو
په لومه کې بند شو او ولوېد
د سمندر غېږې ته..... خو څه وخت؟
له تل نه وړاندې
له تل نه هم کلونه- کلونه وړاندې
او تر اوسه هم د صندوق چاپېره
د لفظونو د شپو پهره
د هغو لفظونو شپې
چې د دیوانو په خبر
د ..... دیوانو په خبر



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د لفظونو شپې
د سمندر په غېږ کې نه اوسېږي
خو د خپلې رښتينې پهرې لپاره
هلته ځنبېږي
شپه او ورځ
د صندوق چاپيره تاوېږي
د سمندر په غېږ کې
ډېر ويرېږم
چې که ددغې معنا د سپېڅلو سهارونو ښاپيرۍ
د خلاصون په هيله
د خپلو غوصه ناکو جادوګرو
غږونه واوري؟

(د سمندر په غېږ کې، ن- م- راشد )

لفظ ولې مبهم وي؟ ولې هر ځل د معنا موندل پېچلي کيږي؟ يو اړخ لا پای ته نه وي رسېدلی چې لس نور را پيدا شي. درګا مور (د هندي مذهب مشهور بُت دی- ژباړن) په شان، که د لفظ هم لس لاسونه وای، نو بيا هم کومه خبره نه وه. د هغه بُت خو په سلګونه لاسونه دي او دا چې د معنا طلسمي ګوتمۍ يې د کوم لاس په کومه ګوته ده؟ هيڅ ته نه ده څرګنده.

استعاره د لفظ اسرار موندلو ته ويل کيږي او د دغې موندنې بنسټ په مشابهتونو ولاړ دی.

هنرمن د اړيکې موندلو لپاره له داسې رعايت نه کار اخلي، چې په خپل ذات کې دوه اړخونه لري:

لفظي او معنوي.

معنوي رعايت تر ډيره مستقيماً استعاره وي او لفظي رعايت د استعارې التباس پيدا کوي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مضمون او استعارې تر منځ توپیر څه دی؟ د دغو دواړو مفهوم د رعایتونو له پراخېدو څخه رامنځته کیږي، یعنې هر څومره چې رعایتونه شتون ولري، هغومره ژورتیا رامنځته کیږي.
مضمون او استعاره دواړه په یو شان نه دي. ژوند یوه موضوع ده، د هغه هر اړخ ته مضمون ویل کیږي او استعاره په دغه مضمون کې پلوشې اچوي، چې د معنا نړۍ ورسره روښانه کیږي.
شمس الرحمن فاروقي په دې اړوند داسې لیکي:

- د استعارې په اړه لویدیځوالو مفکرینو ډېر څه لیکلي، د هغوی په پرتله زموږ په شاعرۍ کې استعاره دومره اړینه نه ده. دلته زموږ په (سنسکریټ شاعرۍ کې هم او په عربي پارسي شاعرۍ کې هم) د استعارې پر ځای مضمون مرکزي مقام خپل کړی دی.

په موږ کې دا خبره له پیل څخه دود ده، چې استعاره د شاعرۍ جوهر دی، دا هغه کرښلاره ده چې د هغې په وسیله موږ کولی شو، یوه معنا په څو ډوله څرګنده کړو.

- د میر "تقي میر" زمانې په رارسېدو سره د استعارې حیثیت له مضمون سره داسې ګډ شو، چې د هغې ځانګړې یادونه ډېره کمه کېدله.

دا چې مضمون او استعاره بېل بېل څیزونه دي، نو ولې یو تر بله ګډ شول؟ کله چې له پیل نه دا فکر دود شوی، چې استعاره د شاعرۍ جوهر دی، نو د هغې پر ځای مضمون ولې مرکزي مقام خپل کړی دی؟ فاروقي صاحب د دې لامل نه دی څرګند کړی. د سنسکریټ شاعرۍ خبره به دلته پرېږدو، په اردو شاعرۍ کې د استعارې په اړه بحث، رښتیانی همغه دی چې د فاروقي صاحب له خولې څرګند شو. معنا دا چې زموږ لومړنی تنقید له نظري بحثونو تش دی، په ادب کې د یو ډسپلین په حیث زموږ تنقید له لویدیځ څخه رڼا اخستې ده.
د ولي یو بیت دی:

د مضمون لاره هېڅ نه ده بنده
د خبرو ور تر قیامته خلاص دی

دلته د مضمون پر ځای استعاره هم فرض کېدلی شي، خو ولي د څه لپاره دغه مضمون د استعارې په اصطلاح کې نه دی پوښلی؟ غالب شاعرۍ ته معنا زېږونه وایي، ولې د مضمون زېږوني خطاب نه ورته کوي؟ دا ځکه چې هغه (د معنا د خزانې طلسم) باندې باور



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري او دغه طلسم په مضمون کې استعاره زیږوي. د محمد حسن عسکري په قول دا (استعاره) هغه وسیله ده چې انسان او کاینات یو په بل کې مدغم کوي.
له دې وسیلې نه ویره، له ژوند نه ویره ده. د دې وسیلې مرګ، د ژوند مرګ دی. نو بایده ده چې زموږ تنقید هم بیدار او سیږي، څو دغه طلسم له لاسه ورنکړو.
دا ربنتیا ده چې ځینې استعارې د وخت په تېرېدو سره مري او خپل د اغېزمنتوب اصلیت له لاسه ورکوي، ځکه چې په هغو کې له عصري معنویت سره د همغږۍ صلاحیت له منځته ځي. خو دا هومره د افسوس خبره نه ده، لکه څومره چې د نویو استعارو د تخلیق لړۍ درېږي.
استعاره د تجربې بې ډوله کولو نښانه ده، ځکه خو په تخلیقي کچه د هغې د توانمنۍ اعتراف لازمي دی. استعاره یوازې د شاعرۍ شتمني نه ده، بلکې د هر تخلیقي جوړښت ځانګړنه ده. که چېرې او سمهال کوم ادیب استعاره نه کاروي، نو دا یوازې له ژوند څخه تېښته نه، بلکې خپله ناپېژندنه یې هم ده او د فطرت د عظیم نعمت ناشکري هم.
که چېرې په کومه ټولنه کې استعارې خلق نشي، نو دا په دې معنا چې د هغوی پر احساس باندې د کرکې ناروغي لګېدلې او زیان کوي.
عسکري صاحب ویلي دي: د استعارې پیدا ایښت داسې دی، لکه د خوب پیدا ایښت.
د خوب لېدو لپاره خوب کول شرط نه دي، خو په کومه نړۍ کې چې تر خوب لېدو ډېر ورته خوب کول غوره وي، په ربنتیا سره هلته د استعارې لپاره د خطر زنګ دی.
که له انسان څخه ماشین جوړ شي، نو ژوند نه شي کولی. لکه څنګه چې په لوړو بنګلو کې د ختېنو کورونو خوشبویي نشي موندل کېدی، همدغسې حقیقت هم هیڅکله د خوب لېدو بدل نشي کېدی، نو آیا موږ غواړو بېرته د ځنګله په لوري ورو ګرځو؟
اوس نه هغه قیس شته او نه هغه صحرا، نه هغه شیرین شته او نه هغه فرهاد، بیا هم دا زړه غواړي چې غر خیرې کړي او د شیدو نهر را وباسي. که دا خوب لېدل وي نو خوب دې وي. د خاورې راز چا ته معلوم دی:

پاڅه د شپې پر وخت د تاب لېدو لپاره
خوب کول شرط نه دي د خوب لېدو لپاره

عرفان صدیقی



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تخیل

(عالم تمام حلقهء دام خیال هی- غالب)

ویل کیږي چې د تخلیقي متن لوستل، یو ډول مجاهده او هڅه ده. که چېرې دا رښتیا ده، نو ولې؟ د دغې مسئلې د پوهاوي لپاره، د تخلیقي متن په جوړونه باندې نظر ور کول اړین دي. تر هر څه د مخه موږ باید په دې وپوهېږو، چې په دغه جوړښت کې، کوم- کوم توکي مهم دي او په هغو کې اصلي توکی کوم یو دی، چې پرته له هغه، ادبي تخلیق هېڅ شونتیا نه لري.

د نړۍ په ټولو ادبیاتو کې، د تخلیقي عمل اړوند یوه فارموله ده چې د یوې لیکنې د رامنځته کولو بنسټ پر تخیل ولاړ دی. زموږ کلاسیکي شاعري هم دا وایي، چې د خیال موزون کلام شعر دی. په شعر کې موزونیت حتمي نه، بلکې یوه ځانګړنه ده، ځکه نو تخیل بنسټ ګڼل کیږي.

اوس نو تخیل څه دی او په تخلیق کې کوم ډول تخیل رول لري؟

د تخلیقي لیکنې پر دغه بنسټیز توکي باندې کره کتونکو خپلې بېلا بېلې لیکنې کړې دي. د ختیځ او لویدیځ په کره کتنو کې د تخیل د پیژاند او څېړنې افهام او تفهیم لا همغسې



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوړ دی. خو د تخیل تر ټولو ښه تعریف کولرج کړی دی. په اردو شاعری کې حالي، شبلي او له هغو را وروسته ناقدینو هم په دې اړه څه ناڅه رڼا اچولې، خو حالي او شبلي دې موضوع ته په تفصیلي توګه توجه کړې ده.

کولرج (S.T.coleridge) په لویدیځ ادب کې لومړنی ناقد نه دی، چې د شاعرۍ پر څرنګوالي او جوړښت یې بحث کړی او یا یې هم د تخیل موضوع رامنځته کړې ده. تر هغه ډېر وړاندې ارسطو د شعر په فلسفه کې ډېرې مهمې او بنسټیزې پلټنې مطرح کړې دي. هغه شاعرۍ ته د نقل پر ځای د ژباړنې نوم ورکړی دی. کله چې ارسطو د حقیقت پر ځای، پر واقعیت باندې زور واچاوه، نو هغه وخت د ادب په تفهیم او تنقید کې د رومانیت بنسټ راټوکېدلی و.

د کولرج (۱۷۷۲- ۱۸۳۴) مفکوره هم د رومانیت تر اغېز لاندې ده، ځکه نو د شاعرۍ پر ماهیت باندې چې هغه کومې پوښتنې را ولاړې کړې، د هغو د تفهیم او تمحیص(تجزیې) لپاره روماني افکار او پر نظریاتي ځانګړنو باندې نظر اچونه اړینه ده. خو لومړنۍ پوښتنه بیا هم دا ده چې رومانیت څه ته وایي او تنقید سره څه اړیکه لري؟

له رومانیت څخه مراد یوازې د ښکلا او مینې لرغونتیا او د افلاتون وینا نه ده؛ بلکې د احساساتو پاربدل، د خیال آزادي، ناکراري او د هغو د درد احساس هم، د رومانیت بېلابېل اړخونه روښانه کوي.

د رومانیت احساس تر مادي څیزونو ډېر، د خیالونو او تصورونو په رنګینه نړۍ کې کیږي. د دغو ټولو اړخونو په اساس د ادب مطالعه، تجزیه او فیصله په وروستي روماني تنقید کې مخې ته راځي.

په لویدیځ ادب کې کولرج هم د نقد له روماني مکتب څخه ګڼل کیږي. په مختلفو تنقیدي نظریاتو او افکارو کې هغه د روماني تنقید استازی دی. د لویدیځ په تنقید کې لونجانس (Longinus) ته لومړنی نقاد ویل کیږي. ځکه، هغه د ادب د تخلیق لپاره د احساساتو پاربدنې او د فکر په لوړتیا زور واچاوه.

د کولرج اصلي لفظ تخیل (Imagination) دی، چې پکې ډېرې احساساتي او جذباتي پیښې هم شتون ولري.

لونجانس بیا تخیل د تنقیدي اصطلاح په توګه نه دی کارولی. د هغه اصطلاح په یوناني ژبه (hypsos) ده او په انګریزي ژبه ورته Sublime (د خیال لوړوالی) وویل شو. هغه د



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Sublime په واسطه د تخیل روح ته د رسېدو هڅه کوي او لکه د کولرج په شان هغه هم تخیل د هر ډول تخلیق بنسټیز شرط ګڼي.
د هغه په باور، دا صفت د زده کړې وړ نه دی، نو له دې امله د هغه د تعبیر له مخې تخیل یوه خدايي ورکړه ده او یو بشپړ فطري څیز یې ګڼي. په داسې حال کې چې کولرج، تخیل ته موضوع وايي، د هغه اصل ته ورکښته کېږي او د هغه درجه بندي کوي.
لونجانس د بلاغت نورو توکو ته هم په تفصیلي توګه پام اړوي، خو کولرج بیا د تخیل پر تعریف او توضیح ټینګار کوي.
د کولرج د تفهیم په تخیلي تصور کې په وار – وار څو ځانګړي اصطلاحات رامنځته کېږي:
تخیل (Imagination)، خوځښت (Motion)، غوره احساس (Good sense) د برابرۍ قانون (association Law of)، توهم (Fancy) او... دا ټول هغه اصطلاحات دي، چې د کولرج په تخیلي تصور کې د فکري بنسټ په توګه شتون لري.
کولرج د خپل (Biographia literaria) کتاب په څوارلسم څپرکي کې داسې وايي:

Finally, good sense is the body of poetic genius,
fancy i ts drapary, motion i ts life, and
imagenation the soul that is everywhere, and in each;
and forms al l into one graceful and intel l igent
whole.

که چیرې شاعري جسم وګڼل شي، نو ښه احساس د هغه بدن، توهم د هغه جامه(سنګار)، خوځښت د هغه ژوند او تخیل د هغه روح بلل کیدی شي.
اوس تر ټولو اړینه پوښتنه دا ده، چې تخیل څه دی؟
تخیل په رامنځته شوو توکو کې د نظم او ترتیب راوړلو وسیله ده.
کولرج، تخیل د فن پارې روح او د ذهن ځواک ګڼي. همدارنګه هغه، تخیل د علم او جهل تر منځ د داسې یو پُل یا اړیکې په توګه پېژني، چې لومړنۍ کړنه یې له ناپوهۍ څخه د پوهې په لور پام اړول دي. د کولرج په اند ، د تخیل د تعریف محور د هغه ماهیت (nature) او خلقت (genesis) دی.
د هغه کتاب (Biographia literaria) لومړی ځل په ۱۸۱۷م کې خپور شو. د دغه کتاب په لنډه پېژندنه کې مکفرلنډ توماس (Mocfar land Thomas)، پر مهمو اړخونو رڼا اچولې او په (The origin and significance of Coleridge's theory of secondary imagination) مضمون کې لیکي:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



Biagraphia literaria, a book that is largely a bout poetry, the definition of the secondary imagination emphasizes and honors poetic creation, but it operates more as alink between its author poetic and his systematic theological and phil osophical interests tham as a promram for how poetry should be written.

ژباړه: د (Biagraphia literaria) کتاب په لویه پیمانه د شاعرۍ په اړه ځانګړی شوی دی. د ثانوي تخیل تعریف، شعري خلقت ته ارزښت او درنښت ور په برخه کوي. خو د هغه کارول د هغه د شعري لیکنې او د هغه د سیستماتیکې دیني پوهې او فلسفي لېوالتیا تر منځ لا زیاته اړیکه ټینګوي، وروسته بیا دا جوتېدی شي چې څنګه شعر ولیکل شي.

کولرج د تخیل تعریفولو سره سره، هغه په دوو ځانګړو برخو (ابتدایي تخیل- Primary imagination) او (ثانوي تخیل- imagination Secondary) باندې نوموي.

هغه لومړنی تخیل د ټول انساني ادراک او ژوندي ځواک خوځندوی(محرک) ګڼي. کله چې لومړنی تخیل یوازې د حقیقت ادراک دی، نو دوهم تخیل د لومړني تخیل پراختیا ده، چې په دې اساس د دواړو دنده یوه شوه (د څیزونو ادراک)، خو بیا هم د دندې درجه او د کړنې دایره یې توپیر لري.

لومړنی تخیل د دوهم تخیل د غږ انعکاس دی او د یو نوي جوړښت پر بنسټ ولاړ دی. خو یوه خبره شته چې په کړنه کې یې باید د شعوري ارادې (Conscious will) شتون وي. شعور د فکر هغه لوړ پوړ دی، چې د څیزونو په پېژندګلوۍ کې له ځانګړي زمان او مکان څخه پرته د فاعل او مفعول یووالی دی. د څیزونو پېژندنه د حدودو له مخې ممکنه ده، چې تخیل بیا په دغو حدودو کې یووالی رامنځته کوي.

ثانوي تخیل د منطقي او وجداني شعور په ګډه کیفیت کې مخ پر وړاندې ځي. کله کله بیا مخ پر وړاندې، هغه لاره ورته ځانګړې کیږي، چې په پایله کې هغه خپل ځان مومي. د ځان موندنې دا عمل ښکاره او ساده نه دی، یو پیچلی عمل دی، ځکه د شعور سره غیر شعوري توکي هم په کار پیل کوي. چې دا تخیلي تجربه (Imaginative experience) په یو څه موندلو سره، ادبي تخلیق ته یوه نوې بڼه وربخښي.

د شریکرشنا مشرا په وینا:

The former is the purest type of experience: the latter is the poetic experience.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: تېر د تجربې اصلي او خالصه بڼه ده: دوهمه یا وروستۍ، شاعرانه تجربه ده.

په عامه او شعري تجربه کې توپیر دی.
عامه تجربه د یو څیز په اړه محدود تصور دی، خو شعري تجربه تخیلي تجربه ده او دا د څیزونو په اړه لامحدود تصور یادیږي. دلته بشپړ انساني روح بیداریږي او محدوده تجربه په لامحدوده تجربه بدلیږي. ادراک (ابتدایي تخیل) د شعور هغه برخه ده، چې هېڅ کوم نوی څیز نشي رامنځته کولی او نه هم کوم څیز په پوره توګه پېژندلی شي. خو د دې بلعکس د ثانوي تخیل الوت، لامحدود او تخلیقي وي، دا ځکه چې د بیدار او ګړندي شعور سره اړیکه لري.
خیال د ژوندانه علامه ده، نو همدغه لامل دی چې د ادبي تخلیق درجه، کومه چې بنسټ یې پر ثانوي تخیل ولاړه ده، تر ساینسي پنځونې ډېره لویه ده. ادراک یوازې معلومات وړاندې کوي، نه بصیرت او د حقیقت ترجماني کوي، نه د واقعیت. حال دا چې ثانوي تخیل د متحرکو او شونو ځانګړتیاوو لېږدونکی دی او د واقعیت ترجماني کوي.
تخیلي تجربه ټول شعور راوینښوي، دا ټول بحث ددې خبرې د ثابتولو لپاره دی، چې د ابتدایي تخیل دنده یوازې د ادراک لاسته راوړنه ده. حال دا چې ثانوي تخیل له ادراکه پرته د هغه له تضادونو سره اړیکه مومي او شونی حالت رامنځته کوي، چې موخه ترې د شعري جوهر موندل دي.
د کولرج په تخیلي تصور کې د توهم (Fancy) اصطلاح په وار- وار راغلې، چې له یادو دواړو تخیلونو سره ژوره اړیکه لري.
Lucy newlyn د توهم(Fancy ) په تعریفولو سره داسې وایي:

Fancy is a sort of loose association. It does not bind thoughts and images tightly together. But allows them to proliferate, as though they had a will of their own.

ژباړه: خیال د بې قاعدې او سستې ټولګې یو ډول دی. چې افکار او تصاویر په منظم ډول نه یو ځای کوي، خو په ډېربدو کې یې پوره ونډه لري. لکه دوی چې خپله اراده لري.

د کولرج په وینا ، توهمي ځواک د یادښت یوه داسې کړنه ده، چې په هېڅ یوه پایله باندې اصرار نه کوي. دا په ځینې وختونو کې ګټوره هم ده او زیانمنه هم. ځینې کسان د تخیلي او توهمي ځواکونو په اړه یو ډول تصور لري، چې دا پر ځای نه ده. توهم د تخیل له مختلفو



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړاوونو څخه یو حالت دی. کولرج د ډېرې ښې شاعرانه ځیرکتیا لپاره د توهمي ځواک تعبیر له ټوکر یا جامې(Drapery ) څخه کوي. لکه څنګه چې جامه د بدن د ښکلا لپاره یوه وسیله ده او زمونږ په خوښې پورې تړلی څیز دی، هر کله چې وغواړو، نو د خپلې خوښې سره سم خپله جامه بدلولی شو. په دې کړنه کې چې موږ کوم رول تر سره کوو، نو هغه زموږ لومړنی حیثیت څرګندوي، چې کولرج دغه رول ته(Good sense ) وایي.
که چېرې کومه ښځه د نارینه جامې واغوندي، یا هم کوم نر په ښځینه جامه باندې ځان ښایسته کړي، نو په ربښتیا به ډېره د ملنډو وړ کړنه وي. همدغه شان توهمي ځواک هم د جامې په څېر دی، چې مناسب ترتیب او تنظیم ته پکې پاملرنه لازمي ده. همدغه ترتیب ته ښه احساس(Good sense ) ویل کیږي، چې د توهم لپاره ډېر اړین دی. د توهم ځواک باید د تخیل تابع وګرځول شي او څرګنده دې وي چې د ثانوي تخیل جوړښت د توهمي ځواک په وسیله کیږي.
که چېرې دغه ځواک د تخیل تابع پاتې شي، نو د روغې او سالمې شاعرۍ لپاره ښه ثبوت دی او چې کله هم د تخیل له ولکې څخه ووځي، نو انسان نه یوازې در په دره او بې مقصده کیږي، بلکې هغه ته هېڅ ارزښت نه ور پاتې کیږي.
دا چې شاعري د لوړ متوازن ذهن لاسته راوړنه او یو غوره ترتیب دی، نو ځکه خو د توهم ځواک باید د تخیل په ولکه کې وي، څو د تخلیقي کړنو تر منځ توازن وساتل شي. توهم په ثانوي تخیل پورې تړاو لري، خو د تخلیقي عمل ډګر ته ابتدایي تخیل هم را دانګي، له همدې امله باید د دواړو ترمنځ توازن وساتل شي. د توازن دغه صفت د کولرج په هغه تصور کې چې د تخیل په اړه یې درلود ، بنسټیز حیثیت لري.
الفاظ، فکرونه او احساسات په ښکاره او پټه توګه باندې توازن ته اړتیا لري، چې له دغه ترتیب او تهذیب څخه ښکلا په لاس راځي او د کولرج په اند د ادب اصلي موخه یو بل ته د خوښۍ برابرول دي.
په تخلیقي عمل کې مختلف توکي رول لري، چې په دغو توکو کې د یووالي احساس د انبساط (خوښۍ ) لامل ګرځي. د کولرج په اند د هنر په ډګر کې د بشپړ یووالي احساس د عرفان اصل دی. که د تخیل په تعریف، توضیح او همدارنګه د هغه په تفهیم پورې اړوند اردو تنقید ته کتنه وشي، نو تر ټولو وړاندې پر محمد حسن آزاد باندې سترګې لګیږي.
کلیم الدین احمد ، د آزاد په اړه لیکلي دي: (په هغه کې په مطلق ډول د نقد مادي شتون نه درلود ، نو ځکه خو د انګریزي څراغونو رڼا د هغه تر مغزو نه وه رسېدلې(پر اردو تنقید



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې یو نظر–ص ۵۷)). د هغه دا مطلقه رایه د نفې اعلان کوي. دا سمه ده چې هغه مبهمې خبرې کوي، خو تل داسې نه وي، هغه د کار خبرې هم کوي. د هغه ډېر مهم لکچر (د نظم او موزون کلام په اړه نظریات) دی. چې په کې د خپل فطري استعداد له مخې پر تخیل داسې غږېدلی دی:

- شاعر په ټولو خلکو کې داسې واکمن دی، لکه د کور خاوند چې پخپل کور کې ګرځي راګرځي، په اوبو کې کب او په اور کې سمندر جوړېږي، په هوا کې الوتونکی، خو په اسمان کې د پرښتې په څېر راوځي، د هر ځای پېښې او مضامین چې وغواړي، پرته له کومې ستونزې یې لاسته راوړي او د ښېنتن په توګه یې کاروي.

هغه زیاتوي:

- که شاعر و غواړي، نو ډېره به په خبرو راولي، ونې به رواني کړي، ماضي به حال کړي او حال به راتلونکی. زمکه به آسمان، خاوره به طلا او تیاره به رڼا کړي.

په پاسنیو ټولو یادونو کې د تخیل رول په ځرګند ډول محسوسېدای شي. د ماضي په حال او حال په راتلونکي، د زمکې پر اسمان او اسمان پر زمکې، د خاورې پر طلا او طلا پر خاوره، د تیارې پر رڼا او د رڼا پر تیارې بدلولو کې د وهم ځواک Fancy ستر رول لري.
آزاد په ځانګړې ډول د تخیل تعریف نه دی کړی او نه یې هم د تخیل او توهم اصطلاح کارولې ده، خو د هغه د لیکنو په ځینو ټوټو کې په دې اړه اشارې شوې دي.
د ابو الکلام قاسمي په وینا:

- حالي او شبلي په خپلو کتابونو کې د تخیل بحث په ډېر تفصیل سره کړی دی. آزاد پر دغې مهمې شعري مسئله باندې بشپړ بحث نه کوي، خو ځینې داسې اړینې اشارې کوي او تیرېږي، چې له هغو څخه داسې جوتیږي چې ګواکې هغه په دې اړه په پوره توګه خبر دی، خو په خپلو کتابونو کې د موضوعاتو د محدودیتونو له امله په دې نه دی توانېدلی، چې په دې اړه هم په بشپړ ډول ځرګندونې وکړي. آزاد ځای-ځای په ژبه او وینا باندې د شاعر واک او پر څیزونو باندې د تخلیقي واکمنۍ یادونه کړې، هغه د تخیل، تصور یا توهم اصطلاحات نه کاروي، خو د شاعرانه ځواک یادونه داسې کوي، چې ګواکې هغه له دغو اصطلاحاتو پرته خلکو ته د خپلو خبرو په رسولو کې هڅه کوي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالي په اردو ژبه کې هغه لومړنی کره کتونکی دی، چا چې د شعر پر ماهیت باندې بحث کړی او بنسټیزې خیرنې یې تر سره کړي دي. هغه چې د شاعر لپاره د کومو دریو شرطونو(تخیل، د کایناتو مطالعه او د الفاظو تفحص) یادونه کړې، په هغو کې لومړنی شرط تخیل دی. هغه د تخیل تر سرلیک لاندې یو څه تفصیلي خبرې اترې کړې دي. که څه هم هغه په انګریزي ژبه پوره نه پوهېد ، خو یا یې له چا نه اورېدلي او یا یې هم ژباړلي او په همدې توګه یې له انګریزي لیکنو څخه ګټنه کړېده. د همدې لپاره حالي چې پخپله زمانه، خپل چاپېریال او خپلو حدودو کې، کوم څه تر سره کړي، ډېره د ویاړ خبره ده.(کلیم الدین احمد- پر اردو تنقید یو نظر).

همدارنګه وارث علومي وايي:

- د حالي د پوهې محدودیت، د هغه کمزوري ګڼل یو غیر عقلي سلوک دی.

د حالي د کره کتنې جوړښت او اصل پر ختیځ بنسټ باندې ولاړ دی، د لویدیځ په تله کې ورسره انصاف نشي کېدلی. همدغه ډېره غټه خبره ده چې هغه د تخیل په اړه قلم را اوچت کړ. اوس نو چې د ماخذ اصل ته هغه لاسرسی نه درلود ، نو بیا څنګه ویلی شو ، چې هغه هم د کولرج په شان د تخیل تعریف کړی دی. دا بېله خبره ده چې هغه د Imagination او Fancy تر منځ په توپیر کولو نه دی توانېدلی. که د توهم اصطلاح سره یې اشنایي نه درلوده، خو د تخیل اصطلاح سره پوره اشنا ؤ. همدارنګه هغه د کولرج په شان د تخیل درجه بندي هم نه کوي. ممتاز حسین د خپل کتاب (د حالي شعري نظريات) په یوه تنقیدي مقاله کې لیکي:

- حالي چې د تخیل د پېژاند په اړه کوم څه لیکلي، د هغه اطلاق پر توهم باندې کیږي، نه پر تخیل باندې.

همدارنګه ممتاز حسین (پر حالي باندې د لویدیځو افکارو پر اغېزو) باندې ډېر ښه کتاب لیکلی، خو دده له یادې وینا سره به هر یو د نظر خاوند اختلاف ولري.

حالي د تخیل تعریف داسې کوي:

- د هغو معلوماتو زېرمه چې د تجزیې یا مشاهدې په وسیله، له وړاندې نه په ذهن کې ځای پر ځای کیږي، دا یو داسې ځواک دی چې هغه په بیا ځلي توګه ترتیبوي او په یوه نوې بڼه یې خپروي.

د تخیل دغه تعریف کلیم الدین احمد هم تایید کړی دی، خو کولرج بیا دا تعریف له ثانوي تخیل څخه تعبیروي. هغه داسې وايي:

- It (secondary imagination) dissolve, diffuses, dissipates in order to



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



Recreate.

ژباړه: دا (ثانوي تخیل) تحلیلول، خپرول او ګډوډول دي، په نوي ترتیب یا نظم سره د رامنځته کېدو په موخه.

پاسنی تعریف حالي هم کوي، خو هغه یې د توهم نه، بلکې د تخیل تعریف ګڼي. دا په دې معنا نه ده چې هغه د تخیل په نوم د وهم تعریف هم کړی دی. خو البته دا سمه ده چې هغه توهم هم، تخیل ګڼلی دی.

له مقدمې څخه یې داسې جوتیږي:

- دا هغه ځواک دی چې شاعر د وخت او زمانې له قید څخه آزادوي، ماضي او مضارع ورته په حال زمانه کې راوړي. هغه د آدم او جنت تیر حالت، همدارنګه د حشر او نشر بیان په داسې ډول کوي، چې ګواکې هغه ټولې پېښې په خپلو سترګو لیدلې دي او هر څوک داسې ترې اغېزمن کیږي، لکه له یو واقعي بیان څخه چې باید اغېزمن شي. په هغه کې دا پیاوړتیا شته چې هغه پېرۍ او ښاپېرۍ، سېمرغ او اوبه او نور تصوري او معدوم ژوندي ځیزونه په داسې معقولو صفتونو کې انځور کړي، چې تصویرونه یې د سترګو په وړاندې ګرځي را ګرځي.

دا تعریف چې حالي د تخیل په اړه وړاندې کړی، د توهم دی. ځکه توهم د وخت او ځای له قید څخه آزاد دی او همدغه خبره کولرج هم کړېده.

حالي د تخیل په تعریف کې د ممیزه ځواک یادونه هم کړېده. هغه داسې وایي چې تخیل باید د ممیزه ځواک تر ولکې لاندې وي. حال دا چې باید ویلي یې وای: توهم باید د ممیزه ځواک تر ولکې لاندې وي.

کولرج د ممیزه ځواک لپاره د ښه احساس(Good sense ) اصطلاح کارولې ده، هغه ممیزه ځواک د تخیل جسم ګڼي.

د ممیزه ځواک په اړه د حالي په نظریاتو کې څه نا څه ټکرونه لیدل کیږي:

- تخیل تل د خلاقیت او لوړ الوتنې په لوري روان دی، خو ممیزه ځواک بیا دغه الوتنه را لنډوي او د هغه په خلاقیت کې مزاحمت کوي.
- تخیل څرنګه زړوره او جیګه الوتنه کوي؟ په داسې حال کې چې هغه د ممیزه قوت تر ولکې لاندې دی. همدارنګه شاعری ته د هغه لخوا هېڅ زیان نه رسیږي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالي دا وايي چې مميزه ځواک د تخيل لپاره زيانمن نه دی. خو بيا په يوه بله وينا باندې چې مميزه ځواک د تخيل په خلاقيت کې مزاحم دی او هغه محدودوي، پخپله هغه خپله خبره ردوي.

حقيقت دا دی چې مميزه ځواک تخيل سم لوري ته هڅوي، که د هغه الوت هر څومره لوړ وي، نو هغه دلته مزاحم نه دی. خو دحالي دغه رايه (په نړۍ کې چې څومره لوی- لوی شاعران دي، په هغوی کې د تخيل د جيګې الوتنې او مميزه ځواک واکمني، دواړه يو ځای په ښه ډول وي). دا په دې معنا چې په دواړو کې توازن حتمي دی.

وړاندې له دې چې مورږ د شبلي په لوري مخه کړو، يوه بنستيزه پوښتنه زما په ذهن کې راوګرځېده، هغه دا چې:

حالي د تخيل تصور له کومه اخستی؟

وحيد قريشي په دې اړه داسې ليکي:

- کولرج دا وخت په هندوستان کې شهرت نه درلود. که څه هم د هغه لهliteraria Biographies څخه د يوې فقرې يوه برخه حالي خپله کړې وه، خو که پاتې برخه يې هم لېدلې وای، نو شايد د شعر په اړه نظريې به يې له اوسنۍ بڼې سره توپير درلود.

د وحيد قريشي په دې خبره کې يو څه وزن شته، چې د حالي په زمانه کې په هندوستان کې کولرج شهرت نه درلود، خو دې ته هم بايد پام وکړو چې په هغه وخت کې په اردو ادبي ټولنو کې انګريزي ادب ته د لاسرسي، مطالعې او تفهيم حالت څه يا څرنګه ؤ؟ کله چې د انګريزۍ ژبې او ادب نويو بدلونونو په ذهنونو کې اغېز اچولی و، نو دا هم څه ناشونې نه ده چې محدودو کړيو ته په ډېره اسانه د کولرج خيالات او نظريات رسېدلي وي. د Biographia literaria لومړنۍ خپرېدنه په ۱۸۱۷م کې شوې او د حالي مقدمه په ۱۸۹۳م کال کې چاپ شوه، چې د دواړو د خپرېدو ترمنځ ۷۶ کاله توپير دی. ځکه نو دا امکان شته چې حالي د هغه کتاب له مندرجاتو څخه له چانه زده کړه کړې وي او د کولرج په کليدي لفظ imagination باندې يې د کوم (انګريز هندوستاني) سره مشوره کړې وي. بيا چې هغه د سادګۍ، اصليت او جوش په تعريفولو سره د يو اروپايي څېړونکي يادونه کړې، نو همغه پخپله کولرج دی.

ددغه اروپايي څېړونکي تفصيل، ممتاز حسين په دليل سره وړاندې کړی دی. هغه د حالي او کولرج په اقتباس کې خيالي مماثلت هم ښودلی دی. خو د هغه دا وينا چې (حالي د تخيل



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تعریف کې یوازې د کولرج او ورډ سورتېږ په نظریاتو تمرکز کړی دی، ناسمه ده. د حالي فکر څه نا څه د کولرج ژباړنه ده، نه ژباړه.

لومړی خبره خو دا ده، کولرج چې کوم تعریف د تخیل کړی دی، هغه کټ مټ تر حالي پورې په سمه توګه نه دی رسېدلی. بله خبره دا ده، هغه چې کوم څه تر لاسه کړي، نو کټ مټ یې هغسې نه دي لیکلي. کنه نو لکه څنګه چې هغه د ملټن نوم یاد کړی، همغسې یې د کولرج نوم هم راوړی دی. کله چې د هغه په ذهن کې د کولرج د تعریف نقشه هم په سمه توګه نه وه ناسته، نو مونږ څنګه ویلی شو چې د تخیل پوره تعریف د هغه له خولې، له کولرج څخه مستعار دی.

حالي چې څومره د کولرج په تعریف باندې پوهېدلی، نو همغومره یې د ختیځ له تصوري چوکاټ سره همغږی کړی او بیا یې د خپل شعور او پوهې په رڼا کې تخیل ته تعریف ټاکلی دی. په دې اساس د حالي مفکوره د ختیځي تصور د بنسټ درجه ګټل کیږي.

د وحید قریشي دې خبرې ته هم تم کیږو ، چې وایي: (حالي د کولرج د یوې فقرې نیمه برخه په خپل کتاب کې ورګډه کړېده ).

د حیرانۍ ځای خو دا دی چې هغه دغه فقره ولې په نخښنه کړې نه ده؟ بله دا چې د یوې فقرې په نیمه برخه باندې، د چا ټول نظریات خو نشي اخستل کېدی.

په دې اړه ابو الکلام قاسمي د حقیقت پلوي کوي:

- ځینو کره کتونکو چې پر تخیل یې بحثونه کړي، هغوی په ډېره ښه توګه داسې وایي چې:

حالي د تخیل په تعریف کې د کولرج له Biographia literaria کتاب څخه ګټه اخستې ده، خو دا خبره هم درواغ نه ده، چې حالي تر یوناني تصوره پورې، په عباسي دوره کې د عربو کره کتونکو د کتابونو په وسیله، تخیل رسولی دی.

د حالي په شان شبلي نعماني هم د شاعرۍ اصل، تخیل بللی دی. خو شبلي د تخیل سره محاکات (پېښې) هم د
شاعرۍ بنسټیز توکي بولي. هغه داسې وایي:

- د شاعرۍ اصل له دوو ځیزونو څخه دی، (یو پېښه او بل تخیل) له دغو دواړو څخه چې یو هم په شعر کې په پام کې ونیول شي، نو شعر ورته ویل کېدی شي.

پاتې نور صفتونه یې لکه سلاست، پاکي، ښکلا ، سادګي او نور، د شعر اصلي توکي نه دي، بلکې شبلي هغه د شعر عوارض او مستحسنات ګڼي.



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حالي په شان په ځينو ځايونو کې د هغه ليدلورى هم په ټکر کې واقع کيږي، همدا اوس-اوس هغه وويل چې شعر د پېښو او تخيل ټولګه ده او يا هم له دغو دواړو توکو څخه د يوه توکي له مخې شعر ته، شعر ويل کيږي. خو په دې خبره باندې چې وايي: (که څه هم پېښې او تخيل دواړه د شعر اصلي توکي دي، خو حقيقت دا دى چې د شاعرۍ اصل تخيل دى).
هغه پر پېښو او تخيل باندې تفصيلي خبرې کړې، له ختيځ او لويديځ څخه يې ګڼ مثالونه راغونډ کړي، چې په پايله کې ځينې خبرې لاندې باندې شوې هم دي. د پېښو (Mimesis) تصور يوناني دی. د پېښو (نقل) تعريف ارسطو په ډېره ښه توګه وړاندې کړى او په هغه کې يې د حقيقت پر ځاى، واقعيت ته ځاى ورکول اړين بللي دي.
کيسه نوې کلاسيکي تصور دى او تخيل د روماني مفکورو زيږنده ده.
شبلي د کيسې په اړه داسې وايي:

- په کيسه کې چې ساه راغړيږي، هغه له تخيل څخه رامنځته کيږي، کنه تشه کيسه له نقالۍ نه لېږې نه ده.

د شبلي له وينا څخه دا څرګنديږي چې کيسه يوازې نقل دى، خو د تخيل له ورګډولو څخه په هغه کې له نقل نه را په ديخوا بيا هم تصور برخه اخلي.
که شاعري يوازې محاکات (پېښې) وي، نو دا په دې معنا چې شاعري له نقل نه پرته، بل هېڅ شيز نه دى. نو آيا د درد، ټپ، خوب، تعبير او نورو کټ مټ نقل ممکن دى؟ په دې ډول پېښو کې له تخيل څخه کار اخستل کيږي، واقعي تصورونو ته لاسرسى د تخيل په مرسته کېدلى شي.
شبلي د تياره تصوير خبره کوي، چې په تياره تصوير راوړلو کې محاکاتو ته نه، بلکې تخيل ته اړتيا ليدل کيږي. که څه هم هغه په دې خپلې وينا سره متخيله ځواک پر متصوره ځواک باندې لوړ ثابت کړ. خو اصلي خبره داده، چې په کيسه کې ولې تخيل ورګډ شي؟ ولې په تخيل کې کيسه نه ورګډيږي؟ دا ځکه چې بنسټيز شيز تخيل دى.
هغه هم د حالي په شان د توهم له اصطلاح سره يې اشنايي نه درلوده او همدارنګه يې د خيال او وهم تر منځ توپير نه شواى کولى. هغه هم د کولرج د ماخذ اصل ته لاسرسى نه دى موندلى او داسې برېښي چې له چا نه يې اورېدلي او يا يې هم ځينې انګريزي ليکنې ژباړلي او له هغو څخه يې ګټه پورته کړې ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا خبره داده، هغه وینا چې کلیم الدین احمد د حالي په اړه کړې، په هغې هم تر ډېره باور کېدلی شي. چې هغه په خپله زمانه، خپل چاپېریال او خپلو حدودو کې چې څه کړي، ډېر د ستاینې وړ دي.

# عروض، معروض او نوی بوطیقا

(من ندانم فاعلاتن فاعلات – رومي)

آیا هر شاعر د مولانا د دغې مصرعې مصداق کېدای شي؟ که چېرې شاعري یو فطري څیز وي، نو بیا د عروض د علم زده کړې ته څه اړتیا ده؟ که چېرې غور وشي، نو په ښه توګه به څرګنده شي چې د شاعرۍ ماهیت او د عروض اصل څه دی؟ د شعر لپاره وزن څومره اړین دی؟ دواړه یو تر بله څه اړیکه لري؟ دواړه یو د بل لازم او ملزوم دي کنه؟ شعریت ډېر مهم دی که موسیقیت؟ د معنا او اغېز رامنځته کولو په پرتله د موزونیت حیثیت څه دی؟ د بحر او آهنګ تر منځ توپیر څه دی؟ د شاعرۍ لپاره بحر ډېر اړین دی که آهنګ؟ په بهرني او دنننی آهنګ کې توپیر څه دی؟

دا بنسټیزې پوښتنې د نظم او نثر د تصورونو ژورو ته په رسېدو کې مرسته کوي، همدارنګه د ختیځې او لویدیځې شاعرۍ په رڼا کې به دغه بحث مخ پر وړاندې ځي.

لومړۍ پوښتنه دا ده چې شعر څه ته وایي؟ په لنډه توګه یې ځواب دا دی، چې که هغه نثر نه وي، نو شعر دی. خو دا پر ځای خبره نه ده. موږ باید د شعر رګ – رګ ته ور ننوځو او په هغو کې د وینې بهېدو او تر وروستي پړاوه یې ځان ورسوو.

ببلچه راوړه، د زمکې تل را غوچ کړه
زه چېرته دفن یم، چې پوه خو شم پرې

هر هنر د فطرت سره تړاو لري، هېڅ داسې کوم هنر انسان ته نه دی ورکړ شوی، چې د هغه د خوښې وړ نه وي. د الفاظو کار ژباړنه ده، چې دې ژباړنې ته ارسطو نقل وایي، د ارسطو اصلي یوناني کلمه Mimesis ده، چې په لفظي سطحه له افلاتون څخه اخستل شوې ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعري هم هنر دی، چې په یوه ژبه کې د الفاظو په وسیله رامنځته کیږي.
غالب د نړۍ له لویو ذهینو شخه دی، دا ځل د هغه له انده خبره پیلوو، هغه په یوه کرښه کې داسې څرګنده کړېده: ( شاعري معنا زیږونه ده، نه قافیه جوړونه). دلته دوه ټکي په مخه راځي. لومړی دا چې د شعر ظاهري جوړښت یا بهرنۍ ښکلا دومره د ارزښت وړ نه ده. دوهم دا چې په شعر کې باید معنوي شونتیا ډېره وي.
خلک اوس قافیه پالنه په طنزي توګه داسې یادوي: (د پلانکي شاعر خو شاعري نه ده، بس قافیه پالنه ده). معنا زیږونه دومره ساده نه ده، لکه څومره چې په ښکاره بریښي. لومړی باید دا جوته شي چې هغه دا خبره په کوم سیاق کړې ده؟
دا خبره باید په ذهن کې پاتې شي، چې شاعري قافیه پالنه نه ده.
د غالب په اند قافیه هم د دودیز عروض یوه برخه ده، هغه وایي چې شاعري قافیه پالنه او یا هم کومه ماشیني کړنه نه ده. حال دا چې هغه د عروضي بحثونو سره مینه هم لرله. پخپلو شعرونو کې یې داسې بحرونه غوره کړي او راوستي یې دي، چې ډېر مترنم او ښایسته دي.
دا هم باید روښانه کړو چې هر بحر مترنم وي او دا د شعر یوه ځانګړنه ده، نه اصل یا شرط.
شبلي ډېر پخوا ویلي:

- دا چې د ناپوهۍ یوې دورې او د طبیعتونو ناخوالو د شعر پر حقیقت باندې پرده اچولې ده، نو لازمه ده چې لومړی د شعر په حقیقت باندې بحث وشي، تر څو یو سم معیار پاتې شي.

د شعر او نثر تر منځ د توپیر په اړه تر اوسه پورې، په اردو ژبه کې تر ټولو زیاتې معروضې، شمس الرحمن فاروقي په مفصله توګه ډېرې پر ځای روښانه کړیدي. د فاروقي صاحب مقاله دومره جامع او پراخه ده، چې تر سخته سخت کافر به، ایمان راوړلو ته اړ شي، خو دا هم باید په ذهن کې وساتلی شي، چې په شعر او ادب کې هېڅ یوه علمي معروضه یا د فلسفې بحث، د وروستي ټکي په توګه نه پاتې کیږي.
ژوندی ادب هغه دی، چې په هغه کې اختلافات هم په ډېر غور سره کنټرول شوي وي. فاروقي د (شعر، غیر شعر او نثر) تخنیکي(معروضي) پېژندګلوی د ټاکلو په اړه هڅه کړېده. له هغه نه وړاندې عبدالرحمن په خپل (مراة الشعر) کې د شاعرۍ پر ماهیت باندې په تفصیلي توګه رڼا اچولې ده. خو د هغه هره خبره په عربي شاعرۍ ورڅرخي.
ارسطو دا وایي چې عام خلک شاعري د بحر له مخې ټاکي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه مطلب دا دی، چې ځینې خاصې ډلې هم شته چې د شاعرۍ لپاره بحر اړین نه ګڼي. ځینې داسې خلک هم شته چې ساینسي او طبي مضامین په نظم کې راوړي. دا چې د هغه په اند په هغو کې هم بحرونه کارول شوي، نو ځکه ارسطو هغوی ته هم شاعران وايي. خو د هغه چا سره چې شعري ځانګړتیا پاتې کیږي، ارسطو هغه ته تر شاعره ډېر، فطري فلسفي وايي.
هغه وايي چې انسان په خپلو لومړنیو فطري او ذاتي هڅو سره، د پیاوړتیا او جدت په را برسېره کولو سره شاعري رامنځته کړه. حقیقي شاعر ته د فطري فلسفي کلمې په کارولو سره، هغه د شاعر او غیر شاعر تر منځ د امتیاز یوه کرښه وکښله. خو د بحرونو له جادو څخه و نه شوای وتلی. هغه وايي چې د پلانکي مکتب شاعرۍ لپاره، پلانکی بحر ډېر کارونکی او موزون دی او........
(داسې موزون کلام دی، چې متکلم په ارادې سره موزون کړی وي). د شعر دا تعریف دومره بربنډ دی چې له ستونزې پرته دا په ګوته کوي، چې د نوښت او بدلون لپاره یکې غور وشي. یوازې په موزونیت او د ارادې په شتون سره هېڅ کوم شعر نه رامنځته کیږي، هر موزون کلام شعر نشي ګڼل کیدی او د ارادې شرط خو پوره لغوه شوی دی. دا ومنئ! که چېرې تاسو په اراده څه ولیکئ، نو پایله به یې دا وي چې: (یاره! زه نن د کارګرو پر اتحادیه او د مزدورانو پر مسایلو نظم لیکم. یا غواړم چې د (مارک ته سلام) او (لینن ته سلام) تر سر لیکونو لاندې څه تخلیق کړم. په پلانکي ځای کې فساد شوی، پر هغه یو څه لیکم او یا په پلانکي ځای کې سیلاب راغلی، په هغه یو څه لیکم).
شاعري یوه پټه او چوپه کړنه ده، پخپله شاعر ته هم دا پته نه وي، چې په سپین کاغذ باندې به تر رامنځته کېدو وروسته، هغه نظم څنګه وي؟ یا هم د هغه څه په اړه چې فکر کوي، په خیال کې به یې نظم کړای شي کنه.
دلته شبلي او حالي هم د شاعرۍ پر ماهیت باندې بحث کړی دی او دواړو د شاعرۍ لپاره وزن او قافیه لازمي څیزونه نه دي بللي.
حالي داسې وايي:

- د شعر روح وزن ته اړ نه دی.

شبلي وايي:

- که څه هم دا خبره اوس په پوره توګه فیصله شوې ده، خو پخوانیو لیکنو کې هم په روښانه توګه لېدل کیږي، چې شعر یوازې وزن او قافیه نه دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په دې وينا پسې د حسان بن ثابت(رض) د زوی پېښه را اخستې ده چې: (يوه ورځ د حضرت حسان بن ثابت(رض) کوچنی زوی مچۍ وچيچ، هغه پلار ته په ژړا راغی، ويې ويل: زه يو ځناور وچيچلم. حسان ترې د ځناور نوم وپوښت. خو زوی يې نوم نه پېژاند، حسان بيا د هغه د څهرې په اړه ترې وپوښتل. زوی يې په ځواب کې وويل: (کانه ملتف ببردی خيره). يعنې داسې برېښېد، لکه په کرښنو (مخطط) څادرونو کې يې چې ځان پيچلی وي. دا چې د مچۍ يا غومبسې په وزرونو کې رنګينې ليکې ښکارېږي، نو ځکه يې د کرښن څادر تشبيه ورکړله. حسان سمدلاسه په ځای کې پورته وغورځېد او دومره خوښ شو، چې له ډېرې خوښۍ نه يې وويل: (والله صار ابنی الشاعر). يعنې په خدای سوګند دی زما زوی شاعر شو.

که څه هم فقره هېڅ موزونه نه وه، خو تشبيه ډېره ښکلې او پر ځای وه، همدارنګه حسان دا وپتېيله چې په ماشومانو کې شاعرانه جوهر شتون لري.

د دغې پېښې له څرګندولو وروسته، شبلي دې پايلې ته په رسېدو سره داسې وايي:

- ابن رشيق قيرواني په عربي شعر او شاعرۍ باندې يو ځانګړی کتاب ليکلی، په هغو کې چې د شاعرانو او ادب پوهانو کوم اقوال را نقل شوي دي، له هغو څخه هم د دغې مفکورې تاييد کېږي.

دلته له (دغې مفکورې) څخه موخه څه ده؟ همدغه، چې د شعر لپاره د موزونيت شرط اړين نه دی، بلکې يو اضافه څيز دی.

که چېرې د شبلي دغه اقتباس ته وګورو، نو ځکه حيرانېږو چې د هغه په وينا کې ولې دومره تضاد شتون مومي؟ هغه اقتباس داسې دی:

- هېڅ شعر بې راګه (بې موسيقيته) نه دی او وزن چې د شعر يوه اړينه برخه ده، هغه د راګ (موسيقي) يو ډول دی. چې له همدې امله به عربو خپل شعرونه، تل په سندريزه بڼه لوستل. د شعر لوستلو ته چې عرب انشاد وايي، نو هغه ددې لپاره ده چې د انشاد اصلي معنا سندره ويل دي.

شبلي د مولوي حميدالدين د (جهرة البلاغه) کتاب پر دې وينا باندې باور ساتي چې: (شعر د الفاظو، نغمې او نڅا له ټولګې څخه عبارت دی).

د حيرانۍ خبره ده، شبلي څنګه داسې وويل، چې وزن د شعر اړينه برخه ده. خو د حالي دريځ بيا په دې اړه پوره څرګند دی، هغه د شاعر کېدو لپاره درې شرطونه (تخيل، د کايناتو يا



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعت مطالعه او د الفاظو تفحص) وړاندې کوي او د عروض زده کړه پکې هېڅ شرط نه ګڼي.
د تخیل تصور، هغه له کولرج څخه اخستی. په شعر کې کومې – کومې ښېګڼې په پام کې و نیول شي؟ په دې اړوند هغه د ملټن وینا داسې راوړې ده:

- د شعر ښه والی دا دی، چې باید ساده وي، ښه پارونکی وي او پر اصلیت ولاړ وي.

حالي همدغه درېواړه (سادګي، اصلیت او جوش) شعري ځانګړنې ګڼي. هغه د ملټن له خولې د کولرج ژباړنه کړېده. یعنې د ملټن له خولې چې هغه د کوم اروپایي څېړونکي شرحه وړاندې کړې، هغه بل څوک نه دی، بلکې همدغه کولرج دی. خو دا بېله خبره ده چې هغه په هېڅ ځای کې د کولرج نوم نه دی یاد کړی.
مسعود حسن رضوي ادیب، هم د حالي د مکتب پلوی دی، د هغه کتاب (زموږ شاعري) د هغه په خپله لهجه کې د (حالي د سریزې) پاتې برخه ده، خو د هغه تفکر او افهام او تفهیم د انحراف او اعتراف په دواړو اړخونو باندې ولاړ دی. د (زموږ شاعري) کتاب د کلاسیکي شاعرۍ په مطالعه کې د مفکورې او ټولنې جوړونې په برخه کې تاریخي ارزښت لري.
مسعود حسن رضوي ادیب، په دې باور دی چې موزونیت د شعر لپاره لازمي او فطري حیثیت لري. هغه د شعر عروضي او منطقي بحث تر شبلي او حالي ډېر مخ پر وړاندې غځولی دی، خو د هغه په وینا کې هم د شبلي په شان ټکر لېدل کیږي:
الف- موزون او اغېزمن کلام ته شعر ویل کیږي.
ب- د شاعرۍ لپاره په هر حالت کې د وزن قید اړین دی.
ج- فیل ته غټوالی څه غټوالی دی
نښتر ته جګوالی څه جګوالی دی
که څه هم دا کلام موزون دی، خو هېڅ اغېزمن نه دی.
دلته داسې سوال رامنځته کیږي، چې آیا پاسنۍ وینا موزون شعر دی او آیا په هغه کې اغېزمنتیا هم شتون لري؟
که چېرې هغسې نه دی، نو دا بیا څنګه شعر پاتې کېدای شي؟ حال دا چې ادیب دا وایي چې وینا د موزونیت سره سره باید اغېزمن هم وي. ښه نو، کله چې دواړه صفتونه سره یو ځای نشي، نو شعر به په څه ډول رامنځته شي. ادیب د دغې خبرې له ویلو څخه پاتې راځي، چې هغه دغسې شعر ته کوم ډول نوم ورکړي؟ خو که د دغه شعر په اړه له شمس الرحمن فاروقي څخه وپوښتو، هغه به یې یا غوره حمد (ستاینه) وګڼي او یا به یې د (غیر شعر)



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکاټ ته ور واچوي، هغه سره دا دواړه لارې شتون لري. خو ادیب بیا په دې منځ کې هېڅ لاره نه لري. هغه وايي چې شاعري د جذباتو ترجماني ده او فطرتاً د انسان ژور جذبات د موزونیت او موسیقیت سره یو ځای د را څرګندېدو هیله ساتي:

- که غواړې پر دغه ټکي باندې وپوهېږې، نو د کوم زوی پر مړینه باندې د هغه د مور ساندې واوره. دکوم اغېزمن واعظ پر وینا باندې غور وکړه. د نثر هغه عبارتونه ولوله، چې په هغو کې د احساساتو زور او شور څرګند شوی وي.

له یوې خوا هغه داسې وايي؛ چې شاعري د جذباتو البم دی، خو د وزن له قید څخه خالي نه دی. له بلې خوا بیا دا هم وايي چې، ساندې واوره، تقریر واوره او د نثر هغه عبارتونه ولوله، چې په هغو کې د جذباتو زور او شور څرګند شوی وي. هغه په دې اند دی چې ژور جذبات او احساسات، فطرتاً غواړي، په موزونیت او موسیقیت یعنې په وزن کې را ښکاره شي، خو کیدی شي چې د نثر عبارت هم له احساساتو څخه ډک وي.

کله چې ژور جذبات او احساسات په موزونیت او موسیقیت کې را څرګندیږي، نو بیا څنګه کېدای شي، چې نثر له احساساتو څخه ډک وي؟ ځکه چې په نثر کې وزن نشته او بله خبره دا ده، چې د شعر او نثر تر منځ اصلي توپیر څه شو؟

منطق په رښتیا هم ډېر پیچلی دی. هغوی د موزونیت پر ځای نورو ګټو ته پام کړی او دا یې ویلي، چې له دې سره په حافظه کې سمدلاسه بله موضوع رامنځته کیږي. دلته هم همغسې خبرې ته اشاره شوېده. که مورږ وو ایو: مورږ داسې خلک هم لیدلي، چې هغو د شکسپیر یا آغا حشر د ډرامو نثري اقتباسات په یاد کړي، نو په رښتیا به ورته حیران پاتې شئ.

د دغه ډول شعر:

دلته غزني، غوري او له هغو نه پس راغی غلام
پر غلجي، تغلق، سید، لودي او مغل باندې تمام

د یادونې او د نثري اقتباس یادولو تر منځ هېڅ توپیر نشته، هر څه په علاقې پورې تړاو لري.

د ادیب دغه ټکي ته هم پام وکړئ چې وايي:

- د بدیهیاتو لپاره دلیل ته اړتیا نشته.

ښاغلیه! په دې دنیا کې به ته هر ډول دعوه کوې.

دلیل ډېر اړین دی، له دلیل پرته ستا یوه خبره هم نه منل کیږي. ته خو کوم پیغمبر نه یې؛ چې تاته وحی کیږي او له هغې څخه انکار، له عقیدې نه انکار دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن رشیق، وزن د شعر لویه برخه او د هغه لازمي ځانګړنه ګڼلې ده. آن تر دې چې قافیه یې هم حتمي څیز بللی دی.

مولانا عبدالسلام ندوي لیکلي دي:

- د شعر لپاره داسې بحرونه تر ټولو ډېر ناموزون دي، چې د نثر سره ډېر کم توپیر ولري.

دا په دې معنا چې ځینې بحرونه داسې وي، چې آهنګ یې د نثر آهنګ ته ډېر ورنژدې وي او دا فیصله کول ستونزمن شي، چې ایا دا نثر دی او که شعر؟

یاده دې وي چې د بحرونو تر پابندۍ وروسته هېڅ کوم شعر باید د نثر آهنګ سره دومره ورته والی ونه ولري، چې توپیر یې ستونزمن شي.

د نثر آهنګ بل ډول دی، په هغه کې د افاعیل (کرکټر) په تکرار باندې پابندي نشته.

مولانا د غالب هغو شعرونو په اړه څرګندونې کړې دي، چې بحرونه یې ناموزون محسوسیږي.

هغه وایي:

- غالب هم په دا ډول بحرونو کې ځینې غزلونه لیکلي دي چې بالکل ناموزونه برېښي.

مولانا چې د کومو شعرونو حواله ورکړې ده، همدغسې کم او زیات د دغو شعرونو حواله عبدالرحمن بجنوري هم په (محاسن کلام غالب) کې ورکړې ده او د هغه بحر یې ټیټ او جیګ بللی دی.

دغو دواړو چې د کومو شعرونو مثال ورکړی دی، هغه هېڅ ناموزن یا ټیټ او جیګ نه برېښي. دواړو د دغه شعر مثال ورکړی دی:

واېي چې زړه به درنکړم، که زوړ هم شي
زړه وویل، څه خیر دی اوس مې پرېکړه کړې

دا شعر په هزج، مثمن، اشتر، مکفوف، مخنق او سالم (فاعلن مفاعی لن فاعلن مفاعی لن) بحرونو کې دی، چې په هېڅ ډول ناموزون نه برېښي. د هزج بحر ډېر مترنم دی. په دې اړه زار علامي وایي: (دا چې دغه بحر مترنم دی، نو له دې امله ډېر کارول کیږي.

سادګۍ او پرکارۍ بې خودۍ او هوښیارۍ
حسن یې په تغافل کې په جرآت وآزمایه



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عبدالرحمن بجنوري مطالعه پراخه وه، چې په څو ژبو پوهېد. هغه داسې لیکي:

- ډېر شاعران چې په هغو کې استاد هم شامل دی، د شعر بشپړتیا لپاره عروض ته ډېر پام کوي، خو په دې نه پوهیږي، چې د عروض غوښتنه، سامعې ته د هغې موسیقۍ په لوري د پام اړولو لاربښوونه کوي، چې پخپل شتون سره د شعر چوکاټ ژوندی ساتي. که چېرې شعر د مفاعیلن- مفاعلن– مفاعیلن له مخې سم وي، خو آهنګ یې تږی پاتې شي، نو هغه خام دی.

بهرنی آهنګ د افعالو سره تړاو لري. خو دلته د بجنوري موخه له داخلي آهنګ څخه ده. هغه داسې، چې که د احساساتو په زېر و بم (آهنګ) کې توازن نه وي، نو شعریت نیمګړی دی او رښتیانی چې د سم بحر سره- سره به، بیا هم شعر خام پاتې کیږي. فرضاً که چېرې د هغه موخه بهرنی آهنګ هم وي، نو بیا هم د هغه مطلب دا دی، چې په شعر کې زیاتې او ناکاره خبرې، کرکه، د کلمو بې ځایه راوړل یا بې ځایه له منځه وړل او بندښت پر بهرني آهنګ باندې اغېز کوي او د شعر بهرنی چوکاټ له پامه غورځوي.

د بجنوري له اقتباس څخه دا جوتیږي، چې د هغه په اند د شعر لپاره یوازې عروض کافي نه دی. خو د هغه په دې وینا سره چې شاعري موسیقي ده او موسیقي شاعري، نو موزونیت او موسیقیت ته د ارزښت ورکولو اقرار هم کوي.

له شک پرته د شاعرۍ او موسیقي تر منځ ډېره ژوره اړیکه شته او داوړه په لطیفه فنونو کې شامل دي. خو بیا هم دواړه بېل بېل هنرونه دي، دواړه خپل خپل خوځښتونه او غوښتنې لري. په دواړو کې جزوي اړیکه د منلو ده، خو ټولیزه نه.

شاعري د تخیل معراج غواړي، کنه نو له هغه پرته به په شعر کې ندرت له کومه شي؟

کروچې وایي:

- ځیني خلک دا وایي، چې شاعري یوازې موسیقي ده او یا دې هم یوازې موسیقي وي. ګواکې هغوی په دې پوهیږي چې موسیقي یوازې آواز دی او هغه پخپله هېڅ کوم روح نه لري، چې د هغه پر بنسټ موږ دا وویلی شو چې موسیقۍ ته دې شاعري وشي. دا ډول وینا یوه خطا ده، چې یو نظم پر موږ باندې د آوازونو په وسیله اغېز اچوي او دغه آوازونه زموږ غوږونه په وجد (مستۍ) راولي. خو په اصل کې چې هغه کوم څیز په وجد راولي، هغه د تخیل ځواک دی او د تخیل ځواک زموږ احساسات په وجد راولي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسيقي د شعر مهم توکی دی، خو خبره دا ده چې هغه د يو جز حيثيت لري او جز هيڅ وخت د کل ځای نه شي ځپلولی. امداد امام اثر، پر موسيقي، مصوري او شاعري باندې په تفصيلي توګه خبرې کړې دي، هغه، دريواړه هنرونه د الهي رضا صحيح نقل بللی دی او د ارسطو له Mimesis څخه اغېزمن دی. هغه موسيقي او شتمني سره ببلوي، د هغه په اند دا دواړه د خير او شر نښانې دي. اوس دا پوښتنه رامنځته کېږي چې موسيقي څه ده؟ موسيقيت څه ته وايي؟ شعريت ډېر مهم دی که موسيقيت؟
موسيقي هغه لطيف هنر دی، چې کاينات يې خپل دي.
امداد امام اثر، د دې تعريف داسې ټاکي:

- د موسيقۍ علم د علم الاصوات يو جز دی او د علم الاصوات اصول د طبيعت او رياضي له علومو څخه سرچينه اخلي.

په شعر کې خيال، الفاظو ته د ښايست جامه ور اغوندي. هر لفظ ځانګړې جوړښت او ځانګړی غږيز آهنګ لري. کله چې الفاظ په بيتونو کې ننوځي، نو د اصولو يا افاعيل له تکرار سره غږيزه ښکلا رامنځته کېږي. د الفاظو له غږيز زېروبم څخه موسيقيت رامنځته کېږي او موسيقيت د يو شعر ښکلا، دوه برابره کوي. خو خبره دا ده چې تر هر څه مخکې بايد په شعر کې شعريت شتون ولري او کنه، نو وروسته بيا موسيقيت له هغه څخه قطعي شعر نه شي جوړولی.
شعريت د غږيزې رياضي تر ولکې لاندې نه دی، هغه يو ځانګړی جوړښت لري چې هم په نثر کې را څرګند بدلی شي او هم په شعر کې.
شاعري د هغه شفاهي هنر (Verbal art) يو ډول دی. چې په ژبې پورې تړاو لري. کومې فلسفې بيا دا خبره کړې چې شاعري د انسان مورنۍ ژبه ده. ځينې په دې اند دي چې دا د ذات اظهار دی او يا هم د انفرادي ذهن د معنوي خزانې جادو ده. دا جسم نه، بلکې کيفيت دی او دا هغه روح دی چې په هر ډول جسم کې ننوتلی شي.
شعري ژبه تخليقي ژبه ده، خو له تخليقي ژبې نه وړاندې بايد دا جوته شي، چې د نوې ژبپوهنې په رڼا کې ژبې ته کوم تعريف ټاکل شوی دی؟
مسعود حسين خان وايي: (د غږونو او معنا د پوهاوي تړون ته ژبه ويل کېږي). ژبه د رسولو او خبرولو وسيله ده، چې حيثيت يې تر اصليت څخه ډېر پاينښت مومي. د ورځنۍ يا عادي ژبې سره تخليقي ژبه توپير لري، تخليقي ژبه له خيال، جذبې او بصيرت څخه عبارت ده، په



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ چوکاټ کې معنا نه بندوي، بلکې هغه غځوي او پراخوي یې. غالب همدغې ته معنا زېرونه یا د معنا د خزانې طلسم وایي.
تخلیقي ژبه ابهامي وي، خو تر هغې اندازې پورې نه، چې معما ترې جوړه شي.
امداد امام اثر وايي:

- په هر هېواد، هر توکم او هر وخت کې شاعري، د نثر یا نظم په رڼا کې ځلانده وي.

د دې نچوړ دا دی، که شاعري په نثر او نظم کې تخلیق کولی شي، نو عروض دلته دوهمه درجه خپلوي. له شعر نه وروسته اړینه ده چې په عروض باندې هم رڼا واچوو، څو د شاعرۍ او عروض تر منځ اړیکې ښې روښانه شي. په ساده ژبه ویل کېږي: عروض داسې یو علم دی چې ځانګړې جوړښت، قواعد او حدود لري.
عبدالرحمن بجنوري وايي:

- د شعر (شاعرۍ) بنسټ، پر عروض ولاړ دی، نو د موزونیت په تله کې د الفاظو تول ته عروض ویل کیږي.

که چېرې د شعر بنسټ پر عروض ولاړ وي، نو د نثري شعر شتون به د خطر سره مخامخ شي او دا چې شعر له شعریت څخه رامنځته کیږي، ددې په اړه ټولې فلسفې به ناکاره پاتې شي.
د بجنوري د تعریف دوهمه برخه بشپړه نه ده، د عروض دنده یوازې د الفاظو تول یا تقطیع کول نه دي، عروض یو ځانګړی نظام دی چې تقطیع پکې یوازې د یو جز حیثیت لري.
زار علامي وايي:

- د عروض علم د شاعرۍ لپاره اړین علم دی.

د عروض دا تعریف یوازې ګمراه کوونکی نه، بلکې له منځه وړونکی دی. زموږ په دغه اوسني عصر کې ډېر داسې غوره او نامتو شاعران شته، چې په عروض نه پوهیږي، هغوی د ذوق او مینې په موزونیت باندې په ډاډه توګه شعر وایي او ډېره په زړه پورې شاعري کوي. هغوی ته عروض هېڅ داسې کوم خنډ نه ګرځي، چې ګواکې د عروض له زده کړې پرته به شاعري ناشونې وي.
علامي له یوې خوا عروض د شاعرۍ لپاره اړین ګڼي او له بلې خوا چې کله وایي: (موزوني طبیعت د خدای(ج) ورکړه ده)، نو په دې خبره باندې خپله لومړنۍ خبره ردوي.
دا اړینه نه ده چې کله یو څوک په عروض پوهیږي، نو هغه دې خامخا شاعري هم وکړي. د همدې لپاره ځینې ښاغلي په دې خبره ټینګار کوي، چې شاعري فطري خیز دی، کسبي نه. د شعر د تخلیق په وړاندې د عروض خنډونه هېڅ هم نه دي. په تخلیقي هیجان کې زیاتره



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دا پته نه لګيږي، چې مصرعه به په کوم بحر کې رامنځته شي او کوم- کوم ډول زحافات به پکې راشي. دا هر څه د شعر له رامنځته کېدو وروسته څرګندېږي، چې هغه په کوم بحر او کوم وزن کې دی او په هغه کې کوم زحافات کارول شوي دي.
شاعري کومه ماشيني کړنه نه ده، چې بس په ټاکلې کچه الفاظ راغونډ کړی شي. که معنا يې هر څه وي، خو چې مقصد وليکل شي. که چېرې څوک داسې وکړي، نو ممکن په شعوري توګه بری ومومي او شعر ډوله څه ناڅه به رامنځته کړي. خو دا چې د هغه دا شعر، شعر دی کنه؟ دا پرېکړه د هغه همدا ټاکلې کچه نه، بلکې شعري ځانګړتياوې کوي او د هغه يو اړخيز شعور په وړاندې به د هغه وجدان خپل غږ راپورته کړي.
په دغه اړخ باندې زموږ زياتره عروض پوهان يا خو پوهېدلي نه دي، يا يې د خپلې پوهې ساتلو او رسولو ته پام نه دی کړی او يا يې هم غلطو ويناوو ته لاره پرېښې ده.
اخلاق حسين دهلوي بيا په دغه اند دی:

- د شاعرۍ لپاره دا هم اړينه ده، چې شعر قصداً يا ارادتاً په کوم وزن باندې ور واچول شي او يا هم موزون کړی شي. هغه وايي چې له وزن پرته شعر شتون نلري.

د سندرغاړي لپاره د دغه وزن موندل ډېر اړين دي. خو دا هغه عمومي اصول نه دي، چې په يو نه، يو ډول يې احساس کوي او بيا يې هم په اسانه توګه وزغمي.
هغه بيا د اړتيا له مخې داسې وايي:

- موزونيت او شعر ويل د ځانګړو خويونو او طبيعتونو خصوصيت دی، چې خاص الخاص د عروض سره اشنايي او مينه لري.

د هغه مطلب خامخا دا کېدی شي، چې که هر څوک خاص الخاص د عروض سره آشنايي ولري، نو هغه به ستر شاعر وي. که چېرې داسې نه ده، نو د خاص الخاص ترکيب څه معنا لري؟
کمال احمد صديقي ډېره پر ځای خبره کړېده:

- شاعري له طبيعت سره ژوره اړيکه لري، خو د شاعرۍ رياضي، يعنې عروض د طبيعت او وجدان پروا نه ساتي.

د شعر عروضي مطالعه يوه ځانګړې طريقه غواړي. عروض ځانته کاري دايره او قاعدې لري، چې د ژبې جوړښت او د هغه له غږيزې مطالعې څخه عبارت دی. د هغه بنسټ پر ويلو يا تلفظ باندې ولاړ دی، نه پر ليکلو يا کتابت باندې. دلته د ويلو ټکی د ليکلو پر ټکي لوړ نه دی ښودل شوی، بلکې دا يو اصل دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عروض د غږونو په ترتیب کې را څرګندیږي او خپل ځان راپېژني. د دغه علم ایجاد خلیل ابن احمد کړی دی او له هغه څخه یوه پېښه هم را نقل شوې ده، چې کله هغه دا علم رامنځته کړ، نو هغه مهال هغه په مکه معظمه کې و. عروض چې د کعبې یو نوم دی، نو له همدې امله یې د تبرک لپاره د کعبې نوم ورکړ. ځینې کسان په دې اند دي، چې دغه علم ته ځکه عروض ویل کیږي، چې د شعر لپاره پرې عرض کیږي. نو آیا له خلیل ابن احمد نه پخوا دا علم پټ و؟ خلیل د دوهمې لېږدیزې پېړۍ عالم دی. امراءالقیس له هغه نه درې- درې نیم سوه کاله وړاندې شعر وایه او شعر به یې په قافیو کې څرګنداوه. اوزانو هغه وخت هم شتون درلود، خو په مرتب ډول نه. د عربي عروض د ترتیب ویاړ د همده په برخه دی. له ده نه وړاندې په زاړه سنسکریټ او یوناني ژبه کې یوازې بحرونو شتون درلود. قیاس داسې وایي چې ده به له دغو دواړو څخه ګټنه کړې وي.

په عروض کې وزن یوه داسې آله ده، چې د شعر بهرنی جوړښت کره کوي، نو هغه ځوک چې په دغه علم باندې پوهېږي، هغه کولی شي چې په وزن کې د کمښت یا ډېرښت کچه په اسانۍ سره معلومه کړي، همدارنګه شاعران او ناقدین د شعر په وزن کې له کرېدو څخه ژغوري.

کله چې د عروض پر مبادیاتو او جزیاتو باندې خبرې کیږي، نو د بحر، وزن او آهنګ یادونه پکې خامخا کیږي. د اوزانو ټاکلي ترتیب ته بحر ویل کیږي. یا په بل عبارت د آوازونو هغه موزون تناسب ته هم بحر ویل کیږي، چې اساس یې د تورو او ارکانو پر تکرار ولاړ وي. دا د شعر بهرنی آهنګ دی او وزن د بحر واحد دی، چې دا بیا د موزونیت په تله کې د تول کولو آله ده.

آهنګ څه دی؟آیا بحر له وزن او عروض څخه کوم بېل شیز دی؟

وارث علوي ډېره سمه خبره کړېده: (د شعر پر حدودو باندې تر ټولو کاري ګوزار د آهنګ د تصور له خوا لګېدلی دی او ورو- ورو آهنګ سره د لی، سُر، تال، بحر، وزن او عروض له مخې په بېلا بېله توګه مینه زیاته شوې ده. آهنګ د غږونو او احساساتو ټیټوالي او جیګوالي (زېروبم) ته ویل کیږي. د هغه په اند آهنګ په دوه ډوله دی. ظاهري او باطني.

په باطني آهنګ کې بې حده ابهام، استعاره او سمبول شتون لري. باطني آهنګ د بهرني لی، نغمې، روانتیا او ربط تابع نه ګرځي. که چېرې باطني آهنګ د شعر بنسټ وګرځول، نو بهرنی آهنګ به د بدر شعر وګرځي او د شعر دغه تعریف (شعر نه یوازې د لوستلو شیز دی، بلکې د اورېدو او سندرو ویلو هم دی) چې ډېر پخوانی دی، رد به شي. بیا به دا بل تعریف



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د هرې ژبې د اصلي غږونو له ګډ آهنګ څخه، د شعر او نغمې تار او تړکر برابرېږي) هم په ډېرې سختۍ سره وزغمل شي. اصلي غږونه په ظاهر پورې تړاو لري او حال دا چې معنا د باطن سره اړیکه لري، نو ګواکې له غږونو یا بهرني آهنګه پرته د شعر تار او تړکر نشي برابرېدلی.

عبدالرحمن وايي:

- شاعر د شعر ويلو پر وخت د ځان سره بنګېږي او په نغمه ډوله موزونيت کې خپل ځان را ايساروي. که مازې هم ترې د وتلو احساس وکړي، نو د شعر د ناموزونيت ويره شته، چې بيا د ترنم پای د هغه په شعر کې د موزونيت او ناموزونيت پرېکړه کوي.

مسعود حسين خان له غرېز پلوه شعر څېړلی دی او هغه يې د نوي څرنګوالي له مخې تعبير کړی دی. هغه چې چېرته کوم تخنيکي معلومات راغونډ کړي، هلته ځينې داسې ټکي هم تر سترګو کيږي، چې بنيادي بڼه لري. يو ځای کې داسې ليکي:

- زموږ شعري آهنګ تر ډېره د پارسي شعر ويلو په رواياتو پورې تړلی دی.

ښاغلي مسعود خو په سرسري توګه دا جمله ليکلې او تير شوی دی. خو موږ هرومرو دلته تم کيږو چې د پارسي شعر ويلو روايت څه ته ويل کيږي؟

روايت، له ماضي څخه حال ته پاتې کېدونکي سليم ذوق ته ويل کيږي، چې په اوسنۍ ټولنه کې د اصولو حيثيت غوره کوي. د هغه زياتره مفاهيم څرګندوي او په کارولو کې يې هم عموماً سند ته اړتيا نشته. خو دلته خبره د پارسي شعر ويلو د روايت ده، ځينې خلک ورته اردو پارسي شاعري هم وايي. د اردو شاعري بنسټ تر ډېره حده پورې پر پارسي ويلو ولاړ دی. د اردو شاعرۍ اصول زياتره له پارسي څخه مستعار دي. د ايرانۍ پارسي شاعري يا سبک، د هندي شاعرۍ په موزونيت کې تر ډېره ننوتی دی.

شعر بايد هرومرو په يو نه يو بحر کې شتون ولري، کنه نو شاته پاتې کيږي. ددې خبرې تصديقولو لپاره امير خسرو ته ورستنيږو، چې د خپل وخت نابغه ؤ. هغه شعر داسې يو سمندر ګڼي، چې که څوک يې غاړې ته کښيني، نو په اوبو به موږ شي.

هغه داسې کاږي:

- دا چې نثر د وزن په ګاڼه او د قافيې په ښايست نه دی سمبال، نو له همدې امله هيڅ زړه ځانته نه شي را کاږلی او نه هم کومه ژبه په نثر کې د تمثيل کولو توان لري.



د پښتو کتابونو پر ليکه نرۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظم ته موزون او نثر ته ناموزون ويل کيږي، همدارنګه هغه ته پياوړی او هغه ته کمزوری ويل کيږي. هغه داسې چې که نظم بې ترتيبه کړو، نو نثر ترې جوړيږي، خو نثر چې تر هغو پورې سم نکړو، نظم نشي کېدی.

نظم هغه ملغلره ده چې د حکمت په تله کې تول کيږي او د هغه د هر شعر په ګوښه کې يوه خزانه شتون لري. د راز د صنعتګرو د اصولو مطابق، د شعر درجه لوړه ده او د هغه تقطيع داسې موزون وي چې که د شعر په ارکانو کې يو توری زيات شي، نو د درنېدو برسيره يې وزن هم له منځه ځي.

د پوهې خاوندانو هر يو، په خپله زمانه کې داسې وړ او په تول برابرې نظريې وړاندې کړې دي، چې په يوه کې هم د وزن کموالی او يا زياتوالی نشي راتلی. همدارنګه د شعرونو شعور لرونکو موشګافانو، دشعر باريکۍ په داسې ډول ترتيب او څرګندې کړې دي، چې د يو ويښته په اندازه پکې توپير نشي راتلای.

نثر يو داسې کتاب دی چې د هغه، ښېرازه تت شوې ده. د ټولو اصولو او قواعدو سره سره بيا هم د هغه عبارت بې ربطه او بې ترتيبه پاتې کيږي او له هر پلوه د هغه جملې ناموزونې وي. دی چې تر څو پورې د نظم د مهربانۍ حمايت ته غاړه کېښنږدي، نو هېڅ ډول شعر نشي تخليق کولی، آن يوه مصرعه هم نشي جوړولای.

د خسرو شاعري دا څرګندوي چې د نظم يا شعر لطف په موزونيت کې دی او د موزونيت لپاره د غږونو ترتيب يعنې بحر اړين دی. په کوم روايت کې چې اردو شاعرۍ خپلې سترګې پرانستې دي، په هغه کې له وزن پرته د شاعرۍ تصور شتون نه درلود. اوس هم زموږ ټولنيز شعور، وزن د شعر لپاره ډېر اړين ګڼي. دا چې عام خلک له بحر پرته د شاعرۍ تصور نشي کولی، همدغه خبره ارسطو ډېره پخوا کړې ده.

دلته ځينې د تجربوي ذهنونو خلک له وزن پرته شاعري کوي، يا يې خوښوي او يا هم ځينې يې بيا د شاعرۍ اصل بولي. خو نثري شاعري لا اوس هم زموږ په ادب کې په عامه توګه نه ده منل شوې. اوس هم دا يوازې هغه شعري تجربه ده، چې د منلو او نه منلو پرېکړه به يې راتلونکې کوي. دغه لړۍ که د پخوانۍ يونان سره پرتله کړو او که د پخوانۍ هندوستان د سنسکريټ شاعرۍ سره، بيا يې هم د اردو شعري ډګر په اسانۍ نه مني. دا ځکه چې موږ له پارسي شاعرۍ څخه اغېزمن يوو.

لفظ له معنا څخه نشي بېلېدی، هر لفظ خپل جوړښت او انفرادي بهرنی آهنګ لري، نو تر هغو چې دغه آهنګ ترتيب نشي، موزون کېدلی نشي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثر له موزونیت څخه خلاص دی، خو د شاعرۍ لپاره موزونیت ښېله درجه لري. له همدې امله زه په رښتیا سره د نثري شاعرۍ مخالف نه یم.

تي- ایس- الیټ وایي:

- د عالم او شاعر د فکرونو تر منځ یو بل مهم توپیر هم شته. که چېرې زه دلته ستاسو په وړاندې پخپله د ځان یادونه وکړم، نو شاید بې ځایه نه وي. ځکه چې ما لا تر اوسه پورې د عروض ارکان او د اوزانو نومونه نه دي زده کړي او نه مې هم هېڅ وخت په سمه توګه د تقطیع د اصولو درناوی کړی.
کله چې ما له انګریزي شاعرۍ سره د عروض د علم قواعد پرتله کړل او د هغو د مختلفو وزنونو او بدلېدونکو رکنونو د ارزښت احساس مې وکړ، نو زما په ذهن کې په وار وار همدا یوه پوښتنه راټوکېدله، چې له عروضي قواعدو سره سم ټول بیتونه یا مصرعې برابرېږي، نو بیا ولې یوه مصرعه په زړه پورې یعنې ښه لګېږي او بله ښه نه؟ چې د عروض علم زما د دې پوښتنې ځواب رانشوی کړی.

ملټن د ریتوریقا او منطق په شان شاعري هم مرستندوی هنر (Instrumental art) ګڼي. حال دا چې شاعري یو ذوقي او وجداني څیز دی. د عروض علم ته Instrumental ویل کیږي، نو له همدې امله الیټ مایوسه کیږي. ځکه چې د یو څیز د ښه والي او بدوالي پرېکړه ذوق او وجدان کوي.

عروض په کره کتونکو پورې اړه لري، په شاعرانو پورې نه. د شاعرۍ لپاره د هغه تر لاسه کولو ته اړتیا نشته. خو د مطالعې لپاره یې د نثري شاعرۍ پرېښودل ډېر اړین دي.

شمس الرحمن فاروقي وایي:

- د شاعرۍ مطالعه د عروض له مطالعې پرته نشي بشپړېدی.

له فاروقي صاحب څخه دا پوښتنه کوم، چې د نثري شاعرۍ په اړه څه نظر لري؟ د هغې په مطالعه کې خو عروض خنډ نه ګرځي؟

دا ومنئ چې هغه به د آهنګ بحث پیل کړي، هغه په یو ځای کې وایي: (زموږ تنقید ډېری په له ځانه جوړو شویو فریبونو ککړ دی، چې له هغو څخه یو د شعر نغمګي یا غنایي هم ده.)

هغه ځکه دې ویلو ته اړ شو، چې هغه غوښتل د وزن په تعریف کې باید دومره نرمي شتون ولري، څو په هغه کې نثري نظم هم شامل شي.

زما په اند د شعر موسیقیت، یو عام صداقت دی. کله چې فاروقي دا وایي چې وزن پر خپل ځای د لوستونکي پام راوېښوي، نو په یو ډول هغه وزن ته د ارزښت په ورکولو قایلیږي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغه باید نثري نظم هم ومني. ځکه خو وايي چې: (هره سندره د هر ساز سره ویل کېدی شي). د هغه مطلب دا دی، چې موسیقیت کوم ځانګړی نظام نه لري او د جملو جوړښت یې درونډ نه وي.

په دې خبره پوره ونه پوهېدو، چې ځنګه هره سندره د هري نغمې یا ساز سره ویل کېدای شي؟ فاروقي وايي: (په نثري نظم کې د شاعرۍ دوهمې ځانګړتیا سره موزونیت هم وي.) پخوانیو د موزونیت په اړه بیخي بېل تعریف وړاندې کړی دی. د هغوی په اند د فعلونو عادي تکرار ته موزونیت ویل کیږي. هغوی وايي چې په نثر کې موزونیت شتون نلري، دا ځکه چې هغوی ظاهري غړیز آهنګ د موزونیت دلیل بولي.

موږ هم په همدغه باور یوو چې موزونیت باید یوه پیمانه ولري. دا نه چې د اقبال او فیض غزلونه او نظمونه هم موزون دي. د انتظار حسین، سریندر پرکاش او جوګندر پال افسانې هم. همدارنګه د ابن بطوطه تاریخ او د مولانا آزاد تقاریر هم.

د تنوع او پراختیا په نوم یو څیز باید دومره تت او خپور نشي، چې د هغه پیژندګلوي له منځه لاړه شي. موزونیت باید یو څرګند پېژاند ولري، چې په لیدو سره وپېژندل شي.

فاروقي په دې باور دی، چې موزونیت یوازې د وزن التزام دی. ځکه خو په یو بحر کې د دوو شاعرانو د مختلفو شعرونو آهنګ سره ورته نه وي. د بحر ورته والی د آهنګ د ورته والي لامل نشي کېدی. معنا دا چې هغه د داخلي آهنګ خبره کوي او موزونیت یې بولي:

- د شاعرۍ آهنګ، هغه آهنګ نه دی چې د ساز یا ترنم یا د سردار جعفري په قول د (داودي لحن) په وسیله راڅرګندیږي. د شاعرۍ آهنګ په اصل کې هغه موسیقي ده، چې په چوپه خوله لوستلو کې هم را ښکاره کیږي، داسې لکه هېڅ چې ساز یا ترنم ته اړتیا نه وي او په پټه خوله لوستلو سره الفاظ پخپله تا واوروي. کله په لوړه، کله په ټیټه، لکه په زوره، کله په آرامه توګه او همدارنګه په نورو ډولونو سره ستا پر داخلي سامعې باندې اغېز کوي. چې دا آهنګ د معنا تابع دی.

فاروقي صاحب ولې په داخلي آهنګ باندې په هر اړخیزه توګه بحث وکړ؟ څنګه یې وغوښتل، ترڅو وزن داسې تعریف کړي چې نثري نظم هم پکې شاملېدی شي؟ د دې هر څه تر شا د نثري نظم پروده باندې ټینګار دی، چې یعنې شاعري په نثر کې هم کېدی شي.

(د اقبال لفظیاتي نظام) کتاب هغه په ۱۹۷۵م کال کې لیکلی دی، (شعر، غیر شعر او نثر) یې په ۱۹۷۰م کې بشپړ کړیدی. کله چې (نثري نظم یا په نثر کې شاعري) یې په ۱۹۸۰م کې



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړ کړ، نو له لومړنیو دواړو مضمونونو وروسته پکې په ذهني توګه بدلونونه رامنځته شول، چې بیا د نثري نظم په مضمون کې راخرګند شول:

- موږ غواړو داسې نظم ولیکو، چې موزون وي، خو غیر عروضي، یعنې په کوم ټاکلي بحر کې نه وي.
- ستاسو په ژبه کې د غږونو نظام په داسې ډول دی، چې هغسې نظم هېڅ شونی نه دی.

معنا دا چې کله هر نظم موزون وي نو هغه غیر عروضي نه وي. له پاسنیو یادونو څخه بلآخره دا نتیجه په لاس راځي، چې په نثري نظم کې موزونیت نشته. خو له دې سره به د هغه دا وینا رد شي، چې موزونیت هم په نثر کې شتون لري.

هغه وړاندې لیکي:

- ما ته د دې خبرې په منلو سره هېڅ شرم نشته، تر اوسه لا په دې زه نه یم پوهیدلی، چې نثري نظم زموږ د شاعرۍ د کوم مکتب یا سبک اړتیا پوره کوي.

د نثري نظمونو په جواز باندې ځکه نه پوهېږو، چې زموږ غوږونه د عروضي بحرونو سره آشنا دي. د مسعود حسین خان په وینا: (زموږ شعري آهنګ تر ډېره په پارسي شعر ویلو ولاړ دی). خو خبره پر همدغه ځای پای ته نه رسیږي، کله چې فاروقي دا ګوري، چې په اردو ژبه کې ډېر نامتو شاعران د نثري شاعرۍ پلویان دي او د نثري شعرونو تخلیق کوي، همدارنګه د هغه معاصر کره کتونکي هم د همدغه ټولګي پر پیاوړي کېدو باندې بوخت دي، نو له یوې نسخې سره را خرګندیږي او هغه یې د کیمیا نسخه ګڼي.

هغه نسخه دا ده: (د مختلف البحر نظم په اړه زما لومړنی نظر دا دی، چې له پراخ تصور او پوهې وروسته، د دغسې نظم ویل یا لوستل ستونزمن نه وي. د منثور نظم او په ترنم سره د لیکلي نظم یادونه نن سبا زموږ په ادب کې ډېره کیږي. زه دا وایم چې په منثور نظم یا ترنم کې که د شاعرۍ تخنیک ترسره کېدی شي، نو همدا ده چې زه یې وایم.

د فاروقي په اند د نثري نظم تخنیک دا دی، چې باید مختلف الوزن وي.

ولې نباغلیه؟ کله چې په نثر کې موزونیت شتون لري، نو بیا د مختلف الوزن شرط پکې له کومه شو؟ او بیا دا ډول نظم ولې ولیکل شي، چې یوه مصرعه یې په یو وزن کې وي، بله په بل وزن کې وي، په دریمه کې کوم زحاف وي او څلورمه کې د کوم زحاف بڼه وي. خو په ټول نظم کې په بشپړه توګه کیفیت هرومرو وي او داسې هغه وخت کېدی شي، چې ټولې مصرعې د یوه بحر په بېلا بېلو برخو پورې تړلې وي. ورځه سمه ده ! څنګه چې نثري نظم یوه



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربه ده، نو د تجربې په ډول منل کېدی شي، خو په دغسې حالت کې اندېښنه نوره هم ډېرېږي. ځکه چې شاعر باید هرومرو د عروض علم زده کړي. د عروض له پوهېدا پرته به هغه څنګه پوه شي، چې د هغه د نظم مختلفې مصرعې په کومو اوزانو، بحرونو یا زحافاتو کې راغلي دي او په بشپړه توګه یې خپل کیفیت ساتلی او کنه؟
دا نسخه به د ادب په بازار کې څومره چلېدلې وي او یا به هم څومره وچلېږي؟ دا پرېکړه که د نسخې خاوند ته پرېښودل شي نو ښه به وي. خو له دې نه هم انکار نشي کېدی چې په شعر، نثر، عروض او آهنګ باندې تر ټولو ډېرې لیکنې فاروقي صاحب کړي دي.
د هغه یوه کلمه ډېره ارزښتمنه ده، که چېرې غور پرې وشي، نو ټوله مسأله به پای ته ورسیږي. هغه لنډه جمله دا ده: (د نظم او نثر بنسټیز توپیر د ژبې دی).
تاسو چې شعر ووایئ او هغه هم د شاعرۍ ژبه نه وي، نو ټول عروض بې ارزښته کیږي. آهنګ په نظم او نثر کې شتون لري، خو د دواړو ژبې مختلفې وي. د نظم او نثر په ژبه کې د رازونو امتیاز ته د شعري او نثري آهنګ نوم ورکول کېدی شي.
یاده دې وي، چې په آهنګ او موزونیت کې توپیر شته. د (ازرا پاونډ) په شان مونږ هم د دې خبرې په منلو کې هېڅ شک نلرو، چې آهنګ په شعر او نثر کې په حتمي توګه شتون لري. خو په نثر کې یوازې آهنګ شته، نه موزونیت.
له دغو بحثونو څخه دا جوته شوه، چې په شعر کې یوازې وزن او قافیه نه دي. زمونږ په لومړنیو کره کتونکو کې تر ټولو ډېر دغه احساس د امداد امام اثر سره شتون درلود.
هغه په شاعرۍ کې دغه اړخ چې یوازې منظوم پالنه وشي، تنګ نظري یې بولي. هغه وایي: هغه څه چې له ځانه اصل وي، په هغه باندې ورتپلی اصلیت، حقیقت نه دی. لکه شراب چې په څو ډوله لوښو کې اچول کیږي، خو شراب همغه شراب دي، په نشه کې یې هېڅ توپیر نه راځي. څوک داسې ویلی شي، چې تر کومه پورې شراب په ښېښنه یې پیاله کې پراته وي نو شراب دي او چې کله د سرو زرو لوښي ته یوووړل شي، نو هغه بیا شراب نه پاتې کیږي. شراب په هر ارزښت سره تر هغه وخته پورې شراب دي، تر کومه چې د هغو ماهیت بدل نشي.
تر دې ځایه سمه ده. خو هغه ځینې وېناوې هم کټ مټ شاعري بولي:

- د ژبې د شاعرانو برسېره مورخین او ناول لیکونکي چې کوم څه کوي، هغه کټ مټ شاعري نه ده، نو څه ده. مورخین د تاریخ په پرده کې د شاعرۍ عجیبې- عجیبې ځلاګانې ښیي او ناول لیکونکي خو په حقیقت کې د نظم د شاعرۍ لاره پرېښې، د



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثر د شاعرۍ لاره يې غوره کړېده او د هغه اصلي او اخلاقي وينا له مخې د هغه شاعرانه نثر له منظومې شاعرۍ څخه په هېڅ ډول کم نه برېښي.
په همدې توګه نور هم د ډول ډول شاعرانه نثر په ليکلو باندې، اروپايي ليکوالانو داسې ويناوې کړي، چې د منظومې شاعرۍ سره به يې پرتله کول پر ځای وي.
د شعر ادب د صنفي ځانګړتيا پر بنسټ ويناوو، تاريخي کتابونو، ناولونو او افسانو ته په کوم دليل شاعري ويلی شي؟
د شاعرانه نثر لپاره زموږ په ادب کې د انشأ اصطلاح له مخکې نه کارول شوې، خو انشائيه شاعري نشي کېدلی. ناول او افسانه د ادب ځانګړې برخې لري.
دلته د شکل بحث اساسي حيثيت لري. معنا دا چې د شاعرۍ اصلي شکل بايد څه وي؟ داخلي شکل خو يې حتمي دی، نو د همدې لپاره پر بهرني شکل باندې خبرې کوو.
د نړۍ په هره ژبه کې نثر په پراګراف کې ليکل کيږي، حال دا چې شاعري په مصرعو کې پر مخ ځي.
په ۲۰۰۸م کال کې د Marris Halle او nigel fabb په څېړنيزو هڅو سره د کيمبرج پوهنتون لخوا پر عروض باندې د (Meter in poetry anew theory) په نوم يو ستر کتاب خپور شو، چې پکې د انګريزي عروض سره- سره فرانسوي، يوناني، کلاسيکي عربي، سنسکريټ او لاتيني عروض هم تر بحث لاندې نيول شوي دي.

What distinguishes all poetry from prose is that poetry is made up of lines. Syllables, words, pharases, clauses and sentences are found in both prose and poetry, but only poetry has lines. It is the organization of the text into lines that defines poetry in all language and literary traditions.

ژباړه: له نثر نه د شعر بېلېدا او ځانګړتيا دا ده، چې د شعر جوړښت مصرعيز دی. څپې، الفاظ، عبارات، بندونه او جملې په دواړو (شعر او نثر) کې ليدل کيدی شي، خو يوازې شعر په مصرعو کې راځي. دا په مصرعو کې هغه جوړښت دی؛ چې په هره ژبه، ادب او کلتور کې پېژندل شوی دی.

اصلي پوښتنه دا ده چې د نثري شاعرۍ لپاره هم د کوم شکل اړتيا ليدل کيږي کنه؟
په اردو کې آزاد نظم د وزن له تکرار او التزام څخه خالي نه دی. خو نثري شاعري بيا له دغه تکرار او التزام څخه تشه ده. د دې اصلي ټولګيزه پېژندګلوي دا ده، چې دا بايد د مصرعو



د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پابنده وي. د آزاد نظم په شان کېدی شي چې مصرعې یې کوچنۍ او غټې وي، خو په هغو کې د نثریت پر ځای باید شعریت شتون ولري.
د مصرعو د شتون او شعریت (چې پکې اجمال، ابهام، استعاره او تکرار هم کارول شوي وي) له امله، یوه شعري فن پاره له نثري فن پارې څخه بېلېدی شي.
اقبال کرشن وایي:

- نثري نظم ناچار دی. دا د شعري اظهار، خالص یا سوچه چوکاټ دی.

که چېرې نثري نظم د شعري اظهار سوچه چوکاټ (Form) وګڼل شي، نو د اردو د پابندې شاعرۍ غټه سرمایه به په ناخالصه یا ناسوچه توګه و شمېرل شي.
حقیقت دا دی چې د شاعرۍ لپاره کوم ځانګړی سبک نه ټاکل کېږي، بلکې له خپلې ځانګړې ژبې څخه پېژندل کېږي، هغه ځانته خاصیت لري چې درناوی یې حتمي دی. د نورو شعري ټولګیو په څېر نثري نظم هم یو ټولګی دی. یو ټولګی پر بل باندې لوړ ګڼل ناپوهي ده او هر ټولګی ځانته غوښتنې لري، چې د هر یوه په رڼا کې باید ځان ځانته د هغوی په اړه پرېکړه وشي.

## شعري مقاله

- معید رشیدي د (عروض، معروض او نوي بوطیقا) په نوم خاصه، د تخنیکي څرنګوالي په اړه یوه مقاله، لوستونکو ته وړاندې کړې ده. هغه په دې مقاله کې نثري نظم له ټولو شعري قواعدو څخه آزاد بللی، چې نشي زغمېدلی. که چېرې


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثري نظم له تخنيکي لوازمو څخه آزاد شي، نو بيا د شعريت او ښکلا تمه هم هسې
عبث ده. مستقيماً شعري مقاله وليکئ.
مستقيماً نه شعر ويل کيږي او نه هم کومه مقاله ليکل کيږي. ممکن يو کار وشي، چې هغه
له لوستلو پرته ليکل دي او هغه ده، همداسې هم کيږي.
د دغې ليکنې مقصد افهام او تفهيم او د تېروتنو له منځه وړل دي. موضوع د نثري نظم ده،
نه د شعري مقالې.
خبره داده چې علي محمد فرشي په (سمبل) کلنۍ کې زما (عروض، معروض او نوی
بوطيقا) مقاله په ۲۰۱۰م کې خپره کړې وه، چې د بلې ګڼې ۲۰۱۱م په بحثونو کې ځينو کسانو
زما معروضاتو سره مخالفت ښودلی ؤ او ډېرو بيا مثبت غبرګون ښکاره کړی و. د دې مقالې
تر څنګ ما يو څو نورې خبرې هم کولې، چې د غه مخالفت بيخي د محرک دنده پر مخ بوتله.
اعتراض:

- (دا خاصه د تخنيکي ځرنګوالي مقاله ده).

له دې ډلې څخه احمد صغير صديقي(کراچۍ څخه) ليکلي دي: (د معيد رشيدي هم
همدغسې يو په زړه پورې مضمون دی).(۲)
له (تخنيکي خاصې) څخه مو څه ده؟ دا هېڅ امکان نلري چې د علمي او ادبي اعتبار له
مخې يو مضمون په زړه پورې وي او په څنګ کې ورسره تخنيکي خاصه هم ولري.
نقاد خو څه ترکاڼ نه دی، ما يو مضمون ليکلی، کوم ميز يا څوکۍ خو مې نه ده جوړه کړې.
بله دا چې تنقيد خو څه احسائيه نه ده، چې د رياضي پر اصولو باندې دا مقاله ليکل شوې
وي. خبره دا ده چې زموږ په ادب کې د شاعرۍ او عروض په برخه کې يو څه کليشو ځای
نيولی دی، چې په دې کې د هغو د له منځه وړلو هڅه شوې ده.
داسې ويل کيږي چې ښه عروض پوه، ښه شاعر نشي جوړېدی، موزون کلام دې وي او
متکلم دې په ارادې سره موزون کړی وي. شاعري موسيقي ده او موسيقي شاعري. د
عروض علم د شاعرۍ لپاره اړين علم دی. د شعر بنسټ پر عروض باندې ولاړ دی. د شعر
لپاره دا هم اړينه ده چې هغه قصداً يا اراداتاً په کوم وزن کې راوستل شي يا موزن کړی شي.
اخر دا ټول څه دي؟ د دغو ټولو خبرو اصليت څومره دی؟
په وار وار د اورېدو لامل هغه وخت ډېر ګټور تماميږي، چې غور پرې وشي.
خبره دا ده چې ښه عروض پوه، ښه شاعر کېدی شي. دا ناممکنه نه ده او نه هم مستثناء ده. دا
فقره چې وايي: (عروض پوه ښه شاعر نشي کېدی)، د کلاسيکي سبک ټول استادان تر


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې لاندې راولي. د غالب په اړه څه فکر کوئ او د مومن په اړه څه ویل غواړئ؟ دا خو دې هم څوک وپوښتي چې: موزون کلام وي نو شعر یادیږي. آیا هر موزون کلام ته شعر ویل کېدی شي؟ څوک دا ځواب راکوي؟

هغه کلام چې په ارادې سره موزون شوی وي، نو هله بیا شعر ورته ویل کیږي. اوس دلته خبره دا ده چې له (ارادې) څخه مراد څه دی؟ دا خو تر اوسه پورې نه ده څرګنده شوې، خو که پر شاعر باندې د (په ارادې) شرط ولګول شي، چې هغه دې د شعر لیکلو په هوډ کښېني، نو باور وکړئ چې هر شاعر به له دغې مسئلې څخه توبه ګار شي.

دا هم ویل کیږي، چې شعر باید قصداً یا ارادتاً پر یو وزن باندې ور واچول شي. خو کوم خوارکی چې په ګرندۍ توګه وزن نشي ټاکلی، د هغه به څه حال وي؟

پر یو وزن باندې د شعر له وراچولو څخه مراد دا دی، چې باید له مخکې نه په یو ټاکلي وزن کې راوستل شي، دا چې بیا نوي اوزان رامنځته کیږي، له هغو نه به څه جوړ شي؟

د شاعرۍ او موسیقۍ تر منځ توپیر کولو ته به اړتیا ځکه وي، چې دواړه ځان ځانته محرکات او اړتیاوې لري، د دواړو تر منځ جزوي اړیکې شونې دي، خو ټولیزې نه. که چېرې د عروض علم د شاعرۍ لپاره اړین وي، نو هر شاعر باید له شعر ویلو وړاندې د عروض په زده کړې پسې لاړ شي. آیا دا به د هر شاعر لپاره شونې وي؟ یا د شاعرۍ اصولو همداسې څه ویلي دي؟ نن ورځ به څومره شاعران وي چې د عروض علم سره آشنایي ولري، له هغه نه د پاس کېدو خبره خو پر ځای پریږده.

اوسني شاعران وګورئ! چې شعر د ټولو په ژبه لکه ورد داسې روان وي. (من ندانم فاعلاتن فاعلات) که چېرې په ذهن کې موزونیت شتون ولري، نو د مفاعیلن ګردان ته اړتیا نشته. دا په دې معنا نه ده چې عروض ته له سره هېڅ اړتیا نشته. دا بیخي غلطه پوهېدنه ده، د شاعرۍ څېړنه د عروض له مطالعې پرته بشپړه نه ده او د یادونې وړ ده چې شعر څېړنه او شعر ویل دواړه بېل څیزونه دي. د شعر پر ماهیت که هر څومره پوښتنې راولاړې شي او کلیشې پکې له منځه یوړل شي، نو شعر به په زړه پورې شي، خو تخنیکي هېڅ وخت نه.

د عروض د نوم په لېدو سره ځینې کسان وارخطا کیږي، هغوی داسې وویریږي لکه زده کوونکي چې له ریاضي څخه ویریږي. د عروض په تخنیکي یادولو ټینګار داسې دی، لکه آواز چې هېڅ خپل روح ونلري او همدارنګه جذبې سره هېڅ کوم تړاو ونلري.

اعتراض:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- معید رشیدي، نثري نظم له ټولو شعري قواعدو څخه آزاد بللی چې زه یې نشم هضمولی.

رښتیا هم، کله چې هاضمه سمه نه وي، نو زیاتره وخت کانګې ګرځي.
اعتراض:

- که چېرې نثري نظم له تخنیکي لوازمو څخه آزاد کړی شي، نو بیا د شعریت او ښکلا تمه هم هسې عبث ده، مستقیماً شعري مقاله ولیکئ.

په نثري اقتباساتو کې خو شعریت موندل کیږي، خو شاعري بیا په اقتباس باندې نکیږي، ځکه چې شاعري په مصرعو کې وي او د شعر ویلو عمومي اصول دي.
تخنیکي لوازمات څه دي؟ دا خبره یې هم باید د اعتراض په توګه کړې وای! څو د پابندې شاعرۍ تخنیکي لوازم جوت شوي وای. زما په اند خو د پابندې شاعرۍ تخنیکي شرط یوازې د بحر پابندي ده او د بحر پابندۍ برسېره نور هر څه د شعریت جوړښت سمبالوي.
نثري نظم د پېښنو له تکرار څخه په ځانګړې ډول تش دی. چې دا د هغه لپاره عیب نه، بلکې د پېژندګلوۍ اساسي وسیله ده. که په کوم نظم کې د شعریت ټول اړخونه په پام کې نیول شوي وي او یوازې یو ټاکلی بحر په پام کې نه وي نیول شوی، نو د شعر ماهیت ته هېڅ زیان نه رسیږي. د وزن په یو اړخ باندې د ټینګار کولو له امله، نور ټول شعري توکي له منځه نه شو ویستلای.
د شاعرۍ لومړی اصل دا دی، چې د شعر جوړښت په شعریت سره کیږي، نه د پېښنو تکرار سره. د پېښنو تکرار یوازې ځانګړی خوند او ښه وربښي.
یو څوک به رباعي خوښوي او بل به مثنوي، نو د دې دا مطلب شو چې ګواکې رباعي ښه شعر دی او مثنوي ښه نه دی. کېدی شي د الف غزل خوښیږي، نو دا په دې معنا نه ده چې د ب مرثیه خوښیږي او هغه کمزوری صنف دی. زما د مقالې موخه او مفهوم همدا ؤ، چې یو صنف پر بل باندې لوړ بلل، ناپوهي ده. هر صنف خپلې ځانګړتیاوې لري، نو د همدې لپاره په کار ده چې نثري نظم هم د هغه د شاعرۍ په رڼا کې وکتل شي.
که په پابنده شاعرۍ کې بحر ته پام وشي، خو په شعر کې شعریت او ښکلا نه وي، نو هغه روغ نه دی. کټ مټ همدغسې که په نثري نظم کې د پېښنو ځانګړی تکرار و نه ساتل شي او شعریت او ښکلا ونلري، نو دا هم روغ نه دی.
د شعر لپاره شعریت لومړنی شرط دی. دا یوازې د دې لپاره چې په نثري نظم کې ټاکلی وزن نه تکراریږي، نو دغه وینا چې (په هغه کې د شعریت او ښکلا غوښتنه عبث ده) پر حماقت



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړه ده. دا داسې معنا ورکوي، لکه د کور یو تن چې د کورنۍ له اصولو څخه سرغړونه وکړي او بیا هغه له کوره وشړل شي. بلکل د نثري نظم د حق په برخه کې همدغسې کانه شوېده.

اعتراض:

- معید رشیدي د (عروض، معروض او نوی بوطیقا ) تر سرلیک لاندې د عروض هنري نیمګړتیاوو او ښېګڼو ته یوه کتنه کړېده. هغه په دې اړه د انګریزي ادیبانو سربېره د عربي، فارسي او اردو ادب نامتو شخصیتونو نظریات هم راغونډ کړي او په څنګ کې یې ورسره خپل اختلاف او تایید ته هم ځای ورکړی دی. خو دا بیا یوه په زړه پورې خبره ده چې د مضمون اړوند د هغه اختلاف او تایید هم تر تنقید لاندې راتلی شي. د ساري په توګه، هغه یو ځای کې داسې وایي: په تخلیقي کړنه کې زیاتره وخت په دې څوک نه پوهیږي چې مصرعه به په کوم بحر کې رامنځته شي او کوم-کوم زحافات به پکې راځي؟ دا پرېکړه د شعر له جوړېدو وروسته کیږي، چې شعر په کوم وزن او کوم بحر کې دی او په هغه کې کوم زحافات کارول شویدي. زه هیڅ وخت په دې اند نه یم، چې که کوم شاعر د عروض سره څه ناڅه آشنا وي، نو هغه لومړی شعر وایي او بیا ګوري چې دا په کوم بحر کې دی او آیا په دغه وزن کې دی کنه؟ دغسې شاعر مخکې له دې چې خپل خیال د شعر په قالب کې ور واچوي، هغه په دې هڅه کې دی چې خپل خیال ته په کوم بحر کې په ښه توګه شعري تن ور وبخښي. بحر تل د هغه په ذهن کې وي او د تخلیقي ځواک په مرسته خپل افکار په شعري قالب کې ور اچوي.

ورو ره ! په دې خبره خو هر هوښیار سړی پوهیږي، چې شاعري د انټرنېټ نندارہ نه ده، چې څه زړه وغواړي او همغسې وشي. اوس دا هم چې په کوم بحر کې زړه وغواړي، نو نظم دې کړی شي.

زه اوس هم دا وایم چې په تخلیقي کړنه کې اکثراً (تل نه) دا معلومات نکیږي، چې مصرعه به په کوم بحر کې رامنځته کیږي.

تخلیقي کړنه څه ده؟ تخلیقي هیجان څه ته وایي؟ تخلیقي خوښي او ښکلا څه دي؟ که چیرې دا خبره سمه وي چې تخلیقي راز، بشپړه ژوره داخلي تجربه ده، نو آیا حدود ورته ټاکل کېدی شي؟ که نشي کېدی، نو بیا دې هغه د تخلیق د پېچلتیا اعتراف وکړي. زه پخپله شاعر یم، د شعر ویلو پر وخت ماسره زیاتره وخت داسې کیږي، چې یو خیال زما په



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهن کې را ګرځي او یوه داسې مصرعه په ذهن کې راوځلیږي، چې هغه ځانته پېښې غوره کوي. داسې نکیږي چې لومړی یو خیال په ذهن کې راوړل شي او بیا دا پرېکړه وشي، چې د هغه شعر جوړولو لپاره کوم ډول بحر غوره دی. زه دا نه وایم چې له مخکې نه د کوم بحر ټاکل امکان نلري، کېدی شي چې یو څوک په دغه هوډ کښیني چې نن هغه په هزج بحر یا جز بحر کې شعر لیکي او رښتیانی هم چې وبه یې لیکي، خو خبره داده چې بیا نو تخلیقي سرشاري او بغاوت څه ته وایي؟ تخلیقي جادو او محویت څه ته ویل کیږي؟
کله چې ذهن موزون کیږي او تخلیق غلبه کوي، نو بیا:

څوک خبر دي چې دا کافرې سترګې د چا دي
خو دومره پوه یم چې هیڅ ایمان ثابت نه دی مړ

د غزل یا نورو ټولو پابندو صنفونو لومړنی بیت د ذهني پنځوني او تخلیقي لبوالتیا زیږنده ده. همدغه بیت دا ټاکي چې د شعر راتلونکي بیتونه په کوم بحر یا وزن کې وي.
دغه وینا چې عروض سره آشنا (شاعر، مخکې له دې چې خپل یو خیال د شعر په قالب کې واچوي، هغه د ځان سره دا سنجوي، چې خپل دغه خیال ته په کوم بحر کې په ښه توګه شعري تن ور بخښلی شي) د بحث وړ مسأله ده. خو دا خبره ناسمه ده چې شاعر تل خپل خیال ته مخکې له دې چې شعري قالب ورکړي، هغه پرېکړه کوي چې دغه خیال په کوم بحر کې په ښه توګه څرګند بدلی شي.
د تل لپاره خو یوه موضوع نه وي، نو آیا خیال او شکل بېل بېل څیزونه دي؟
آیا داسې هم شونې ده، چې لومړی خیال په ذهن کې را وګرځي او بیا دا پرېکړه وشي چې دا خیال په کوم بحر کې مناسب دی؟ شاعري کله دومره وخت ورکوي، تخلیق کله دومره اجازه ورکوي چې فکر په لاس کې ونیول شي او بیا پیمانه ولټول شي.
موزون خیال په موزون شکل کې څرګندیږي، چې همدغه شکل ته شاعر تسلسل وربخښي.
هر کله چې یوه مصرعه په ذهن کې راګرځي، نو د فکر او وزن سره راځي. یوه مصرعه د فکر او وزن په امتزاج سره رامنځته کیږي. د مصرعې له رامنځته کېدو وروسته په فکر کې بدلون راځي، خو بحر په خپل حالت پاتې کیږي.
د شاعرۍ تصوري اړخونو لپاره د قانون ټاکل ناسم دي. په دغه بحث کې دواړه خبرې ممکنې دي. یوه دا چې شاعر له مخکې نه بحر ټاکي او شعر وایي. بله دا چې ناڅاپه یوه مصرعه په ذهن کې را وځلیږي او بیا د هغې له مخې راتلونکو بندونو ته بحر ټاکل کیږي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تر ټولو غوره خبره دا ده چې خیال د ځان سره خپل بحر راټوکوي، چې دغه موزونیت پر فکري او بحري سطحه باندې ښه مومي او ډېر بریالی وي.

احمد خیال په خپل اعتراض کې وایي چې، بحر تل د شاعر په ذهن کې وي او هغه د تخیلي ځواک په مرسته خپل افکار د شعر قالب ته وراچوي.

زه غواړم، موصوف باید په دې وپوهیږي، چې کله بحر د شاعر په ذهن کې شتون ولري، نو د تخیلي ځواک مفهوم څه دی؟ که شاعر د متخیله ځواک په مرسته شعر وایي، نو بیا د بحر یا وزن ټاکنه څه معنا لري؟ که بحر له مخکې نه په ذهن کې وي، نو شاعر ولې تم کیږي او چورت وهي چې خپل خیال په کوم بحر کې را ونغاړي؟

خیال خپل قالب پخپله ټاکي او شاعر دغه قالب په تسلسل کې مخ پر وړاندې بیایي.

اعتراض:

- معید رشیدي، د زار علامي په دغه قول (د عروض علم د شاعرۍ لپاره اړین علم دی) باندې څه داسې نقد کړی دی: (د عروض دغه تعریف ګمراه کوونکی نه، بلکې سپکاوی دی. زموږ په دوره کې ډېر داسې نامتو او تکړه شاعران شته، چې عروض سره نا آشنا دي. هغوی د خپل فطري استعداد او مینې له برکته شعر وایي او ښه شعر وایي، د هغوی لپاره خو عروض هېڅ خنډ نه پېښیږي). د معید رشیدي دا خبره (ډېر داسې شاعران شته چې په عروض باندې د نه پوهېدو سره سره بیا هم په ډېره لوړه کچه شاعري کوي) د منلو وړ ده. خو دا هم باوري نه ده چې د هغوی په ټولو شعرونو کې به د وزن له پلوه کومه نیمګړتیا شتون ونلري.

 هغه شاعران چې په عروض باندې ښه پوهېږي، ځینې وختونه د څو بحرونو تر منځ د تیروتنې ښکار ګرځي او د رجز په بحر کې د رمل بحر اچوي، نو هغه څوک چې په عروض نه پوهېږي، د هغوی تېروتنه به دومره ستونزمنه نه وي. دا خبره سمه ده چې ټول عروض پوهان ښه شاعران نشي جوړېدای، خو دا په دې معنا نه ده چې د شاعرۍ لپاره عروض ته هېڅ اړتیا نشته.

ذهني روزنه په شعري مطالعه باندې کیږي، هغه داسې چې د شعر په اورېدو او لوستو سره په ذهن کې موزونیت رامنځته کیږي. که چېرې دغه کړنه ترسره نشي، نو د عروض تر پوهېدو وروسته هم ممکن، شعر بې بحره شي او یا هغه داسې ولوستل شي چې بې بحره ښکاره شي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شاعر په عروض وپوهېږي، نو دا د هغه اصلي نه، بلکې اضافي صفت دی. د شاعرۍ لپاره د شعري روزنې اړتيا ده، عروضي روزنه يو اضافه څيز دی او تر کومه پورې چې د نېمګړتيا مسأله ده، هغه د عروض تر پوهېدو وروسته هم کېدی شي چې پېښنه شي، له همدې امله ذهني موزونيت ډېر اړين دی.

زما دريغ خو دا دی، دغه وينا چې (د شاعرۍ لپاره عروض يو اړين علم دی) دا بلکل ناسمه ده. که چېرې دا يوه عامه قاعده وای، نو هرومرو به هر شاعر په عروض باندې ځان پوهولی. خو دا هېڅ امکان نلري. کله چې ګڼ پياوړي شاعران چې په عروض باندې نه پوهيږي، شتون لري. بيا نو تر دې غټ مثال بل څه کېدی شي، چې د عروض له پوهېدو پرته هم ښه شاعري کېدلی شي. که دغه مثال سم وي، نو د شاعرۍ لپاره عروض څنګه اړين علم شو؟

اعتراض:

- معيد رشيدي په يو بل ځای کې د ټي ايس اليټ يو پراګراف رانقلوي: (کله چې ما د عروض قواعد د انګريزي شاعرۍ سره پرتله کول، نو زما په ذهن کې دا يوه پوښتنه په وار وار راولاړېدله، چې که د عروض پر قواعدو ټولې مصرعې په بشپړه توګه برابرېږي، نو بيا ولې يوه مصرعه خوندوره وي او بله نه؟ د عروض علم زما دې پوښتنې ته ځواب رانشوی کړی). دلته ټی ايس اليټ پخپله اعتراف کوي چې ټولې مصرعې د عروض پر قواعدو په بشپړه توګه برابرېږي، نو د عروض دنده همدلته پای ته ورسېده. هغه ته په دغه ځای کې د عروض له علم څخه، ځواب غوښتلو ته هېڅ اړتيا نه وه، بلکې د هغې خبرې پلټنه يې کړې وای، چې داسې کوم لامل دی، چې له امله يې ځينې مصرعې کمزورې تر سترګو کيږي؟آيا د هغو مصرعو په صفت کې کومه ستونزه ده يا که په هغو کې د شعري ښايستونو کمی دی.

ټي ايس اليټ چې په کوم تړاو پوښتنه را ولاړه کړېده، هغه دې ته اړ ؤ چې بايد په دې خبره باندې ځان پوه کړي. خو ډېرې مهمې مسئلې ته يې اشاره کړې. چې يعنې د شاعرۍ لپاره ذهني شعري روزنه اړينه ده او له عروض پوهنې پرته هم ښه شاعري کېدی شي.

عروض پوهنه حتمي نه، بلکې اضافي وصف دی. معنا دا چې د شعر جوړښت په عروضي پېښنو نه کيږي، بلکې شعري توکي ورباندې ښاويږي. ښه نو ، که د عروض دنده يوازې همدا وي چې د کلام ظاهري بڼه ترتيب کړي، نو هېڅ خبره نه ده، ولې ټينګار کيږي چې د شعر ويلو لپاره عروض پوهنه اړينه ده؟ د شعر ظاهري بڼه خو له عروض پوهنې پرته هم



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتیببدلی شي. اوس باید معترض پخپله دا پرېکړه وکړي چې د شاعرۍ لپاره ښکلا پېژندنه اصلي ځیز دی او یا که د افاعیل ګردان.

خوشحاله یم چې ډېرو مهمو کسانو د (عروض، معروض او نوي بوطیقا ) مقالې هر کلی کړی. خو دې سره سره بیا هم ځینې خلک په دې اند دي چې دغه مقاله د نثري نظم په ملاتړ لیکل شوې ده.

نه، داسې نه ده، دا د عروض په اړه د افراط پر خلاف لیکل شوې ده، د کوم صنف په ملاتړ یا مخالفت، د کوم صنف په لوړتیا یا کمتیا او د سوچه یا ناسوچه ثابتولو لپاره نه ده لیکل شوې.

یاده مقاله په دغه ډول پای ته رسېدلې ده:

- که نثري نظم د شعري اظهار سوچه فورم فرض کړی شي، نو د اردو د پابندې شاعرۍ دا لویه شتمني به ټوله په ناسوچه کتار کې راشي. حقیقت خو دا دی چې د شاعرۍ لپاره هېڅ کوم ځانګړی سبک حتمي نه دی، دا له خپلې ځانګړې ژبې څخه پېژندل کیږي او هغه ځانته یوه ځانګړنه لري چې باید ارزښت ورکړل شي. د نورو شعري صنفونو په څېر نثري نظم هم یو صنف دی او یو صنف پر بل باندې لوړ ګڼل حماقت دی.

  هر صنف ځان ځانته اړتیاوې لري، نو د همدې لپاره د هر صنف د شعر پوهنې په رڼا کې باید د هغو په اړه پرېکړه وشي.

کېدی شي، له دې پایلې وروسته تیروتنه وشي، چې دا د نثري نظم د حمایت لپاره لیکل شوېده. خو داسې نه ده، دا د شعر پر ماهیت باند خبرې کوي او دغه مقاله نثري نظم ته پوښتنه مخامخ کوي. د شاعرۍ د ماهیت په بحث کې نثري نظم مهمه موضوع ده. دلته خبره د صنفي لوړتیا نه، بلکې د صنفي اړتیاوو ده. دغه ویناوې چې نثري نظم هر څوک ویلی شي، یا کله چې شاعر په پابنده شاعرۍ کې پاتې راشي، نو نثري نظم ته مخه کوي، دا ټولې بې ځایه دي.

سارا شګفته په خپل یو نظم (د نثري نظم په عنوان) کې داسې وايي:

شاعري د نښا زنګ نه دی چې په مستۍ به ناڅي
وخت لاړ
چې خواجه سرای نړیده، نسکوریده
او پر مرګ یې لاسونه پړکول



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې کسان په دې اند دي چې، له بېکارۍ نه ښه دا ده چې نثري شاعري وشي. که هغوی په دې توګه نثري نظم لیکلی شي، نو هغوی باید د فاعلاتن فاعلاتن فاعلات (سر دې مات شه، پښې دې ماتې، او لاس مات) په شخوند کې پاینده شاعري پرېږدي:

زموږ د اوښکو سترګې جوړې شوې
موږ د خپلو خپلو کښتیو رسۍ کش کړې
او په خپلو خپلو کې سره ولګېدو
د ستورو اواز، تر اسمانه زیات زمکه اوري
ما د مرګ وینښتان پرانستل
او په درواغو وغځېدم
خوب د سترګو بیاتې لوبوله
ماښام دوه رنګونه زغمل
پر آسمانونو زما سپوږمۍ پور ده
زه د مرګ په لاسونو کې یو ځراغ یم
د ژوند په پیل کې د مرګ بهیر وینم
په زمکو کې زما انسان دفن دی
له سجدو سر راپورته کړه
مرګ زما په غېږ کې یو بچی پرېښی دی
سارا شګفته


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر

شعر څه ته وايي؟ ښکاره تعريف يې دا کېدی شي، چې شعر د داخلي جذباتو او احساساتو څرګندونه ده. خو په ادبي تنقيد کې د شعر په اړه ډېر محدود تصور دی. که شعر د تخليقي او داخلي تجربو (جذباتو او احساساتو ) څرګندونه وي، نو بيا همدغه تعريف د ناول، افسانې او همداسې نورو صنفونو لپاره هم صدق کوي.
د شعر پر ماهيت باندې له غور او فکر کولو څخه دا جوتيږي، چې شعر د الفاظو او معناوو هغه غوره جوړښت او تنظيم دی، چې له اړوندې پېښې وروسته رامنځته کيږي. دا تنظيم د مختلفو توکو شريکه پايله ده، چې د همدغو توکو له امله په شعر کې ډېره ژورتيا ، ډېره مبالغه، ډېره پراختيا او ډېره پياوړتيا رامنځته کيږي. همدارنګه د هغه بهرني يا ظاهري محدوديت هم د معنوي اعتبار له مخې پراختيا مومي.
دا ځل د همدغو توکو پلټلو او څېړلو ته مخه کوو ، چې د دې څېړنې موخه د شعر (تخليق) په ترتيب او تنظيم کې د ټولنيز جوړښت پېچلې غوټې خلاصول دي.
د فن ماهر چې کله د شعر ترتيب او چمتو کېدو ته ځير شي، نو بې ځنډه يې پر هغو توکو هم سترګې لګيږي، له کومو چې شعر بڼاو شوی دی. خو دا توکي څنګه پېژندل کېدی شي؟ آيا پېژندنه يې شونې ده کنه؟
شمس الرحمن فاروقي چې په ۸۸ مخونو کې د (شعر، غير شعر او نثر) په اړه کوم څه ليکلي، په هغه کې يې يو تيزس (Thesis) هم راوړی دی. هغه داسې ده، چې د شعر هغه معروضي پېژندنه شونې ده، چې له امله يې شعر له نثر څخه بېلېدی شي.
د لږ ځنډ لپاره دلته د معاصر تنقيد لړۍ دروو او خپلو پخوانيو تنقيدي رواياتو ته مخه کوو. ګورو چې څه ځواب مومو؟ په آب حيات (د اردو نظم تاريخ) کتاب کې مولانا محمد حسين آزاد شعر يا نظم له الهی صنايعو څخه داسې يو عجيب صنعت ګڼي چې: (په لېدلو يې عقل حيرانيږي، لومړی يو مضمون په يوه کرښه کې ځای پر ځای کوو ، بيا همدغه مضمون يوازې د کلمو (لفظونو ) په وړاندې او وروسته کولو سره ګورو. چې نه يوازې يو بل عالم جوړيږي، بلکې په هغه کې ځو کيفيتونه رامنځته کيږي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد دغه کیفیتونه په درې جملو کې څرګندوي:

- هغه ځانګړې صفت دی، چې ټول ورته موزونیت وايي.
- په کلام کې زور ډېرېږي او مضمون دومره اغېز مومي، چې د اغېز ګوزار يې برابر پر زړه لګېږي.
- په ساده خبره کې داسې نرمي را پيدا شي چې ټول يې لولي او خوند ترې اخلي.

خو موزونيت بيا څه دی؟ په شعري توکو کې هغه کوم توکي دي، چې له امله يې په کلام کې زور ډېرېږي او بې ساري اغېزمنه کېږي؟ هغه داسې څه دي چې په ساده خبرو کې نرمي پيدا کوي او خلک يې لوستلو سره خپل سرونه خوځوي؟

که د دغو پوښتنو ځواب له آزاد څخه وغواړو، نو څه ناڅه به مايوسه پاتې شو. ځکه چې د هغه په زمانه کې شعر پوهنه، د شعر جوړښت او د هغه د وزن په اړه د افهام او تفهيم کچه دومره پرمختللې نه وه. خو د وخت په تېرېدو سره ورو- ورو د ختيځ په ځراغ کې د لويديځ رڼا را دننه شوه.

دغه يې لاڅه کوي، کله چې عبدالرحمن بجنوري دا وايي: د بوطيقا له مخې (د شعر بنسټ پر عروض ولاړ دی)، نو يقيناً موږ په چورت کې اچوي.

د شعر په بېلا بېلو اجزاوو کې، عروض هم مازې يو جز دی. عروض په قطعي توګه د شعر اصل نه دی. آيا بجنوري به دا دوه مصرعې، شعر وګڼي؟ چې د عروض په تله هم پوره برابرې دي:

روښنايي روښنايي روښنايي روښنايي (فاعلن فاعلن فاعلن فاعلن)
تـاريکي تـاريکي تـاريکي تـاريکي (فاعلن فاعلن فاعلن فاعلن)

(د سالم مثمن متدارک بحر )

روښنايي د ژوند او تاريکي (تياره) د مرګ تشبيه کېدی شي. مصرعې رواني دي او د کلمو تکرار هم پکې دی. د غږ له پلوه هم سست نه دی او نه يې په کوم توري کې درېدنه شته. خو بيا هم د دغو ټولو ښېګڼو سره -سره شعر نه شي کيدی، ولې؟ د دې ځواب د عبدالرحمن بجنوري سره نشته. ان د (بحر الفصاحت) خاوند نجم الغني سره هم نشته. ځکه چې هغه هم، عروض د شاعرۍ بنسټ ګڼي:

خبرې دي په سترګو، د سترګو راز و نياز
د عروض خبرې پر ژبه او وينا نه راځي



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



(احمد مشتاق)

حالي د شاعرۍ لپاره وزن، ردیف او قافیه حتمي نه دي ګڼلي، هغه په دې اند دی، چې شعر د وزن محتاج نه دی. هغه صنایع او بدایع عیب بولي. په خپله مقدمه کې یې ډېر شعرونه رانقل کړي او هغه یې په لنډه توګه څېړلي دي. د هغه وینا سره سم، که په شعر کې د عادي ژبې سره د خبرو اترو صحت هم شتون ولري، نو شعر به ربښتیانی ښه وي. په هغه باندې د ساده او طبیعي شاعرۍ اغېز دومره و، چې مبالغه یې د شعر لپاره وژونکي زهر بلل. هغه د شاعر کېدو لپاره درې شرطونه (تخیل، د کایناتو مطالعه او د الفاظو تفحص) څرګند کړي دي. هغه چې کوم شرایط د شاعر لپاره څرګند کړي، د هر افسانه یا ناول لیکونکي لپاره هم متوجه کېدی شي.

د شعر هغه درې ښېګڼې یې چې یادې کړې، هغه د تخلیقي نثر لپاره هم صدق کوي. تخیل، د الفاظو فصاحت او بلاغت، سادګي، اصلیت، جوش، د ورځنیو خبرو پیاوړتیا، د لهجې صحت او ...... دغه ځانګړتیاوې د شعر برسېره په تخلیقي نثر کې هم کارول کېدی شي.

تشبیه، استعاره، سمبول، کنایه، د مرسل مجاز برسېره پر دې چې شعر سره تړاو لري، بلکې تخلیقي نثر سره یې هم لري. خو تخلیقي نثر وایي څه ته؟آیا شعر او تخلیقي نثر په یو شان دي او یا که بېل بېل څیزونه دي؟ په کوم نثر کې چې ژبه په تخلیقي توګه کارول کیږي، هغه تخلیقي نثر دی. مثلاً: افسانه، ناول او د انشائیه نثر. په داسې حال کې چې تنقیدي، منطقي، معروضي او ساینسي یا توضیحي نثر ته تخلیقي نثر نه ویل کیږي. د شعر او تخلیقي نثر تر منځ ځینې ګډې ځانګړنې شته، خو د دواړو په حدودو او قواعدو کې ډېر توپیر دی.

په شعر کې ابهام وي، حال دا چې په نثر کې توضیح وي. په شعر کې اجمال وي، خو حال دا چې په نثر کې وضاحت او آن په تخلیقي نثر کې هم وي. که په نثر کې ابهام یا اجمال شتون ولري نو په هغه کې بیا تسلسل نشي پاتې کېدی. د شعر او نثر تر منځ لوی او تر ټولو پوره څرګند توپیر دا دی، چې د نړۍ په هره ژبه کې نثر په پراګراف کې لیکل کیږي، خو شعر بیا په مصرعو کې.

د شعر ضد څه دی؟نثر یا بل څه؟

حالي د دې ځواب داسې ورکوي:

- اوسنی د شعر پر ضد محقق داسې بریښي، لکه د نثر په وړاندې چې هېڅ خنډ نه وي، بلکې د علم او حکمت په وړاندې خنډ ګرځي. هغه وایي: لکه څنګه چې د



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمت دنده دا ده، چې په سمه توګه لاربښوونه وکړي، په څېړنو کې د مرستې وړ وګرځي او حقایق په ډاګه کړي. دا چې څوک ترې محفوظ، متعجب او اغېزمن کیږي که نه، هغه بېله خبره ده. همدغه شان پر سیخه لاره باندې د شعر دنده هم داده چې، سمدلاسه باید خوند، تعجب او اغېز ولري. دا چې د حکمت کوم مقصد ترې تر لاسه کیږي کنه، هغه بېله خبره ده او یا هم په نظم کې وي یا په نثر کې، هغه هم بېله خبره ده.

د حالي خبره پر ځای ده. د شعر ضد نثر نه، بلکې ساینس، حکمت او منطق دی. خو نظم بیا د نثر ضد ځکه کېدلی شي چې په هغه کې وزن په پام کې نیول کیږي، حال دا چې په نثر کې د غسې هېڅ نشته.

د شعر او نثر په اړه زما وروستۍ خبره دا ده، چې د دواړو تر منځ د کوم بشپړ توپیر ډېره ابېنودل ګران کار دی. دا هم اصل نشي کېدای چې نثر په مصرعو کې نه، بلکې په پراګراف کې لیکل کیږي.

د بېلګې په ډول:

زه ادب نغاړمه او پالمه ادب ما
زه ټیګور او غالب لوی شاعران ګڼم
زه همیشه غزل د شاعرۍ تاج ګڼم
په حقیقت کې د غزل فن د خبرو آبرو ده

آیا دغو له ځانه جوړو شویو مصرعو ته شعر ویل کیدی شي؟ که نه نو ولې؟ ځواب دا دی چې په هغو کې شعري خواص نشته. ټولې مصرعې په هزج، مثمن او سالم (مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن) بحرونو کې دي. خو بیا هم د شعر پر ځای هغه یو څرګند او واضح نثر دی. له همدې امله د شعر او نثر تر منځ، د کوم اصل یا قانون ټاکل به ناسم وي. البته که د افهام او تفهیم لپاره یو څه توپیرونه په ګوته شي، نو بده به نه وي. خو په ټولیزه یا بشپړه توګه نه.

دا ځکه چې مفروضه په هر ځای کې تل د منلو وړ نه وي. زه هغو خلکو ته دا خبرې نه کوم، چې د ادبي خبرو اترو سره مینه نه لري. هغو سره زه هېڅ بحث نه کوم چې په دې اړه په ټولیزو اصلونو پسې ګرځي. ځینې لوستونکي به په پاسنیو مصرعو کې هم ابهام، اجمال، لهجوي



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لفظ، استعاره او سمبول ولټوي. خو د هغوی یې وربانديې څه! هغوی غواړي چې بس موشګافي وکړي. هغوی ته خو په دا ډول شعر (معما) کې هم زر رنګونه تر سترګو کیږي:

انسان پر بخمل ګوره او مېړیان بادام کې
د مات سمندر تاو زلفې په کاږه بام کې
(ناسخ)

لنډه پر دي چې مفروضه، اصل نشي جوړېدی. داسې هم کېدی شي چې تاسو شعر ووایئ او زه پکې نثري جمله ولټوم. یا تاسو نثر ووایئ او زه سمدلاسه پکې شعري ځانګړتیا را وګورم. نو په همدغه ډول به دا شخړه روانه وي.

شمس الرحمن فاروقي چې د نثري خواصو لرونکی کوم تصور وړاندی کړی، د شعر او نثر تر منځ څرګند توپیر نه په ګوته کوي. یوازې د وزن د شتون له امله د شعر هغه دوه مصرعې، غیر شعر نشي کېدی، چې نثري ځانګړتیاوې ولري.

فاروقي صاحب لیکي: (اوس وخت را رسېدلی چې موږ باید د نثري ځانګړتیاوو لرونکي شاعرۍ باندې له باور کولو ډډه وکړو او د شعر د سلامتیا اعلان وکړو.

فاروقي صاحب چې په کوم اړوند خپله مقاله (شعر، غیر شعر او نثر) لیکلې او په کوم اړوند چې هغه دا پایله ترلاسه کړې، په هغې کې د دغې رایې په ورکولو سره هغه حق په جانب دی، خو زموږ نظر بیا یو څه بېل دی. د شعر پر سلامتیا باندې د باور کولو لپاره موږ د شعري ځانګړتیاوو ته لیواله یوو، نه د نثر معروضي پېژندګلوۍ ته. پر شعر باندې د څه لیکلو لپاره موږ شعري سیاق غواړو، ځکه زموږ ټینګار پر دې دی چې شعر څه ته وایې؟ دا نه چې نثر څه شی دی؟

د شعر پر سلامتیا باندې د خبرو اترو لپاره، موږ د نثر را مخکې کول نه غواړو او نه هم موږ د (شعر، غیرشعر او نثر) په شان کوم څېز لیکو. موږ په دې باندې هېڅ کار نلرو چې استعاره په نثر کې شته او کنه؟ تشبیه په نثر کې راوړل کیږي کنه؟ او داسې نور.

که په نثر کې دا ډول توکي راوړل کیږي نو را دې شي. که د اجمال، لهجوي لفظ او ابهام په شان ځانګړنې په نثر کې راتلی شي نو را دې شي. موږ یوازې دا جوتوو چې شعر له کومو توکو څخه عبارت دی؟ موږ غواړو چې د شعر پوستکي سره د هغه دننه او د هغه په هر رګ کې د هغه د وینې خوځښت او تګ وڅېړو. زموږ بحث دا نه دی چې د شعر او نثر تر منځ توپیر څه دی؟ دا ځکه چې موږ د افهام او تفهیم په وسیله ځینې پوښتنې راولاړوو او ځینې پایلې ترلاسه کوو. په دې تمحیص او تجزیه کې موږ د شعر محور سره- سره د هغه پر



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاشیوي توکو باندې هم نظر اچوو، څو داسې یو څه راغونډ شي چې که ټولیز تعریف یې نه وي، نو یو څه تفهیم خو وشي.
د دې موضوع د وړاندې بیولو لپاره مهمه پوښتنه دا ده، چې د شاعرۍ او شعر تر منځ توپیر څه دی؟ ممکن دا پوښتنه تاسو ته څه عجیبه غوندې وي، خو بیا هم ډېره په زړه پورې ده.
دواړه د یو څیز نومونه دي، یا که بېل بېل دي؟
څرګند ځواب یې دا دی، چې شعر د شاعرۍ یو جز دی او شاعري یو لوی سمندر دی، حال دا چې شعر د هغه یو څاڅکی دی. خو دغه څاڅکي په خپله مخه کې څومره سیندونه روان کړي او ساتلي دي. مثنوي، مرثیه، قصیده، غزل، نظم، رباعي، قطعه او نور د شاعرۍ صنفونه دي. هر شعر په خپل صنف کې د ملغلرې په شان دی، خو زموږ بحث پر شعر باندې دی، نه پر شعري اصنافو باندې.
کېدای شي د کوم صنف یو شعر، بېلا بېلې معناوې او ځانګړتیاوې ولري، مثلاً غزل. داسې هم کېدی شي چې دکوم صنف د ټولو شعرونو په خیال، موضوع او ترکیب کې تسلسل په پام کې نیول شوی وي او دغه تسلسل د دغه صنف فطري لوړتیا ته ډېر اړین وي. لکه د نظم بېلابېل ډولونه(مرثیه، مثنوي او نور) موږ په موضوع کې د تسلسل شتون یا نشتون سره هېڅ کار نلرو. زموږ موخه یوازې شعر دی، که هغه مثنوي، غزل او یا هم قصیده وي.
آیا په دې کتار کې آزاد او نثري نظم هم راتلی شي؟ که نه، نو ولې؟ په دې اړه مهم ټکی دا دی چې آیا د دوو مصرعو په یو ځای کېدو سره، هغه شعر کېدی شي یا هم هغه شعر یا دېدلی شي؟ ځواب به یې منفي وي. خو ولې؟ دا ځکه چې شعر څه داسې بنسټیز اصول لري، چې د هغو په پام کې نیول ډېر اړین دي. لکه څنګه چې هر صنف د هغه له بنې څخه پېژندل کیږي، نو همدغسې شعر هم ځانګړې بڼه لري. د شعر لومړنی شرط دا دی چې باید دوه مصرعې ولري، نو آیا د همدغه تعریف په رڼا کې، لاندنیو دوو- دوو مصرعو ته شعر نشي ویل کېدای؟

د خلکو د ښهرو
د نیم خلاصي کتاب په کرښه کرښه کې
زه داسې ورکیږم
چې دا مې هم په یاد نه پاتې کیږي
چې زه یو داسې کوچنی څاڅکی یم



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ریګ په دلی کې ورکیږي
(د څهرو نیم خلاصی کتاب- محمد حسن)

ما د پاسنیو مصرعو ترتیب نه دی بدل کړی. په پاسني نظم کې شپږ مصرعې دي. معنا دا چې دري شعرونه دي. خو د دوو - دوو مصرعو ترتیب سره سره بیا هم یادې مصرعې شعر نشي کېدی. دا له دې امله چې د شعر په جوړښت او اصولو کې نه راځي. نو د شعر معروضي پېژاند به څه وي؟ مخکې له دې چې د شعر معروضي تعریف وشي، د (شعر العجم) دغه اقتباس ته یوه کتنه کوو، تر څو د افهام او تفهیم لاره آسانه شي:

- د یو څیز د حقیقت او ماهیت ټاکلو، آسانه علمي لاره دا ده، چې لومړی د هغه یو ښکاره وصف را واخستل شي، وروسته بیا دا څرګنده شي چې په هغه وصف کې نور څه- څه څیزونه ګډ دي؟ بیا هغه صفتونه یو- یو بېلوو او په نښه کوو یې، چې له امله یې دغه څیز له خپلو او همجنسو څیزونو څخه جلا او ممتاز پاتې شوی وي.

د شعر ښکاره وصف دا دی، چې باید دوه مصرعې وي، دواړه مصرعې هم وزنه وي او د دواړو ارکانو شمیر مساوي وي، یعنې د دواړو مصرعو د ارکانو شمېر له څلورو کم نه وي.
زار علامي د شعر تعریف داسې کوي:

- د شعر لغوي معنا، پوهېدل یا پېژندل دي، په اصطلاح کې هغه تخیلي موزون کلام دی چې په اورېدونکي باندې ژور او پراخ اغېز کوي.

پخوا چې د شعر په اړه کوم تعریفونه وړاندې شوي دي؛ چې باید موزون وي، مقفي وي، معنا ولري او باالقصد ویل شوی وي. خو اوس داسې نه ده، په شعر کې لومړنی شرط د مقتضا معنا ده، د قافیې او قصد شرطونه بلکل ناسم دي. ځکه چې په نثر او شعر کې همدغه توپیر دی، چې نظم د بحرونو او وزنونو په ولکه کې دی، خو نثر بیا ترې آزاد دی. موزون کلام که قصداً رامنځته شوی وي او یا له قصد پرته، هغه ته موزون ویل کیږي.
شعر ته بیت یا فرد هم ویل کیږي. نو ځکه خو په شعر کې پر جوړښتي سطحه باندې د قافیې او ردیف شروط بې ځایه دي. که چېرې په شعر کې قافیه او ردیف مهم شرطونه وګڼو، نو بیا بیت یا فرد د شعر له تعریف څخه وځي. لکه دا دوه بیتونه:

کیا میں بہی پریشانی خاطر سے قریں تہا
آنکہیں تو کہیں تہی دل غم دیدہ کہیں تہا


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجال ترک محبت نہ ایک بار ہوئی
خیال ترک محبت تو بار بار آیا

لومړنی بیت د میر د دیوان یوه مطلع ده، چې پکې قافیه او ردیف دواړه په پام کې نیول شویدي. نو دا جوته شوه چې د قافیې او ردیف په پام کې نیولو سره د شعر یوه بله بڼه رامنځته کیږي. معنا دا چې هغه مطلع ګرځي او د قافیې او ردیف په پام کې نیولو سره به هر بیت مطلع وګرځي.

یاده دې وي چې ردیف له قافیې پرته نشي راتلی. د مطلع لپاره یوازې قافیه کافي ده، د ردیف شتون حتمي نه دی، خو خبره دا ده چې د ردیف سره صوتي او معنوي ښکلا ډیریږي او شعر روانیږي، نو له همدې امله د شعر په ظاهري جوړښت کې قافیې او ردیف ته اړتیا پېښیږي.

دوهم بیت د وحشت کلکتوي دی، چې نه پکې قافیه شته او نه ردیف. ځکه خو هغه ته شعر، بیت، فرد هر څه ویلی شئ. د همدې لپاره د شعر جوړښت پېژندنه باید داسې وشي: لومړی دا چې د شعر دواړه مصرعې باید تخیلي موزونیت ولري. دوهم - یوه مصرعه باید لږ تر لږه له دوو رکنونو جوړه وي، معنا دا چې په یو بیت کې باید لږ تر لږه څلور ارکانه شتون ولري. چې عروضیانو څلورو واړو ارکانو ته بېل بېل نومونه ټاکلي دي: د لومړنۍ مصرعې لومړی رکن (صدر) او وروستی رکن یې (ضرب یا عجز) یادیږي.

د دوو رکنونو په مصرعه کې حشو نه وي، حشو هغه ارکان دي چې د صدر، عروض او ابتدا، ضرب یا عجز تر منځ واقع وي.

مثال:

په مصرعه کې دوه رکنونه

| | | |
|---|---|---|
| لومړۍ مصرعه | روښنايي | روښنايي |
| دوهمه مصرعه | تاريکي | تاريکي |
| | فاعلن فاعلن | فاعلن فاعلن |
| | صدر ابتدا | ضرب/عجز عروض |

په مصرعه کې درې رکنونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| لومړۍ مصرعه | ژوند دی | که کوم تو | فان دی |



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاعلاتن فاعلاتن فاعلن
صدر حشو عروض
دوهمه مصرعه مورږ خو ددي ژوند له لاسه مړه شوو
فاعلاتن فاعلاتن فاعلن
ابتدا حشو ضرب/عجز

د هرې فن پارې په شان شعر هم ځانګړې بڼه لري، چې په دوو برخو ویشل کیږي؛ داخلي او خارجي.
صنفي پیژندنه د موضوع له مخې هم کیږي. لکه مرثیه، چې موضوع یې د چا د مړینې په ویر کې د خواخوږۍ لپاره شعري بڼه خپلوي. همدا راز قصیده، چې موضوع یې مدح (ستاینه) یا هجو (سپکاوی) دی، خو یو- یو بیت که هغه مرثیه، قصیده، مثنوي، غزل او یا نور وي، خپل ځانګړی وجود ساتي. لکه:

ستوري یو ډول دي او راته ښکاري بل ډول
سړی دهوکه کوي دا دروغجنه فضا

هغه قد داسې نه و چې سیوری وکړي
هغه چې پرون د یوې معجزې بدن و

سوځېدلي لمرمخي لکه د سپوږمۍ مخو په شان
پرتې دي پر اغزو باندې هغه پاڼې چې د ګلاب وې

لومړنی بیت د غالب له هغې مدحیې قصیدې څخه دی، چې د بهادر شاه په ویاړ یې لیکلی دی. دغه مدحیه بیت له قصیدې پرته هم خپل وجود څرګندولی شي. دا دومره نامتو بیت دی، چې ځینې یې د غزل بیت ګڼي.
دوهم مثنوي دی، چې د سحرالبیان میرحسن نعتیه کلام دی او د حضرت محمد (ص) په ویاړ یې ویلی دی. دریم بیت د داغ دهلوي د هغه شعر برخه ده، چې د ۱۸۵۷م کال له ستمونو نه


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنځېدلی او ویلی یې دی. څلورم د میر انیس د مرثیې نامتو بیت دی، چې موږ یې د مرثیې له سیاق پرته هم د ورځنیو تجربو په اړه لیدلی او ویلی شو.
لنډه پر دې، شعر خپله موضوع پخپله ټاکي، چې بې شمېره سیاق او سباق لري. د شعر د لوړتیا یو دلیل دا هم دی چې هغه هیڅ پر معنوي چوکاټ کې مقید نه دی ساتلی، نو د همدې لپاره معروضه دا ده چې د شعر پوره پېژندنه د هغه د موضوع له مخې نه، بلکې د هغه د ځانګړي جوړښت یا بهرنۍ بڼې له مخې کېږي. د موضوع له پلوه کېدی شي چې شعر لوړ یا ټیټ وي، خو د هغه لومړنۍ معروضې، اساسي او عمومي پېژندنه د هغه له بهرني شکل یا جوړ شوي چوکاټ څخه کېږي.
د شعر بڼه دا ټاکي چې فن پاره یعنې څه؟ آیا (پابند/ معرا/ آزاد/ نثري) نظم، که (مسلسل/ نامسلسل/ مردف/ غیر مردف) غزل، قطعه یا که رباعي ده؟
د بهرني شکل لویه ځانګړتیا دا ده، چې هغه زموږ ذهن، چې د روایاتو په رڼا کې روزل شوی دی، د فن پارې اغېزمنې پېژندګلوۍ لپاره د بنیاد په توګه چمتو کوي او همدا ده چې موږ د متن پر بهرني راز باندې پوهېږو او ورسره آشنا کېږو.
په سنسکریټ، هندي او انګریزي ژبو کې هم، د شعر او د هغه د مبادیاتو تصور پیاوړی دی. په دغو ادبیاتو کې هم، شعر د بهرني جوړښت له مخې پېژندل کېږي.
په سنسکریټ کې شعر د (Slakes) په نوم ځانګړي بحر کې ویل کېږي، چې له دوو مصرعو څخه جوړ شوی دی. دا مصرعې باید یو تر بله ډېر ورته والی (Strict conformity) ولري او څپې یې تر دوه دیرشو زیاتې نه دي. د شعر دغه بنیادي چوکاټ کوم عام جوړښت نه دی، بلکې د ښکلا پېژندنې په کچه څکه اغېزمن دی، چې د شعري ترکیب درلودونکی دی او ځانګړی تنظیم او ترتیب د هغه د مزاج ټینګه برخه ده. په مذهبي کتاب (ګیتا) کې اووه سوه شعرونه د همدغه ځانګړي بڼه پېز نظام اړوند دي. په هندي شعر کې د دوه بیتیزې دود ډېر پخوانی دی. په اردو کې د دوه بیتیزو زیاتره شاعران له هندي عروض سره آشنایي نه لري، چې له همدې امله په اردو کې دوه بیتیزې له هنري اړخه کمزورې دي. د رباعي په شان دوه بیتیزه هم ځانګړي وزنونه لري، همدا شان د ارود شعر په څېر دوه بیتیزه هم دوه مصرعې لري، خو دا بیا د ځانګړي سبک درلودونکې ده.
په انګریزۍ کې د شعر لپاره دا دوه کلیمې Couplet او Distich کارول شوې. په انسایکلوپېډیا برټانیکا کې د انګریزي شعر دا تعریف موندل کېږي:



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Couplet, a pair of end – rhymed lines of verse that are self contained in grammatical structure and meaning .

ژباړه: دوه بیتي، تر پایه یوه جوړه - د قافیه لرونکي شعر هغه کرښې دي چې د معنا او ګرامر ځانګړی جوړښت لري.

پاسنی تعریف د Heroic Couplet له خولې دی، چې د شعر دودیز جوړښت دی. ویل کیږي چې په څوارلسمه پېړۍ کې د چوسر(Chaucer ) لخوا په انګریزۍ کې دود شو. وروسته بیا جان ډرایډن(John Dryden ) او الکسانډر پاپ(Aexander pope ) د اوولسمې پېړۍ په پای او د اتلسمې پېړۍ په پیل کې دې بڼې ته لا پیاوړتیا وروبخښله.

د Heroic Couplet دواړه مصرعې قافیه والې (End- rymed ) او پنځه بحریزه (Lambic pentameter ) دي. په دغه بحر کې د شعر هره مصرعه پنځه څپیزه وي. په انګریزۍ کې د شعر لپاره دوه بیتي (Couplet ) او یو بیتي (Distich ) یو د بل مترادف (Synonym ) پېژندل کیږي، خو په معنوي توګه Distich ډېر پراخه دی، چې دا هم مقفیٰ کېدی شي او هم نه. لکه د سپین شعر (blankverse ) بیتونه هر یو په اسانۍ سره فرد ګڼلی شو.

د نړۍ په نورو ادبیاتو کې هم د شعر (دوه مصرییز نظم) لپاره خامخا کوم جوړښت شتون لري او د شعر د متبادل صنف پېژندنه د هغه د جوړښت له مخې کیږي.

که د شعر حصار له منځه یووړل شي او شاعري بې پولې شي، نو جوتیږي چې د شاعرۍ لپاره چوکاټ هېڅ ارزښت نه لري. هغه په هر سبک، شکل او جوړښت کې را څرګندېدلی شي.

امداد امام اثر چې شاعرۍ ته یې د شرابو تعبیر ورکړی، بلکل پر ځای خبره یې کړې چې: (شراب په هر ارزښت او بیه بیا هم شراب دي، که په هر ډول لوښي، معنا دا چې د سرو یا سپینو زرو او یا هم په مسینه یا خټینه پیاله کې واچول شي. هغه تر هغه وخته شراب دي، تر هغو یې چې خپل ماهیت له لاسه نه وي ورکړی. ځکه خو موږ شعر له ظاهري اړخه په اسانه پیژندلی شو، خو شاعري نه.

شاعري څه ده؟ دا هغه ډول پوښتنه ده چې وایي روح څه شی دی؟ په سینه کې څړیکه، په سترګو کې توفان او په زړه کې دننه را ولاړېدونکي دردونه څه دي؟ ژوند څه دی؟

د الیټ دا وینا پر ځای ده، چې که موږ د شاعرۍ تعریف وکړو، بیا هم دا هڅه بې ګټې ده. ځکه نو خبره د شاعرۍ د تعریف نه ده. اصلي ټکی دا دی چې د شاعرۍ (ادب) او ژوندون تر



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ اړیکه څه ده؟ دلته یوه بله پوښتنه هم حل شوه، چې د بحر شتون یوازې د شعر یا د بېلابېلو اشعارو لپاره حتمي دی، نه د شاعرۍ لپاره.

د شعر تخلیق یوه پلټنه ده، په دې کړنه کې څو بنسټیز توکي چې باید په پام کې ونیول شي، ځینو ناقدینو داسې په ګوته کړیدي:

- لفظ، وزن، معنا، قافیه (قدامه بن جعفر، ابن رشیق القیروانی)
- تصور، تخیل، صناعي، د اظهار ځواک (نظامي عروضي)
- شعر باید مرتب، بامعنا، موزون، متکرر، متساوي او وروستي توري یې ټول سره ورته وي (شمس قیس رازي)
- تخیل، د کایناتو څېړنه، د الفاظو تفحص (سادګي)، اصلیت، جوش (حالي)
- الفاظ، وزن، جذبات، پېښې، تخیل (شبلي)
- قافیه، ردیف، وزن (عبدالسلام ندوي)
- موزونیت (وزن، قافیه، ردیف)، اغېز، تصویر (سید مسعود رضوي ادیب)
- نقوش، الفاظ، آهنګ او وزن، غږ او لهجه (کلیم الدین احمد)
- موزونیت، اجمال، تکر، ابهام (شمس الرحمن فاروقي)
- د الفاظو ځانګړی ترتیب، تصویر، آهنګ، لی، موسیقي، وزن (شوکت سبزواري)

یاد توکي د شعر پر بهرني او دنني، دواړو جوړښتونو باندې راڅرخي. دا توکي په جلا-جلا توګه هم خپل حیثیت لرلی شي، خو په شعر کې تر راوستو وروسته داسې جذبېږي، چې اړوند شعر یو واحد جوړېږي. د داسې ژور توپیر یا تنوع له امله، شعر ته په ځانګړي کې سیند ویل کیږي. شعر داسې یو کوچنی نظم هم کیدی شي، چې د ګڼو مفاهیمو په لرلو سره د هر لوستونکي ټول پام ور واړوي. ویل کیږي، ښه شعر هغه دی چې هغه په نثر نشي بدلیدی، دا په دې معنا نه ده، چې ګواکې د هغه په نثر اوښتون ناشونی دی. د دې خبرې مفهوم دا دی، چې د هغه شعر بدلول د هغه اغېز او ښکلا له منځه وړي.

په شعر کې د (داخل او خارج) بحث د لفظ او معنا بحث دی. لفظ بهرنی جوړښت دی، حال دا چې معنا دننی جوړښت دی. د انفرادیت او ځانګړتیا سره- سره بیا هم دواړه لکه د نوک او ووری په شان اړیکه لري. په شاعرۍ کې لفظ، د ظاهري مجسمې سره سره باطني کیفیات او جذبات هم مجسموي. چې د دغه کار لپاره یو لفظ ته نه، بلکې د لفظونو ټولګې ته اړتیا ده. د شعر یا نظم د رامنځته کېدو لپاره چې هر څومره د الفاظو ټولګې ته اړتیا لیدل کیږي او ارزښت لري، هغومره معنا هم په بشپړه توګه د ارزښت وړ ده. لکه څرنګه چې د



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



جسم خوځښت او ژوند ته روح اړین دی، همدغسې د الفاظو د ژوند او ارزښت معنا هم اړینه ده.
لفظ جسم دی، د الفاظو غوره تنظیم، غوره انځور وړاندې کوي، چې په دغو انځورونو کې واقعیتونه را ځرګندیږي.
په دې اړه کلیم الدین احمد داسې وایي:

- ځانګړی شعر د ځانګړو لفظونو ټولګه ده.
- د لفظونو هره ټولګه شعر نشي کېدی.

معنا دا چې کېدی شي په الفاظو باندې مازې په دراواغو قافیه بندي یا نظم جوړونه وشي، خو شعر نشي تخلیق کېدی.
میر انیس وایي:

دا لفظ دی که د ګوهرو امېل انیسه
زرګر هم داسې غمي نشي سره پېیلی

شاعري د غوره الفاظو غوره ترتیب ته ویل کیږي، هغه چې وایي poets are in love with words). دا په دې معنا چې شاعر د الفاظو ټول پټ ځواک Full potential را ځرګندوي، ځکه هغه د الفاظو په وسیله د جسم جوړونې (Image making capacity of language) په هنر پوهېږي، نو همدغه هنر دی، چې زموږ جذبات او احساسات را پاروي او زموږ زړونه نرموي.
زیاتره شعرونه دي، چې سړی یې په لوستو یا اورېدو سره ناکراره کیږي او په لړزه راځي، د دې لامل هغه د ښکلا ځواک (Aesthetic energy ) دی، چې د ژبې په تخلیقي استعمال کې نغښتی دی. د لهجې، تشبیه، استعارې، کنایې، سمبول او نورو له امله په تخلیق کې ښکلا رامنځته کیږي او شاعري د قافیه بندۍ پر ځای د معنا ځاله ګرځي. که ابهام او مبالغه په مناسب ډول وکارول شي، نو دا د شاعرۍ لپاره ډېر ګټور کار دی او د دغو ځانګړنو سره دا ویل هم ضروري دي، چې د شعر لپاره لومړنی شرط تخیل (Imagination ) دی.
که په شاعر کې دننه د تو هم ځواک شتون ولري، نو په تخلیق کې ډېره مرسته ورسره کوي. له همدې امله په شعر کې د الفاظو موزون ترتیب (Pattern ) سره، ژور تخیل هم په کار دی. کیفیت او احساس باید پکې ډېر وي، شعري تجربه باید شتون ولري او همدارنګه شعریت



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پام کې نیول شوی وي، که نه نو شعر به یوازې د الفاظو غوټه پاتې شي. جسم خو به یې وي، خو روح به نه وي پکې.

- که د شعري بڼې او د ښکلا د کیف لپاره مازې د الفاظو ظاهري ترتیب او جوړښت په پام کې ونیول شي او د هغه معنوي اړخ ته هېڅ ارزښت ورنکړل شي، نو زیاتره بې ربطه او بې معنا خندونه او سکتګۍ د شاعرۍ پر معیار باندې اغېز اچولی شي.
  البته اصلي خبره داده چې د الفاظو آهنګ او د هغو ترتیب سره سره د جذباتي او احساساتي اغېز رامنځته کېدل اړین دي او د همدغو دواړو اصلونو په شتون سره د شاعرۍ لوړ معیار ساتل کېږي. (پروفیسر محمد حسن)

په معاصره شاعرۍ کې د غزل په ښکلا، معنویت او حیثیت کې هیڅ کومه خبره رامنځته نشوه، خو د پابندو نظمونو ارزښت راټیټ شوی دی. داسې نه شو ویلی چې ازادو نظمونو د پابندو نظمونو ځای نیولی، خو دا هم باید له یاده ونه باسو، په اوسنیو معاصرو مجلو او رسالو کې په پرلپسې توګه ګڼ آزاد او نثري نظمونه خپرېږي، په داسې حال کې چې پابند نظمونه خال خال لیدل کیږي. له دې سره سره بیا هم موږ دا نه شو ویلی چې راتلونکې شاعري به په آزاد او نثري نظم کې کیږي.

معاصرې شاعرۍ ته په پام سره دا په ډاډ ویلی شو، چې اوس هم د شعر په ښکلا کې کمښت نه دی راغلی. اوس هم چې موږ د شعر اوریدلو یا اورولو خبره کوو، نو هغه په یو ځانګړې ډول دوه دوه مصرعې ویل کیږي، چې بنسټ یې د عربي او فارسي پر ادب باندې ولاړ دی. دا بیله خبره ده چې په قصیده، مثنوي، مرثیه، مسدس، مخمس او د پابند نظم په نورو ډولونو کې شعري اظهار ته میلان کم شوی دی، خو د غزل جادو لا هم په زړونو منګولې لګوي. چې د شعر پر داخلي او خارجې بڼه باندې دا مقاله د همدغې خبرې ثبوت دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظم او موزون کلام: د آزاد د فکر اساس

- په آزاد کې د نقد ماده بلکل نه وه، د هغه فکر پر مشرقي حدودو ولاړ و، یو فقیر او له وسوسو او آزاد خیالۍ نه پاک انسان و، همدارنګه د هغه مغزو ته لا د انګریزي څراغونو رڼا نه وه رسیدلې.
- په هغه وخت کې د لویدیځ خوا ته سترګې اوونښتې، تر ټولو مخکې آزاد هغه لوري ته پام واړاوه او خلک یې وپوهول.

دواړه اقتباسونه د کلیم الدین احمد دي، د دواړو تر منځ چې کوم تضاد شته، هغه په ښکاره ډول لکه زمکه او اسمان داسې څرګند دی.

آزاد د مشرقي روایاتو امین ؤ، د هغه د علم په کمال کې کوم شک نه ؤ، خو د شعر او ادب پوهانو په اند هغه په یو ځانګړي سیاق کې و، چې کلیم الدین احمد یې له مشرقي حدودو څخه تعبیروي. خو دا هم ربښتیا ده چې هغه د مجتهد حیثیت درلود. هغه د ادب د پوهاوي په خاطر پخپلو لیکنو کې څېړنې هم کړې دي. هغه تر خپلو نږدې پخوانیو څخه څو ګامه مخکې ؤ.

آزاد او حالي په ځینو ځانګړو اړخونو کې د خپلو روایاتو باغیان هم ول، په هغه وخت کې دوی دواړه د بغاوت ستر اتلان کڼل کیدل. نړۍ بدلېدله او نوي قوانین او حکومتونه پر پخوانیو باندې پیاوړي کیدل، هند د اسلامی تهذیب په ښېرازه باندې سمبالید، په ۱۸۵۷م کال کې یوه دوره پای ته ورسیده، نوي افکار له نوو تجربو او بدلونونو سره رامنځته شول، چې دغو بدلونونو د غرب فرهنګ ته لاره هواره کړه. د محمد حسین آزاد ذهني روزنه په مشرقي چاپیریال کې شوې وه، خو نه هغه فقیر ؤ او نه هم له آزاد خیالۍ نه پاک. که هغه پر مشرقي حدودو ولاړ وای، نو د هغه پام ولې د لویدیځ لوري ته اووښت او ولې یې داسې ویل:



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له دې نه دا مه ګڼه چې زه ستا نظم د سنګار له وسایلو نه تش بولم، نه! هغه ته له خپلو مشرانو نه لوی- لوی خلعتونه او درنې- درنې ګاڼې پاتې دي. خو څه وکړم؟ خلعتونه زاړه شول او ګاڼې هم وختونو بې ارزښته کړلې. ستا مشر او ته د نوو مضامینو او نوو سبکونو په لټه کې پاتې شوئ، خو نوي خلعتونه او ګاڼې چې اوسمهال موږ ته پکار دي، هغه په انګریزي صندوقونو کې بند دي. حال دا چې هغه زموږ په څنګ کې تېرېدل راتېرېدل، خو موږ هیڅ ورباندې خبر هم نه شوو، هو! د صندوقونو کیلي زموږ د انګریزي هیوادوالو سره ده.

اصلي خبره دا ده، چې آزاد د وخت له غوښتنو نه باخبر و، هغه په عربي او پارسي باندې پوره پوهېد او د ژبې له باریکیو سره د سنسکریټ له روایاتو نه هم باخبر و. له انګریزۍ سره یې پوره اشنایي نه درلوده، خو د ځینو هیوادوالو چې په انګریزۍ پوهېدل او انګریزي دوستانو سره یې چې ناسته ولاړه درلوده، نو له هغو سره یې د خبرو پر وخت د انګریزي ادب او د هغه د متون د تفهیم په خاطر هڅه کوله. د پوهې د تر لاسه کولو جنون او د نوو ډګرونو د بهیر جذبې، هغه هر وخت بیدار او ویښ ساته. د کرنل هالراییډ او ډاکټر لایټنر سره یې نږدې اړیکې لرلې.

د آزاد لمسي آغا محمد طاهر د آزاد د (کاینات عرب) کتاب په سریزه کې د آزاد او ډاکټر لایټنر د اړیکو یادونه کړې، چې د ژوند زیاته برخه یې له ډاکټر سره تېره کړې ده. لایټنر چې کله منځنۍ اسیا ته لاړ، نو آزاد هم ورسره و. آغا محمد طاهر وایي: (ډاکټر لایټنر دا عادت درلود چې خامخا به یې خپل نظر څرګنداوه او آزاد به بیا هغه سماوه یا اصلاح کاوه. که د ډاکټر به خوښ شو خو ښه، کنه نو مولوي صاحب بیا قلم پرې راواخست.

څومره چې د آزاد او لایټنر تر منځ نږدې اړیکې وې، وروسته بیا همغومره اختلافات هم پکې رامنځته شول، خو دلته لازمه نه ده چې پر هغو اختلافاتو خبره وکړو، ښه دا ده چې د آزاد د انګریزي مطالعې په اړه وغږېږو او وګورو چې څومره خلعت او ګاڼه یې له انګریزي صندوقونو نه تر لاسه کړې ده. هغه خو د غربي اصولو پیروي وکړه، خو آیا هغه د هغو اصولو تل ته کښته شوی ؤ او آیا هغه له انګریزي متون څخه سمه ګټه اخستې کنه؟ په دې اړوند د آزاد سیخه وینا نه ده تر لاسه شوې، هغه په انشایي هنر کې زیاتره مبهمې او ګونګې خبرې کړې دي، چې دا د هغه تر ټولو ستر عیب دی. د هغه همعصري (حالي او شبلي) دواړه په انګریزۍ نه پوهیدل، خو د آزاد موضوع بیا بېله موضوع ده. د هغه ځینې



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جملې اسلم فرخي په ځینو بیاناتو کې روښانه کړې دي. چې په دې اړه د هغه کتاب (نیرنګ خیال) غټه حواله ده.

آزاد لیکي:

- ما د انګریزي انشايي ماهرانو له خيالاتو نه زياتره څراغونه روښانه کړي دي.
- دا څو مضمونونه مې چې لیکلي، نشم ویلی چې ما ژباړلي دي، هو ! هغه څه چې غوږونو واوریدل او مناسب فکر ژبې ته وسپارل، نو لاسونو هغه ولیکل.
- څنګه حسرت راځي، کله چې زه په انګریزۍ ژبه کې وینم، چې هر ډول مطالب او مضامین تر نثر ډېر ښایسته په نظم کې راوړل شوي دي.
- زه په انګریزۍ ژبه کې بلکل بې ژبې یم او د دې ناکامۍ ډېر افسوس راځي.

د پاسنیو اقتباساتو په رڼا کې هیڅ پرېکړه نشي کیدی؛ (کله چې زه په انګریزۍ ژبه کې وینم)، دا جمله او یا په انګریزي خیالونو د څراغ روښانولو خبره، نو له دې داسې برېښي چې هغه له انګریزي متون څخه مستقیمه استفاده کړې ده. خو کله چې هغه د (نیرنګ خیال) کتاب ته د ژباړې له کڼلو نه انکار کوي او په غوږونو اوریدل او بیا ژبې ته د سپارلو خبره کوي، نو یو مبهم کیفیت رامنځته کیږي او په ذهن کې ګنې پوښتنې را ولاړیږي.

کله چې هغه په انګریزۍ ژبه کې د بې ژبې اعتراف کوي، نو موضوع نوره هم پیچلې کیږي. اسلم فرخي وايي: (څېړونکو د هغه یوه لیکل شوې عریضه لیدلې چې په انګریزۍ کښل شوې ده.)، هغه د اسلامي تاریخ په اړه هم یو مضمون لیکلی، خو هغه دومره وړتیا نه لرله، چې د ایډیسن او جانسن لیکنې مطالعه کړي او بیا یې اردو ته راواړوي. په هغې زمانه کې به چې د یو څا روزنه په مشرقي چاپیریال کې شوې وه او بیا د انګریزۍ لیکلو استعداد به یې درلود ، نو ډېره لویه خبره وه.

د فرخي څرګندونې به پخپل ځای پرېږدو ، کیدی شي دغه لیکنه یې د کوم انګریز دوست او یا شاګرد په مرسته لیکلې وي. خو په هر ډول، دا خبره خو بیخي څرګنده ده، چې آزاد له انګریزۍ سره ډېره مینه لرله او د هغې د زده کړې هڅه یې کوله. مالک رام وايي:

- په (نیرنګ خیال) کې چې څومره مضامین دي، دا په اصل کې له انګریزۍ نه ژباړل شوي دي. په هغو کې شپږ مضامین د جانسن دي، درې د ایډیسن دي او پاتې بیا د نورو انګریزي ادیبانو دي. خو آزاد په دې ژباړه کې د خپل ذهانت او مهارت په مرسته واړه مضامین دومره سره رد او بدل کړي، چې د تخلیق درجه یې خپله کړېده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دوه پوښتنې رامنځته کیږي؛ لومړی دا چې دا مضامین ژباړه ده کنه؟ دوهم دا چې دومره بدلون ته اړتیا ولې پېښه شوه؟ د ژبې او انشأ له پلوه آزاد له خپل اړخه اړ بریښي. ځکه د عام تخلیقي تحریر او ژباړې تر منځ توپیر دی او د دواړو اړتیاوې بېلې دي. د ذهانت او جادویي ویناوو خبره دې پر ځای پاتې وي، خو د رد او بدل (تېروبېر) مسألې ډیروالی، دا جوتوي چې په آزاد کې د ژباړې صلاحیت شتون نه درلود. د هغه په مضامینو او د اډیسن او جانسن په مضامینو کې چې کومې مشترکې خبرې دي، نو له هغو نه دې پایلې ته رسیږو، چې له هغه سره په دې کار کې بل څوک هم مل ؤ. ځکه چې (پروفیسور صاحب آزاد دې ته ډیر لیواله ؤ، چې هغه له خپلو هغو زده کونکو څخه چې انګریزي یې زده وه، اړین مغربي نظریات تر لاسه کړي او بیا یې په خپلو لیکنو کې پخپل ماهر طرز سره ولیکي).
آزاد د دې احساس درلود، چې د انګریزي ژبې له زده کړې پرته به د هغه اړیکې له نړۍ سره وشلیږي او هغه څه چې د نړۍ، خصوصاً د لویدیځ په ادب کې تیریږي، له هغو نه به بې برخې پاتې شي.
هغه بدلون غوښت او په ادب کې یې د پراختیا هڅه کوله، په همدې خاطر هغه دا ثابته کړه چې انګریزي شجر ممنوعه نه ده.
د کالج له نوکرۍ سره یې انګریزانو ته اردو هم ور زده کوله. د لایټنر له انډیوالۍ نه یې په ګټه، هغه د انګریزي ادب سره اشنایي پیدا کړه او همدې اشنایۍ هغه د نوې نړۍ لوري ته بوت.
آزاد ګڼو هیوادونو ته سفر کړی، د پخوانیو پاړسي، عربي او سنسکریټ په الفاظو کې یې لساني اشتراک لټاوه. که څه هم په دې اړه تر ده پخوا څه ناڅه هڅه شوې وه، خو دومره د پام وړ نه وه. آزاد دا لړۍ په دومره اغېزمنه توګه ګړندۍ کړه، چې په اردو ژبه کې یې د تقابلي لسانیاتو مطالعه دود کړه او د ژبپوهنې (philology) د تصور او تعارف په مرسته یې ټول اردو ژبې ویوهول.
د نوو بدلونونو په بېلابېلو اړخونو کې یو هم لساني توپیر دی، چې له دغو بدلونونو سره د آزاد ذهن آشنا ؤ، نو له همدې امله د مختلفو علومو څانګو ته د هغه پام ور واوښت. انګریزان واکمنان ول او د هندوستانیانو لپاره د توجه ځلی ؤ، خو یوه لویه ډله وه چې له هغه او ژبې نه یې په دې خاطر کرکه کوله، چې په دې نوې ژبه کې د هغوی تهذیب او کلتور له منځه لاړ نشي. یاده دې وي چې اکبر اله آبادي د دغه احتجاج سرکښ ؤ.


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کې مسأله د ژبو نه، بلکې د کلتورونو وه. د انګریزۍ په زده کړه کې زیات قباحت نه ؤ، خو دا هم باید په پام کې ونیول شي، چې هره ژبه له ځان سره خپل تهذیب او کلتور رامنځته کوي. آزاد د ژبې جوړونکی او سمونکی نه ؤ، هغه د هغو تصوراتو او عقایدو خلاف ؤ، چې له کلونو راهیسې یې بې منطقه او له مناسب سیاق پرته دود درلود. سر سید تحریک چې د معقولیت او منطقي جواز کوم اصول وضع کړي ول، له هغو نه آزاد هم اغېزمن دی. په هر صورت، د محمد آزاد د لساني خدمتونو اعتراف هر د نظر خاوند کوي. خو د هغه د بغاوت او مجتهد والي چې کومه موضوع ده، په دې اړه به رڼا واچوو، دا ځکه چې همدغه ځانګړنې د هغه د عظمت او بریا نښانې هم وي.

خو تر هغې د مخه مو د اسلم فرخي دې وینا ته رابولم:

- د آزاد د شعر په نظریه کې خیالي، میتافزیک او له طبیعته هاخوا دا ټول توکي شتون لري. خو هغه هیڅ څیز هم نه دی روښانه کړی. بیا هم په هر صورت، هغه ځینې نوې خبرې هم کړې او د لویدیځ او ختیځ همغږۍ کولو لپاره یې هڅې کړې دي.

دلته زموږ بحث نوی پیلیږي او ځینې بنیادي پوښتنې رامنځته کیږي؛ لومړی دا چې د آزاد د شعر نظریه څه ده؟ دوهمه دا چې، هغه کومې نوې خبرې وړاندې کړې؟ دریمه دا چې، د لویدیځ او ختیځ د همغږۍ کولو لپاره یې هڅه، تر کومه حده اغېزمنه وه؟

د شعري نظریې په هکله خو یې د هغه دوه لکچرونه بنیادي حوالې دي. همدارنګه نور کتابونه یې هم ورسره مرسته کولی شي. لومړنی لکچر چې (د نظم او موزون کلام په اړه نظریات) تر عنوان لاندې دی، په (۱۸۲۷- ۱۵ آګسټ کې یې وړاندې کړی دی. دوهم لکچر یې په (۱۸۷۴- ۱۹ اپریل) کې وړاندې کړی، خو هیڅ عنوان یې ورته نه دی ټاکلی. چې دواړه لکچرونه په (نظم آزاد- ۱۸۹۹) کې شتون لري او د نظم لیکلو د خوځښت منشور ګڼل کیږي. هغه چې کوم نظري مباحث تعقیب کړي، حالې په ډېره روښانه، معروضي او علمي توګه په (مقدمه شعر و شاعري- ۱۸۹۳) کې وړاندې کړي دي.

د محمد آزاد له ویاړونو یوازې دا نه چې هغه (آب حیات، ۱۸۸۰) د تذکرو له عام معیار څخه راوویست او د ادبي تاریخ او تنقید پر ډګر یې ودراوه، بلکې په لومړي ځل یې د دودیزو موضوعاتو پر خلاف ښه په جرأت سره خپل غږ اوچت کړ او د انګریزي ادب پر لوري یې ذهنونه وهڅول.

په دې اړه د هغه د شعري ټولکې په لومړي مخ کې دغه عبارت ته پام وکړئ؛ (چې د حسن او عشق له قید نه آزاد دي - نظم آزاد)، (حسن او عشق) قید ګڼل او له هغو نه د آزادۍ تر لاسه



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو خیال د هغه په ذهن کې ځنګه راغی؟ کیدی شي د هغه په ذهن کې د ادب افادي نظریه داسې وي، چې ادب باید د اخلاقو سمولو د کار آله وي او یا هم له ادب څخه په ګڼو اړخونو کې په اصلاحي توګه کار واخستل شي. خو هغه غوښتل ټول هغه زنځیرونه مات کړي، چې اردو شاعري پکې بنده ده. هغه خپل ادب ډیر غني او شتمن ګڼي. هغه په دې خبره ډیر افسوس کوي چې اردو شاعري په بې ځایه احاطو کې محبوسه ده. هغه ته د عشق خبرې تر ټولو ډیرې د اعتراض وړ دي، هغه په دې اند دی؛ چې یو چا پخپل ژوند کې ډیر فریبونه او تیروتنې زغملي وي، د کرکې ښکار ګرځیدلی وي، د خپل پت ساتنې لپاره یې ښارونه را لټولي وي، انګریزانو ته یې د وفادارۍ ثابتولو په خاطر ان جاسوسي کړې وي او یا د هغه چا په وړاندې چې پلار یې ورته د بغاوت په تور په علني ډول په مرمۍ ویشتلی وي، نو د هغه په خوی او مزاج کې به له کرکې پرته بل څه وي؟ ځکه خو هغه داسې وایي چې د دغسې چا د مزاج په جوړښت کې به عشقیه واردات له کومه شي؟ دلته بیا دا پوښتنه رامنځته کیږي، چې آیا د ګډوډۍ په دوره کې عشق خپل معنویت او جاذبیت له لاسه ورکوي؟

ژوند له دوو اړخونو نه عبارت دی: (حقیقت او رومان)

رومانیت یوازې عشقیه واردات دي، چې د تخیل، تجسس او اسرار پر بنسټ ولاړ دي. د عشق تعریف پخپل ځان کې هم ډیر پیچلی دی، ځکه خو د هغه له سطحي تصور څخه هیڅ کومه پایله، سمه او مناسبه نه ده.

د آزاد اعتراض د عشقیه وارداتو پر اظهار نه دی، هغه خو یوازې له دې سره مخالف دی، چې د عشق مفهوم باید په تنګو دایرو کې مقید نشي. پر دغسې اعتراضاتو باندې حالي په سریزه کې مفصل بحث کړی دی.

د وصل په لطف، په ډیر حسرت او ارمان، د بیلتون په ژړا او چغو، شراب او ساقي، بهار او خزان، ګیله او فلک او د لویانو د خوشالۍ لپاره، په دغسې مسألو کې که شاعري محبوسه شي او یوازې نازک خیالي د شاعرۍ جوهر وګڼل شي، نو بیا خو د شعر عظمت، پراختیا او ژورتیا تر پوښتنې لاندې راځي او د هغې د اصلیت څرګندولو په تعریف کې به د اصلیت معنا بدله شي.

آزاد په موضوعاتو کې د نوښت، ترکیبونو او په لفظیاتو کې د ندرت غوښتونکی ؤ، هغه غوښتل چې د خپل عصر سره سم ژوند وکړي، ځکه خو د هغه نظریات د هغه د عصر زیږنده ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوس هغه زمانه هم نه ده، چې موږ خپلو ماشومانو ته کیسه او د طوطي او مینا ژبې ور واوروو، چې ترقي وکړي، څلور فقیران لنګونه وتړي او کښېني، یا ښاپیرۍ والوزوي، دیوان جوړ کړي او ټوله شپه د هغو په خبرو کې سبا کړي. اوس بل وخت دی، له همدې امله باید ده چې موږ هم نور څه وکړو.

د محمد آزاد شخصیت ځکه معتبر دی، چې هغه پر استفاده (ګټه اخستو) باندې ټینګار کاوه، هغه هیڅکله دا نه غوښتل چې خپل ادب د غربي ادب په وړاندې مطعون او خام وګرځوي. هغه د ژوند ساحه (نړۍ) ډېره پراخه ګڼله. ځکه خو یې د اصلاح اړتیا محسوس کړې وه. همدا راز هغه لومړنی کس دی چې پر اردو باندې د پارسي اغېز په اړه د شاعرانو پر ذهني سلوک باندې تنقید کوي او زیاتوي چې، موږ باید د دې ځواب ورکړو چې موږ په دې خاوره کې پیدا شوي یوو او همدلته اوسېږو، خو د دې په انځورولو او ستایلو کې ولې سست یوو؟ هغه د بهرنیو سمبولونو، اصطلاحاتو او لفظیاتو نه انکار نه کوي، اما د خپل فرهنګ، طبیعت، تاریخ او نورو ارزښتونو ته هم پام په کار دی.

هغه وایي: په کومه خاوره کې چې موږ زیږېدلي یوو، د هغې له پامه غورځول غیر فطري دي. هغه د شعري توکو بېځایه کارول ناسم او غیر مستحسن بولي او زیاتوي چې، (بیشکه، د مبالغې زور، د تشبیه او استعارې مالګه، په ژبه کې نرمي او یو ډول اغېز زیاتوي. خو مالګه دومره په کار ده، لکه چې اړتیا یې وي، نه چې ټول خواړه مالګه وګرځي.

هغه خو د اردو شاعرۍ د ندرت او رفعت اعتراف وکړ، خو چې کله هغه د حسن او عشق پر مروجه اسلوبو باندې ګوزار وکړ، نو ځینې جملې یې لا پسې سختې شوې. لکه دا جمله: (بلآخره به زموږ دا ژبه بلکل له نظم نه محرومه شي او په اردو کې به د نظم څراغ ګول شي.

د انګریزي پلوۍ او د دغسې جملو له امله د هغه وخت ورځپاڼو کې د هغه پر خلاف ډېر څه ولیکل شول. پر عشقیه موضوعاتو باندې چې څنګه هغه انتقادونه وکړل، نو خلکو داسې ګمان وکړ چې ګواکې پر ټولې کلاسیکې شاعرۍ باندې ملنډې وهي. خبره تر دې را ورسېده چې بلآخره یې د یوې ورځپاڼې د مدیر په توګه په یوه لیکنه کې داسې څرګنده کړه:

- بیشکه، زه هم دا منم چې بې عشقه کلام بې خونده وي، خو زما په لکچر کې هیڅ ځای داسې څه نه لیدل کیږي، چې په هغه کې د عاشقانه کلام د ترک (پرېښودو) خبره شوې وي او پخپله انګریزي کلام هم له عشق نه خالي نه دی.

د کلیم الدین احمد په دې وینا باندې خبره راپورته شوه، چې په آزاد کې د نقد ماده په مطلق ډول نه وه. د دې جملې له امله اکثر خلک پر هغه باندې انتقادونه کوي، دا چې د هغه دا خبره



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره سمه ده، نو په دې کې نه تم کيږو. ښه دا ده چې هغې مخينې ته پام وکړو، له کوم ځای نه چې د اردو تنقيد تومنه راټوکيدلې ده. نيالګی په يوه ورځ کې نشي ونه کيدی، فصل په يوه ورځ کې نشي پخيدی، د مزرعې يا کروندې له را شنې کيدو نه وړاندې، د لومړيو پړاوونو په پام کې نيول هم اړين دي. د تنقيد هغه ښه چې د محمد حسن عسکري، کليم الدين احمد او شمس الرحمن فاروقي سره ده، په دې کې د تذکرو هغه روايت هم شامل دی، چېرته چې ذوق د شعر پوهنې پيمانه ده. يقيناً او سمهال د شعر پوهنې معيار بدل شوی، خو هغه په بشپړه توګه له کومې خوا څخه نه دی وارد شوی او نه هم داسې شونې ده.

په اردو کې د تنقيدي اصولو ريښې، د عربي پارسي ادبياتو سره تړلې دي. په انګريزي ادب کې د افلاتون، ارسطو، لونجانس، هوريس، دانتې، کولرج، ميتو آرلنډ، کروچې، آی- ای- رچاړډس، او له ازرا پاونډ نه نيولې تر ټي- ايس- اليټ پورې د ټولو له افکارو څخه موږ ګټه اخستې. او س چې زموږ تنقيد په کوم بصيرت باندې شتمن دی، په هغه کې د عربي پارسي ادب سره- سره له غربي ادب نه استفاده هم شامله ده.

د آزاد تر زمانې پورې په اردو کې د تنقيد هيڅ کوم ځانګړی سمون او ترتيب نه ؤ رامنځته شوی. په تبصره او تنقيد کې هيڅ توپير نه ؤ، اصول جوړونې ته هيڅ پام نه کيده، د بين اللساني او بين العلومي مطالعې دود هيڅ شتون نه درلود، چې آزاد تر هرڅه وړاندې د ادبي استحکام په خاطر د مشرق او مغرب پر امتزاج باندې زور واچاو:

- اردو زموږ ژبه ده او انګريزي راته خدای کيلي راکړه. موږ او زموږ د پخوانيو دودونو عاجزو دوستانو ته چې لازمه وه، هغه يې تر سره کړل، په دغو ډګرونو کې اوس موږ څه نشو کولی. د بکرې دواړه ټوټې سره وجنګوه چې اور بل کړي. وړی او ښيښنه سره ګډ کړه چې د برېښنا (برق) ګټه ترې واخستل شي. کنه نو يوازې ډېره به ډېره وي او ښيښنه به تياره کور. د خپلې ژبې په زور داسې روح پکې واچوه چې هندوستان ووايي: د سودا او مير زمانه بيا را ژوندۍ شوه، پر هغې باندې انګريزي غوړې واچوه او داسې يې ښايسته کړه چې انګريز ووايي: په هندوستان کې د شکسپير روح ظهور وکړ.

د محمد آزاد ځيرکي له دغه اقتباس څخه معلوميږي. هغه هيڅ وخت خپل تحرير ته د تنقيد خطاب نه دی کړی. هغه په کوم آکسفورډ او کيمبرج کې زده کړې نه وې کړې، چې پر اساس يې تنقيد ليکلی وای. د هغه خو ژوند داسې خوار ؤ، چې هيڅکله يې په کراره د کار کولو



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ونه موند. خو له شعر او ادب سره يې دومره مينه وه، چې د ژوندانه وروستيو شلو کلونو، د جنون په حالت کې يې هم ليکنې کولې.
حالې چې په اردو کې لومړنی ناقد پېژندل کيږي، هغه هم د آزاد له نظرياتو نه ځانګړې استفاده کړې ده. کليم الدين احمد سمه خبره کوي چې، حالي د کار خبرې د کار په ژبه کوي.
کله چې پر آزاد باندې د پخوانيو تذکرو اغېز پريووت او هغه د ګل بوټو په لوبولو بوخت شو او همدارنګه يې د کار خبرې د کار په ژبه ونشوی کولی، نو اصلي اعتراض د هغه د بيان پر اسلوب باندې دی، نه د هغه پر افکارو باندې. په دې کې هيڅ شک نشته، چې د هغه پر افکارو باندې هم انتقاد کيدی شي. خو سره له دومره اختلافاتو، هغه چې د کار کومې خبرې کړې، پر هغو باندې له اعتراف نه انکار نشي کيدی. پر هغه باندې چې څومره تنقيد کيدی شواى، هغه يوازې د کليم الدين احمد لخوا شوی دی.
دا ټولې خبرې پر خپل ځای، خو هغه چې کوم نظري اساس وړاندې کړی، پر هغه بايد خبرې اترې وشي. ځکه د هغه په نظريو هغه وخت موږ پوهيږو، چې د هغه له متن سره مخامخ مکالمه وکړو.
د نظم او موزون کلام په اړه د مکالمې په پايله کې، په ذهن کې څو پوښتنې راولاړيږي: لومړی پوښتنه دا، چې شعر څه دی؟ زموږ د عروض کتابونه، د شاعرۍ پوهنې استادان او پوهان به دا وايي، چې شعر موزون او مقفیٰ کلام ته ويل کيږي. خو آزاد بيا پکې ورزياتوي او وايي: دا کافي نه ده چې کلام دې موزون او مقفیٰ وي، بلکې د هغه اغېزمنتيا هم اړينه ده.
هغه يوازې تشه منظومه داسې ډول خواړه ګڼي، چې په هغو کې هيڅ خوند نه وي، نه تروه او نه هم خواږه.
په دې اړه ځانګړی بحث کيدی شي چې، شعر يعنې څه؟ نظم څه ته وايي؟ د شعر لپاره وزن اړين دی کنه؟ د قافيه جوړونې او تخليقي ځارنې تر منځ توپير څه دی؟ که چيرې د اغېز شتون شرط وي، نو بيا له اغېز نه مراد څه دی؟ او.....
د عروضي مباحثو او مطالبو بشپړه مطالعه چې څومره نقاد ته مهمه ده، تخليق کوونکي ته هومره نه ده. ډېر ښه شاعران دي چې په عروض نه پوهيږي. ځکه خو د موزونيت ميزان يوازې فاعلاتن فاعلات نه، بلکې طبيعت دی.
آزاد ډيرې ښې پايلې ته رسيدلی، هغه دا چې موزوني طبيعت د خدايي لوربينې جوهر دی. کيدی شي، يو څوک په عروض باندې ښه وپوهيږي او هغه بيا شاعري هم وکړي، دا کومه د



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیرانی خبره نه ده. خو ځینې کسان بیا داسې هم شته، چې موزون شعر ناموزون لولي، نو د همدې لپاره د طبیعت موزونیت حتمي دی، چې همدا د آزاد غوره نظر دی.
شاعري د یوې تجربې په وسیله د تخیلي مجسمې تراشلو ته وایي. په شاعرۍ کې موزونیت شرط نه، بلکې یوه ځانګړتیا ده. په همدې خاطر په تخلیقي کړنه کې تخیل مرکزي حیثیت لري. پر تخیل باندې حالي او شبلي دواړو په مفصل ډول بحث کړی، خو د آزاد له پلوه د تخیل تعریف ته ځانګړی پام نه دی شوی. هغه د خپلو ویناوو په لړۍ کې چې کوم مطالب څیړلي، نو په هره خبره کې یې د شعر پر ماهیت پورې اړوند ، ځینې بنیادي ټکو ته هم اشاره کړې ده.
د ادبي تخلیق بنسټ پر تخیل ولاړ دی. د تخیل غوره تعریف کولرج کړی دی.
آزاد د کولرج خیالاتو ته نشوی رسیدلی، که هغه د تخیل اصطلاح نه ده کارولې، خو د شاعر د فکري څراغ روښانولو لپاره یې د غه ارزښت څرګند کړی دی. تخیل په ذهن کې موجودو خیالاتو ته په مکرره توګه ترتیب ورکولو ته وایي. وهم د هغه تر ټولو مهم حالت دی، چې په نویو څیزونو کې تړاو رامنځته کوي. په تخلیقي کړنه کې هغه د تحرک دنده پر مخ بیایي. آزاد وایي:

- که شاعر وغواړي، کولی شي چې عادي چارې په نوې بڼه وښیي.
- شاعر په ټول عالم باندې داسې واکمن دی، لکه د کور څښتن چې په خپل کور کې واک لري. هغه په اوبو کې کب او په اور کې سمندر کیدی شي، په هوا کې الوتونکی او په آسمان کې د پرښتې په بڼه راڅرګندیږي. هره موضوع چې وغواړي، نو بې ستونزې یې را اخلي او د یو واکمن په توګه یې کاروي.

د عادي چارو یا هم د یوې تجربې ښکاره کول په نوې بڼه، د تخیل تعریف دی. چې دا یې دوهم رول دی او د افکارو خزانې ته له مکرر ترتیب او تنظیم څخه عبارت دی. بیا نو د شاعر د تخیلي اختیاراتو د پراختیا اقرار، د تخیلي اوصافو پر وضاحت باندې دلالت کوي. کله چې آزاد دا وایي: که شاعر وغواړي، چې ډبره وغږوي، ونه روانه وښیي، ماضي حال کړي او حال هم مستقبل کړي، لیرې نږدې کړي، زمکه اسمان کړي، خاوره سره زر او تیاره هم رڼا کړي او.... نو زمکه، اسمان او دواړه نړۍ د شعر په دوو مصرعو کې دي. تله د شاعر په لاس کې ده، چیرته چې وغواړي هملته یې اړولی شي. نو له یو اړخه هغه د توهم تعریف هم کوي، چې ماضي په حال، حال په مستقبل، خاوره په زرو او زر په خاوره بدلول د توهم بیلګې دي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرۍ په تیوري کې دغه اړخ د بنیاد حیثیت لري. خو د دې خبرې په څرګندولو کې له آزاد سره تنقیدي اصطلاحاتو شتون نه درلود او د هغه د نقد ټول شعور همدغسې دی.
آزاد شاعري الهام ګڼي. دا چې شاعري الهام دی کنه؟ دا بحث بیا په فلسفې پورې تړاو لري، چې یوازې موشګافان دا کار کولی شي. که په رښتیا هم شاعري الهام وي، نو بیا خو شاعر یوازې د یو منشي حیثیت خپلوي، څو هغه دا (شان نزول) قلم ته وسپاري او په همدې توګه به په شاعرۍ کې یوازې د فن زده کړې لپاره ریاضت کیږي. شاعر څو ځله خپل شعر لنډوي، اوږدوي او یا یې هم بدلوي را بدلوي. چې د همدې کړنې په مرسته هغه دا هڅه کوي، څو یو ښه شعر جوړ کړي. نو ځکه خو شاعري هیڅ وخت الهام نشي کیدی، چې ناڅاپه دې له غیببه را نازل شي.
د کایناتو پر اسرار باندې فکر کول هم یو څیز دی. البته دا هم رښتیا ده چې شاعري کسبي نه، بلکې یوه ورکړه (ډالۍ) ده او په قطعي توګه دا ترې مراد نه ده، چې له غور او فکر پرته پر چا باندې اشعار راځي. دا سمه ده چې تخلیق یو ډول مراقبه ده، خو بیا هم له غور او فکر نه لیرې نه دی.
آزاد د شعر په تعریف کې داسې لیکي:

- له شعر نه هغه کلام مراد دی، چې د ښه غور او سنجول شوو خیالاتو له ولولو څخه رامنځته کیږي. همدارنګه د الهي قدسیه ځواک سره یوه ځانګړې اړیکه لري، پاک خیالات تر ډیره لوړیږي او د شاعرۍ درجې ته رسیږي.

د پاسنې اقتباس پر دوهمه برخه باندې ګڼ اعتراضونه را ولاړیدلی شي. خو د لومړنۍ برخې ارزښت بیا څو برابره ترې ډیر دی. له دغه مراد نه چې شعر له ولولې او د فکر له ځیرتیا څخه رامنځته کیږي، نو په دې بحث کې نورې دروازې خلاصیږي. حالي هم سادګي، اصلیت او جوش د شعر ښه صفتونه بللي دي. له ځیر او غور نه موخه دا ده، چې شاعري د یو ډول تم کیدو او ستنېدو غوښتنه کوي. همدارنګه ولوله په دې معنا نه دی، چې څنګه زړه وغواړي همغسې دې وویل شي. یعنې د غالب په وینا: شعر قافیه جوړونې ته نه، بلکې معنا زیږونې ته وایي. محمد حسین آزاد وایي چې شعر باید اغېزمن، دروند او له ولولو څخه ډک وي، چې دا ډیره ښه خبره ده. خو تر ټولو غټه موضوع د هغه د ادب په نظریه کې د اخلاقي تصور په اړه ده، چې پر ادب باندې اخلاقي بندیزونه لګوي. هغه وایي:

- شاعر یوه ځانګړې اړیکه د پروردګار او آسمانونو سره لري.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په حقیقت کې شعر د روح القدس او د الهي رحمت له لوربینو څخه یوه شغله ده، چې د نرم زړې پر طبیعت یې لوروي.
- د شاعرانو د بدې ژبې او بدخیال له امله، شعر په هغه تور نشي تورنېدلی او نه هم ترې انکار کېدی شي، بلکې یوازې همغه کلام ته باید شعر ونه ویل شي.

د حیرانۍ خبره ده، له یوه اړخه په شعر کې د خپلې خاورې د حقایقو د راوړلو خبره کوي، چې شاعر خپل هیواد هېرکړی، په شعر کې د ګنګا جمنا یادونه نه کوي، د همالي لوړوالی او د ارجن شجاعت هغه نه اغېزمنوي. خو له بل اړخه یې بیا آسمان ته رسوي او د بلې دنیا مخلوق یې ګڼي. هغه دا خبره هم کوي، چې د بدو خیالاتو څرګندونه، له سره شعر نشي کیدی. د خیالاتو ښه والی یا بدوالی دې پر خپل ځای وي، خو کوم خیال چې مضمون ترې جوړېږي او بیا په شعر کې راځي، نو که هغه بد هم وي، فني عناصر یې معیار ټاکي.

تخلیق اخلاقو ته هیڅ اړتیا نه لري، نو بیا پکې نیک او بد خیالونه څه ته ویل کیږي؟ خیالات د معنا سره سیخه اړیکه لري او په شعر او ادب کې معنا ته له ځانګړو عینکو کتل ناسم دي. چې دلته د پیغام تر څنګ په بیلابیل ډول د تفهیم آزادي هم شته. خبره د کوم خیال پاکي یا ناپاکي نه ده، بلکې د تخلیقي دود ده، چې څنګه یو خیال د تخلیقي دود یوه برخه جوړیدی شي او د هغه د پیغام او تفهیم معیارونه څه دي؟ د خیال ښایست په معنا کې دی او د معنا ښایست په تجرید کې. آزاد په خپلې دې وینا کې مهم ټکي ته اشاره کړې چې: شاعر د معنا تصویر پر زړه باندې کاږي. له (معنا ) څخه موخه کیفیت دی او (پر زړه باندې) د اغېزمنتیا لوري ته اشاره ده.

د لفظ او معنا د بحث فلسفه په پخواني عربي ادب پورې تړاو مومي. جاحظ، عبدالقادر جرجاني، ابن رشیق قیرواني او نورو د لفظ او معنا د ځانګړتیاوو او درجو په ټاکلو کې په پوره فکر، د لفظ او معنا اړیکې ته په پام سره څرګندونې کړې دي. آزاد په عربي پارسي ادب کې ډیر پوهېد ، د آزاد په فکري جوړښت کې دا توکي اساسي حیثیت لري، د هغه د تنقید چوکاټ د لفظ او معنا په مروجه اسلوبو کې د حسن او قبح له لټون څخه عبارت دی.

معنا ته د لاسرسي کچه هر وخت پر خپل ځای همغسې پاتې وي، د معنا د سیاق ریښې تر لیرې غځېدلې وي، د همدې لپاره که شاعر د معنا انځور کاږي، نو په هغه انځور کې چې کوم سیاق رامنځته کیږي، د هغه اساس باید منطقي وي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد پخپلو فکري او ټولنیزو حدودو کې د شاعرۍ د تفهیم لپاره ځینو مهمو ټکو ته اشاره کړېده، چې په راتلونکي کې به هم پرې بحثونه کیږي. مثلاً د هغه دا جمله چې: شاعر ګواکې یو مصور دی.

د مصور کار تصویرونه جوړول دي او هغه له تصور نه کار اخلي. د تصور او تخیل تر منځ توپیر شته دی. تصور mimesis دی او تخیل imagenation. خبره دلته تر افلاتون او ارسطو پورې هم رسیږي، تصور یعنې د نقل د نظریې بحث ډیر پخوانی دی، چې ارسطو نقل ته د ژباړنې نوم ورکړی دی. تصور د ادراک خونه ده، حال دا چې تخیل تر هغه ډیر پخوانی ځیز دی. نو ویلی شو چې شاعري مصوري یا نقل نه، بلکې تخیلي تجربه ده.

د آزاد په زمانه کې دا ټکي روښانه نه ول، د هغه په اند تخیل او تصور هیڅ توپیر نه درلود. آزاد د توهم اصطلاح له کارولو پرته د هغه تعریف کوي، ځکه د هغه په وخت کې د نظریو تنظیم داسې نه ؤ شوی، لکه د اوسنیو ناقدینو په وخت کې چې دی. نو ځکه خو د هغه فکري او نظري اساس، د اردو تنقید په ښېرازه کې لومړنی هڅه بلل پر ځای ده.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپه، احتجاج او سهار- فیض احمد فیض

چې سهار شو، نو شپه را په یاد شوه، داغ داغ تیارې او شپه ډوله سهار مایوس کړم، ذهن یې راګېوډ کړ. له لنډ سهاره خو ښه دا ده چې تپه تیاره وي او سړی یې په تیاره کې ورک شي. ژوند د منزل حصول نه، بلکې یو مسلسل سفر دی. چې دا دی تر یویشتمې پېړۍ را رسیدلی دی او د یویشتمې پېړۍ په دوهمه لسیزه کې موږ پښه ایښې ده.

دا ځل د یو داسې شاعر په اړه خبرې کوو، چې شاعري یې د یو نوي سهار له لټون او همدارنګه له خارجي او داخلي هیجان څخه عبارت ده. دغه ښاغلی فیض احمد فیض دی.

د ن- م- راشد وینا زما ښه په یاد ده چې ویل یې: (فیض د نظریاتو نه، د احساساتو شاعر دی). د نوي سهار پرمختګ پاله نظریه (خیالي نړۍ) د فیض د شاعرۍ یو جز دی. که چیرې هغه یوازې د محسوساتو شاعر وای، نو سردار جعفري به هیڅ شکایت نه ورنه کاوه. د هغه له پرمختګپال ادبي خوځښت سره تړاو پخپله یوه غټه پوښتنه ده. له یوې مودې وروسته چې کله موږ د کوم شاعر یا د هغه پر تخلیق خبرې اترې کوو، نو د هغه بشپړ کلام او بشپړ ادبي فعالیت راښکاره کیږي. ځکه خو فیض ته یوازې د نظریاتو یا هم یوازې د احساساتو شاعر ویل نامناسب دي. دا هم قطعي نه ده چې هغه بلکل نظریه نه لرله، که یې لرله هم، نو په شاعرۍ کې یې د هغې له اظهار نه ډډه کوله.

هغه پخپله داسې وایي: (یو ښه ادیب پر خپله اراده او د خپل تخلیق پر قوت باندې ربښتیا هم دومره واک لري، چې هغه هر څه لیکي، نو د خپلې فلسفې او خپلې نظریې مطابق یې لیکي). د فیض ښتوب همدا دی، چې هغه تر ډېره له فني اظهار نه ځان ساتي، که څه هم د



د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې د ودې او پرمختګ او همدارنګه د هغې د هوساینې پر نظریاتو باور لري، خو اصلاحي شاعري نه کوي. د هغه په اند داسې توفان هیڅ وخت نه دی راغلی، چې له امله یې د کومې مخصوصې ډلې ښېرازه له منځه لاړه شي. د هغه احتجاجي منطق له نورو پرمختګ غوښتونکو سره توپیر لري.

که داسې وویل شي چې د هغو څو شاعرانو نومونه واخلئ، چې ښه په زغرده د نړۍ د هرې ژبې شاعرۍ پر وړاندې پرتله کیدی شي، نو بې ځنډه به موږ دا تثلیث وړاندې کړو: میر- غالب- اقبال. ځینې کسان بیا په دغه کتار کې فیض هم شاملوي، زه هیڅ اعتراض نه لرم، ځکه چې هر څوک پخپله خوښه د انتخاب حق لري. خو زه یوازې پر همدغه تثلیث باندې ټینګار کوم. فیض زموږ مهم شاعر دی، خو زموږ د اردو والو دا عادت دی، چې د هر چا پر سر باندې د عظمت تاج ږدي. خبره دا ده چې د ستر او مهم تر منځ توپیر شته دی.

په شلمه پیړۍ کې که له اقبال نه وروسته فیض تر ټولو ستر شاعر بلل کیږي، نو موږ باید غور پرې وکړو. فاني، یګانه، راشد، میراجي، ناصر کاضمي، مجروح، مخدوم، فراق او...... زما مطلب له دوی سره د فیض پرتله کول نه دي، زه یوازې دا خبره کوم، چې د فیض کمال دا دی چې هغه خپل پیاوړي اسلوب اختراع کړل. یو چا وویل چې فیض څو ځله زندان ته تللی، ځکه خو دومره غټ شاعر ترې جوړ شو. دا یې هم ویلي چې د هغه منصبونو د هغه په شهرت کې ستره ونډه ادا کړې ده.

هغه یو ډیر خواخوږی انسان ؤ، ټولې خبرې یوې خوا ته خو د غور خبره دا ده، چې د هغه شعري پوتانسیال(پټ ځواک) څومره زیات دی؟ د هغه پر ژبه باندې اعتراض کومه مهمه موضوع نه ده، په شعر ویلو باندې واک لرل هم کومه غټه خبره نه ده. د وزن له پلوه سموالی، د بندښت نشتوالی او له هر پلوه سموالی هم د شاعرۍ معراج نه دی. هغه چې کله وايي: (شعر یو بل څیز دی)، نو د دې خبرې د اسرار ارزښت منو. د فیض له شاعرۍ نه خوند اخستل، د لوستونکي پر ذوقي سطحې پورې تړاو لري. د هغه د شاعرۍ لوستلو او پوهېدلو تر منځ د کلاسیکي ربط او عصري تناظر درناوی اړین دی. ځکه دلته لفظ مازې لفظ نه دی، ګل او بلبل یوازې ګل او بلبل نه دي، څه نور هم دي. نو آیا دا صفت یوازې فیض ته ځانګړی دی؟

استعاره د کلام جوهر دی. له لهجوي الفاظو پرته که شاعري مازې بیان شي یا نشي، خو اړخونه یې خامخا محدودیږي. چې په دغسې حالت کې د ښې شاعرۍ نمونې خال خال پیدا کیږي، نو ښه دا ده چې د فیض د لفضونو نظام ته ښه توجه وشي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه خبره دا ده، چې د فیض له مړینې ۲۷ کاله تیرېږي، خو اوس هم دا پوښتنه شته چې فیض پرمختګپال ؤ کنه؟ یعني یوازې د هغه شاعرتوب کافي نه دی. د حیرانۍ خبره دا ده چې اوس نه فیض شتون لري او نه هم د سردار جعفري دیکتاتوري. خو بیا هم د فیض د شاعرۍ په برخو ویشلو دود لا پای ته نه دی رسیدلی. د فیض معاصرین هم نه دي پاتې، د انقلاب نعره هم بې رنګه پاتې شوه، یوې نظریې هر څه تالا والا کړل، اصلاحي او انقلابي شاعران په مرګ محکوم شول، د نارو سورو (چیغو) سیاست پای ته ورسید او چوپتیا د غرېدو ځواک تر لاسه کړ. اوس خو نه د فیض د ژبې ترلو او نه هم د تخلیقي ژمنلیک وخت دی. د فیض شخصي بهیر د هغه له زمانې سره جوخت پای ته رسیږي، هغه څه چې ترې پاتې دي هغه یې کلام او د هغه لیکنې دي.

دا شپه د هغه درد ونه ده
چې له ما نه تا نه لویه ده

د فیض دغو دوو مصرعو زه په یو عجیب کیفیت کې اچولی یم. د شاعرۍ، شپې او له اسراره ډک ذات، د دریواړو سره یوځای کول، پخپله په داسې ذهني هلاکت کې غورځېدل دي، چې په پایله کې یې چورت- چورت او پرلپسې چورت دی. که چورت د پېښو د استعارو موندلو ته زړونه راکاږي، نو پیچلې کوي یې هم.

ابهام د شاعرۍ په تومنه کې دی او شپه د دغه ابهام تت سیوری دی. دا شپه د میر هم ډیره خوښه وه او د ناصر کاظمي هم. خو فیض بیا دا شپه ونه شوه پاللی. کله کله یې وجود باندې د سکوت مهر لګېد او کله کله یې خپل ضمیر ته زهر ورکول.

په لیرې چوپتیا کې چې یوه چیغه ونښته، نو شپې خوله خلاصه کړله، ګواکې شپه د وجود سوځولو استعاره ده. شپه د احتجاج څهره ده. د هغې په چوپتیا کې ډیر شور دی، چې اندازه یې د سهار بیداري او د ورځې ډیره چوپه چوپتیا هم نشي اټکلولی.

سارا شګفته ویلي ول؛ زه چې مړه شومه نو زما نوم شپه شو. دا کومه معمولي خبره نه ده، دلته شپه د مرګ سمبول دی او مرګ د احتجاج.

د فیض د شاعرۍ په لوستلو کې، ذهن د دریوو بنیادي الفاظو په لور ځي: (شپه، احتجاج او سهار). د دغو دریواړو توکو په اړه ن- م- راشد د (نقش فریادي) په سریزه کې داسې ویلي دي: (دا د یو شاعر د نظمونو، غزلونو هغه ټولګه ده، چې د رومان او حقیقت پر اتصال ولاړه ده). چې تر اوسه پورې زموږ ناقدین همدا خبره شاربي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله خبره هم ډېره مهمه ده، هغه دا ده چې فیض دودیزو یا عرفي الفاظو ته سیاسي معنا ور اغوستې ده، یا کلاسیک سیاق ته یې نوی تناظر ورېخښلی دی. خو له دې هیسته هم څه شته کنه؟ که څه شته نو څه دي؟

دلته له فیض بره د رومان تصور یو څه بدل شوی دی، د هغه پر انقلابي تصور باندې کافي بحث کېدلی شي. که په شاعرۍ لوړه ورکېدلی، نو د دنیا هر سړی به اوس شاعر ؤ، که په نظمونو انقلاب راتللی، نو د دنیا ټول انقلابیان به شاعران ول. انقلاب پر کاغذ باندې نه، په ذهنونو کې رامنځته کیږي. فیض په دې اند دی چې کلتور له ټولنیز ژوند پرته نشي رامنځته کېدی، خو له دې خبرې نه هیڅوک انکار هم نه کوي. هغه وایي چې د کلتور بنسټ د یو قام پر سیاسي او اقتصادي نظام باندې ولاړ دی، که چیرې په دغه نظام کې بدلون راځي، نو خامخا انقلاب راځي:

- کله چې د کومې ادارې، کومې نظریې یا هم د کوم مادي څیز سیاسي او اقتصادي ارزښت کمیږي، نو له هغو سره موږ خپلې اړیکې له منځه وړو. زموږ په شته نظام کې د هغو درجه راټیټیږي. یا په بله وینا، زموږ د کلتور ترکیب بدلیږي.

په اوسني ادب کې د انقلاب اساسي لامل دا نه دی، چې ګواکې په دې دوره کې د ادیبانو تمرکز او د پام وړ ټکی حقیقت پالنه ده. نه، په اوسنۍ دوره کې حقیقت یو موهوم، ناڅرګند او فوق الفطرت څیز نه دی، د حقیقت معنا زموږ ټول ټولنیز نظام او د هغه ټول مظاهر دي. په دغه حقیقت کې زموږ د سترګو وړاندې داسې بدلونونه راغلي، چې په لومړي ځل عوام پکې د مهم او څرګند عنصر په توګه رانتوتي دي.

د ژوندي پاتې کېدو لپاره انسان یوازې ډوډۍ یا خواړو ته اړتیا نه لري. هر څوک د واک تږی نه دی، ځکه خو موږ کلتور یوازې د سیاست پوهنې او اقتصاد پوهنې په رڼا کې نه ګورو، کلتور هر څه رانغاړي، که هغه په محسوسه یا غیر محسوسه توګه وي، د ژوندانه هره ژوندۍ تجربه د کلتور په جوړښت کې خپله ونډه ادا کوی.

انقلاب یوازې سیاسي یا اقتصادي بڼه نه لري، په هغه کې روانه جذبه د یوې پېښې مدیونه نه ده، نو په همدغه خاطر بدلون یوازې اقتصادي یا سیاسي نه وي، فکري بدلون هم یو ستر انقلاب دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې پر ځای چې په سړکونو کې انقلاب راشي، ښه دا ده چې د يو چا په ژوند کې انقلاب راوستل شي، ځکه چې ادب ورسره وزن مومي او د هرې تجربې روح راکاږي.

زموږ په ژوند کې ډېر داسې څه دي، چې اقتصادي او سياسي ارزښت نه لري او که يې لري هم، نو ډېر کم. خو بيا يې هم موږ ډېر خوښوو. په مينه کې مادي ګټې په پام کې نه نيول کيږي او همدارنګه يوازې په مادي حقيقت د انقلاب نغمه نشي غوږيدلی، ځکه روحانيت هم ډېر اړين څيز دی.

له کوم شعر، جملې يا هم کيسې سره کله-کله ذهن په لړزه راشي، له مادي پلوه ادب سراسر د زيان سودا ده، نو بيا په شعر ويلو ولې هسې خپل ژوند بربادوو؟ خو هغسې نه ده؛ دا چې شعر لا تر اوسه له زوال سره نه دی مخ شوی، د هغه د بقا راز دا دی، چې زموږ روح ته غذا ورکوي.

فيض وايي: حقيقت موهوم، ناڅرګند او فوق الفطرت نه وي.

عجيبه خبره ده؛ آيا هر د ليدو وړ څيز حقيقت دی؟ د فيض له خولې، چې د انقلاب يو لامل په هغه کې د عوامو دخل دی. دا رښتيا ده چې په ژوند کې انقلاب راځي او ادب د ژوند ډېر ستر حقيقت دی.

په عوامو او خواصو باندې د ادب ويشل، زموږ له توانه وتلې ده. کله چې موږ کوم شعر لولو، نو همغه شعر موږ هم لولي. يعنې په شاعری کې د ذهن بدلولو صلاحيت شته دی. دا بدلون داسې نه کيږي، چې يوه چاری راواخله او د يو شتمن سر وربان‍دې ټوټه ټوټه کړه. چې دغسې کړنه د يو سياسي مشر په جذباتي تقرير تر سره کيدی شي، خو شعري عناصر بيا دغسې پايلې نه لري.

شاعري د نعرو وهلو، چيغو وهلو او يا غږ کولو په شان کوم څيز نه دی، چې راشه، لاړ شه، وګوره، پاڅيږه او يا پاڅيږه زړګيه، د زړه سره څه، په مزه مزه څه، خاورې پر سر څه، په ناز نخرو راڅه او ...... چې فيض ته همدغه سبک زيان رسولی دی.

ای د خاورې خلکو پاڅيږئ، هغه وخت را نږدې شوی
چې تخت را نسکور شي، چې تاج را وغورځيږي

اوس زنځيرونه ماتيږي، اوس د زندانونو خير نشته
چې سيند په غلبلو را روان شوی، په وابنو نه دريږي



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیټ هم ځه، لوړ هم ځه، مېړونه هم ډیر دي، سرونه هم
ګړندی درځه، چې ډیرو ځایونو باندې ولکه لویږي

ای ظلم ځپلو ! خوله وازه کړئ، چوپو خلکو تر کله چوپ؟
یو حشر خو به ترې جوړ شي، تر یو ځایه خو ویاله بهیږي

شپه یوه ژوره، پراخه او ټولیزه استعاره ده. په پراخ مفهوم دا هغه سمبول دی، چې د یوې بشپړې دورې د وژنو او دردونو د څرنګوالي وجدان دی. له دې سره- سره د پټو نېښنورو جذباتو او کیفیاتو له هغې لړۍ څخه عبارت ده، چې د انسان د فطري محسوساتي وجدان او ژور شعور نښانه ده.
د میر او غالب زمانه د تهذیبي زوال او د ارزښتونو کمېدو زمانه وه. د ښېلتون، ځور او کړاو د هند له وېش وروسته هم د ماتې د احساس په بڼه تر سترګو کیږي. د فیض په شاعرۍ کې د ښېلتانه د شپې خیال، د ماتې احساس ښیي. د هغه په اند (سهار) هغه استعاره ده، چې ماته پر بریا باندې بدلیږي. خو د ټولې شاعرۍ مطالعه یې دا جوتوي، چې هغه د شپې په وسیله د زندان زنځیرونه مات نه شوی کړی.
د هغه په شاعرۍ کې ځینې داسې شعرونه هم شته چې د شپې رومان، نوښت او داخلي هیجانات بربنډوي، خو ټوله شاعري یې بیا هغسې نه ده. د شپې د عظمت ادراک ډیره غټه خبره ده، نو د همدې لپاره د فیض په شاعرۍ کې، چې که هر څنګه شاعري یې ده؛ هغه په خپلو معاصرینو کې د امتیاز وړ دی. د ورځې په رڼا کې چې کوم احساسات او جذبات وژل کیږي، د هغو رنځونو او دردونو ته شپه پناه ورکوي. د شپې په دښتو کې را الوتی توفان د درد تنابونه شوکوي او غورځوي یې، که شپه په اصل کې تیاره ده، خو په هغې کې سکروټه شوي الفاظ ښه تازه کیږي.
د فیض په شاعرۍ کې شپه او احتجاج، په هر ځای کې سره یوځای راغلي دي. د هغه د شاعرۍ رنګ ډېر روښان دی، شپه د بریا د نفی ګڼلو پر ځای د وجود ثابتول او بیا په هغه کې ژوند کول، تجربه ستونزمنوي.

ټول د سر دښمنان دي، ټول قاتلان دي
دا کرۍ شپه هم، دا سیوری هم، تنهایي هم



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام پر پېچ و خم ستورو باندې
زینه زینه راښکته کېږي شپه

د قفس په وره چې د تیارې مهر لګېږي
نو فیضه ښکاري چې زړه ته ستوري ننوځي

کله چې ستا سمندر په سترګو کې
د دغه ماښام لمر ډوب کړي
آرام به ویده شي، کور دروازه
او لاروی به خپله لاره نیسي

له مختلفو غزلونو او نظمونو څخه په را اخستل شویو پاسنیو مصرعو کې د احساس شدت، د جذباتو زیروبم، د لهجې متانت او تخلیقیت ښه زیات دی. کاشکې چې فیض د دغه رنګ ته پراختیا وربخښلې وای. دلته ددې خبرې یادونه اړینه ګڼم؛ چې زما موخه یوازې له هغو شعرونو څخه نه ده، چې پکې د شپې الفاظ راغلي وي. زه خو شپه د یوې ژورې استعارې په توګه ګڼم، ما مخکې هم یادون وکړ، چې شپه د یوې بشپړې زمانې د وژنو او رنځونو د څرنګوالي وجدان دی. دا د هغو پټو نېښنورو جذباتو او کیفیاتو له لړۍ څخه عبارت ده، چې د انسان د فطري محسوساتي وجدان او ژور شعور ننښانه ده:

مه شمېره غشي، زخمي زخمي زړه شمېرلي
چې پاتې دي، تېره واړوه داغ داغ بدن ورګرځولي

پر هغو خپله وینه وسوځم، که مې ځان او زړه
په محفل کې خو ځینې ډیوې بلې شوې دي

زما په چوپتیا کې په ریږد دی
زما د چیغو ورک شوی آواز



د پښتو کتابونو پر لیکه نری www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول اشعار د فیض شاعرۍ ته متانت او ادبي وقار وربخښي. دا ډول شعرونو ته هیڅ لېبل او درجه نشي ایښودل کیدی. د شاعرۍ موضوع باید څه وي؟ د فیض په اند ؛ شاعر باید د خپل هم عصره ژوندانه ارزښتونه په سمه توګه وپیژني او نورو ته یې په ورپیژندلو کې لارښوونه وکړي. له همدې امله زموږ د شاعرۍ مهمه موضوع باید په اوسنۍ زمانه کې امن، آزادي، حب الوطني او ولسواکي وي.
ژوند یوه بې سرحده لړۍ ده او یوازې په څو موضوعاتو باندې د هغه حق نشي ادا کیدی. دا چې څوک وایي شاعري باید څنګه وشي؟ په دې اړه پرېکړه ناشونې ده، ځکه شاعرۍ ته باید د نوښت له پلوه وکتل شي. د فیض پېژندنه د زنداني ادب له پلوه هم کیږي، دا ضروري نه ده چې یو څوک دې زنداني شي او هغه دې بیا په لیکنو کې هم د زندان انځور وړاندې کړي. د فیض زړه وغوښتل چې په زندان کې دننه عشقیه شاعري وکړي، چې رښتیا یې هم وکړه. دا حتمي نه ده چې په زندان کې د اوسیدو له امله دې په شاعرۍ کې د زندان له کړاوونو یادونه وشي.
روسو ویلي دي: (انسان آزاد پیدا شوی، خو پر هر قدم پورې یې رنځیر تړلی دی). دلته زندان له کومې بندې کلا څخه نه، بلکې له احساس نه عبارت دی. د زنداني کړاو احساس ازلي دی، چې دا احساس د فیض په شاعرۍ کې هم شته.
په پای کې د یوې پوښتنې اجازه غواړم؛ موږ ولې په یویشتمه پېړۍ کې فیض مطالعه کړو؟
نن چې موږ فیض مطالعه کوو ، نو د دې تر شا هیڅ کوم سیاست او پروپاګند شتون نه لري. هر څوک خپل تحفظات او تعصبات لري، چې دا څیزونه بیا تر ډېره پورې دوام نه مومي.
نن چې د فیض دا ډول ذکر کیږي، نو خامخا څه شته چې د هغه کلام له تعصباتو ډک بلل کیږي.
په اوسني وخت کې هر ډول شاعري ژوندۍ پاتې کیدی شي خو ، چې د هم آهنګۍ صلاحیت پکې موجود وي. یوازې د یوې نظریې پر بنیاد هیڅ شاعري ژوندۍ نشي پاتې کیدی. د فیض په کلام کې د جذبې او احساس په سطحه د هیجان او لذت ګڼ اړخونه شتون لري. د کلکتې له کمونست سیاست څخه رانیولې د (جي- ان- یو ) تر سیاسي هنګامو پورې، ما د فیض کلام زیاتره د نعرو په توګه محسوس کړیدی. لکه: (وایه ستا خوله آزاده ده - لازمه ده چې موږ یې هم وګورو ) یا (ټیټ هم ځه، جیګ هم ځه - مېړونه هم ډیر دي، سرونه هم ).



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرۍ سياسي پايلې هغه وخت راوځي، چې کله په هغې کې سياسي ښېګڼې په پام کې ونيول شي. مونږ د فيض پر هغو غزلونو او نظمونو باندې بحث کوو، چې د ژوندانه معيار سره- سره د فن پر معيار هم پوره تمرکز ولري.
د مېجر محمد اسحاق پر دغو څرګندونو باندې خپلې خبرې پای ته رسوم، چې په (زندان نامه) کې راغلي دي، وروسته بيا معلومه کړئ چې د فيض د پوهاوي تېره شوې سناريو څه وه او اوسنی حالت څه ډول دی؟

- د فيض په شاعرۍ کې د پاکستان د زحمتکښو خلکو خوله او د وينې تودو خه لا تر اوسه په پوره اندازه نه دي شامل. په څومره مينه يې چې د سمن او ګلاب يادونه کړې، هومره يې د هغه بدمرغه او بدنصيبه نه ده کړې، چا چې د خپل ځيګر په وينو باندې همدا سمن او ګلاب ښېرازه کړل. اوس يې حقدار هغه څوک دی، چې هغه هم د سمن او ګلاب له نزاکتونو، رنګونو، ښايستونو او خوشبويانو نه ګټه اخستلی شي.

د هغه زړه هلته ټوپونه وهي، خو
د پښو په لړزه کې يې پابندي ده اوس

د هغه شاعري د ناستې له خونو، ښوونځيو او کالجونو څخه اوس وتلې او تر سړکونو، بازارونو، کروندو او کارخونو پورې رسيدلې ده.
د ښاغلي فيض خورجين که لږ نور لوی شي، نو له شک پرته به زمونږ د ادب ستره پانګه وګرځي. تر دې د زياتې رتبې وړ به بل څوک وي؟



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ابهام ښایستونه: میراجي

(شعر خوب معنی ندارد.... بیدل)

په شعري ابهام کې نغښتي دوه آوازونه دي(میرجي او میراجي)، همدارنګه دوه سیوري دي، چې هغوی په موږ پسې دي او موږ په هغوی پسې.


www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره د شپې او سيوري ده، شپه د انسان لومړنۍ پېژندنه ده او سيوری د انسان هغه لومړنی همزېږنده دی، چې د انسان سره غبرګ زېږېدلی. د سيوري شپه د تتې افسانې له تومنې را ټوکېدلې ده.

دا زمکه شنډه ده، چې همدلته پوښتنه رامنځته کېږي:

خدايزده له کومې کندې راپورته شوي
د مبهمو شپو له رنځه ډک سيوري

کنده، شپه او سيوری، درېواړه سمبولونه دي. له معنوي پلوه ډېر پياوړي دي او د شتون تعبير يې معنا ته هغه اړخ وربخښي؛ چې لفظ د معنا د خزانې طلسم ګرځي.

د پاسني شعر په مرسته چې موږ د ميراجي د پيژندو هڅه وکړه، نو موږ دا محسوس کړه چې نوموړی ليونی دی. پوښتنې زياتې کوي او پوښتنې هم داسې پوښتنې چې په هره يوه کې يې يوه دنيا ودانه ده:

په هر ښار وګرځېد خو د کور لوری يې هېر کړ
ستا او زما څه دی هغه، خپل او پردی يې هېر کړ

سرايلتوب يا ليونتوب د ابهام څهره ده او د تورې شپې بدمرغه سيوري د ابهام څادر اغوستی دی. ابهام څه شی دی؟ دا کوم صنعت نه دی؛ هر لفظ تر هغه وخته پورې مبهم او بې معنا دی، ترڅو د مفروضو په مرسته معنا ورنکړو. ابهام د لفظ په تومنه کې دی، دا د مانوس او نامانوس يوه داسې لړۍ ده، چې شاعر پکې د ژوند تجربې رانغاړي او د معنا د اړخونو پرانستلو لپاره د متن لوستلو چاره برابروي، چې دغه چاره پر پوښتنه پيليږي او پر پوښتنه باندې پای ته رسيږي.

د ابهام په تل کې پټ ژوندون پخپله يوه لويه پوښتنه ده، نو بيا له ابهام نه تېښته څنګه کېدی شي؟

د لوستلو تحليلي نظام هرې کليمې ته د معنوي بنسټ له پلوه پراختيا وربخښي، استعاره د کليمې د معنوي امکاناتو د پراخولو عامه وسيله ده، دا ځکه چې د ژبې بنسټ استعاراتي دی او مفروضه چې کله عادي کيږي، نو د هغې استعاراتي ارزښت هم کميږي. ځکه خو هره نوې استعاره د ناڅاپي پام لامل ګرځي.

شاعري د ژبې معجزه ده، د همدې لپاره پر ادبي تخليق باندې د هر کېدونکي بحث پيل، د ژبني چارو له مسايلو څخه کيږي. د لفظ او معنا پر اړيکه باندې له پوهېدو پرته، د معنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رعایتونو پوهاوی نیمگړی دی. هر استعاراتي جسم د لیدني له پلوه یو تر بله په ډېرو اړخونو کې سره تړاو لري، چې له همدې امله رعایتونه رامنځته کیږي. دا چې د مجاز ټول حالتونه له ابهام څخه را ټوکیږي، نو که د لوستونکي ذهن له دغو حالتونو سره آشنا هم وي، بیا به هم هغه ډاډمن نه وي، هر لوستونکی د همغه متن له مخې نوی جوړښت او ترتیب ټاکي.

ابهام شعري خواص څواکمنوي، ځکه چې د شاعرۍ له ریښو سره تړاو لري او د ذهن یو خپلواک حالت دی. د انسان ذهن تل د شک، وهم یا مبهمو کیفیتونو ښکار گرځي.

د عبیدالله علیم د مراسمو په یوه غونډه کې جون ایلیا ویلي دي: (شاعري د ذات اظهار نه، بلکې د ذات د هیجان اظهار دی). له ذات څخه موخه هغه ذهني هیجان دی، چې په یوازې ښه په کوم تخلیقي متن کې د خپل ټول زیاتوالي سره را څرگندیږي. هر ډول نظم که هغه هر څومره ساده او روان وي، بیا به هم له ابهام څخه تش نه وي. د نظم هر ډول څېړنه، د هغه تعبیر لپاره نه یوازې د ابهام له پړاوونو تیریږي، بلکې په هغو کې رانغاړل کیږي هم، نو همدغه لامل دی چې د تخلیقي متن لوستل یو ډول مجاهده ده.

د خبرو باذوقه پیچلتیا لوستونکی پر ځان بوختوي، د میراجي په شاعرۍ کې ابهام یوه توره کنده ده، فکري سمبالښت د تورې شپې په شان دی او تیاره سیوری د هغې مرکزي شعري کردار دی. له همدې امله مو د ابهام ښایستونه د هغه د شاعرۍ سرلیک گڼلی دی.

یو ابهام دی او بل ایهام، چې د دواړو ترمنځ توپیر شته دی. ایهام (pun) یو شعري صنعت دی، چې پکې له یو لفظ څخه دوه معناوې مراد وي (یوه نږدې او بله لېرې) او د لیکوال هم له لیرې معنا څخه مراد وي.

ناڅاپي پام (Ambivalence) هم دې ته ورته دی، خو دلته دواړه معناگانې یوه له بلې نه د جلاوالي په وخت کې محدودیږي. حال دا چې ابهام په ډېرو معناوو کې پټ دی.

ایگلټن د ابهام تعریف داسې کوي:

Ambiguity happens when two or more senses of a word merge into each other to the point where the meaning itself becomes indeterminate.

ژباړه : کله چې دوه یا تر دوو ډېرې کلمې د موضوع جوړولو لپاره داسې سره رامنځته شي، چې معنا او مفهوم یې ناڅرگند وي، هغه ابهام دی .

معنا دا چې ابهام د معناوو گډول دي. په هېڅ سیاق کې په هېڅ اړوند د ابهام لفظ پخپله لغوي معنا (Literal sense) نه کارول کیږي. کله چې له یو لفظ یا کلیمې څخه څو معناوې اخستل کیږي، نو مجاز خپله لمنه نوره هم پراخوي .



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کومې ځانګړې لغوي معنا څخه تیری، د شعري توکو (تشبیه، استعارې، کنایې، مرسل مجاز، تمثیل، مبالغې، سمبول او نورو ) د رامنځته کېدو لامل ګرځي. بنسټیز او اصلي څیز تخیل دی، چې توهم (Fancy ) یې نه بېلېدونکې برخه ده. توهم د بېلابېلو معناوو سره تړاو مومي او همدارنګه د حسي څواک یو سم لوری ورته ټاکي.
توهم د ابهام کیلي ده، ابهام په عادي خبرو کې هم رامنځته کیږي، خو تر ټولو مبهمه بیا هغه شعري ژبه ده، چې هره برخه کې یو ډول منطقي وي.
شمس الرحمن فاروقي په دې اړه وایي:

- له اجمال او اصطلاحي لفظ نه وروسته ابهام د شاعرۍ دریمه او وروستنۍ معروضي پېژندنه ده. زه دا وایم، چې که په کوم شعر کې یوازې ابهام وي، بیا هم هغه شاعري ده. په عامه توګه اصطلاحي لفظ او ابهام یو ځای رامنځته کیږي، خو لکه څنګه چې یوازې اصطلاحي لفظ، شعر په شاعرۍ بدلوي، همدغسې ابهام هم شعر ته د شاعرۍ رنګ ورکوي. په شعر کې ابهام یا خو د نخښنو له وجې رامنځته کیږي او یا د داسې الفاظو په کارولو سره چې پوښتنې ورباندې ستومانه شي. هر څومره چې پوښتنې را ولاړیږي، نو هغومره شعر مبهم او ښایسته کیږي.

معنا دا چې د اجمال او اصطلاحي لفظ په شان ابهام هم د شاعرۍ ځانګړې جز دی او همدغه دریواړه توکي د شاعرۍ معروضي پېژندنه ټاکي. خو خبره دا ده چې ابهام هېڅکله په خپل ذات کې معروضي نښي کېدای. یعنې د ابهام معروضي پېژندنه ناشونې ده. که په هر اساس د شعري متن په آهنګ کې ابهام شتون درلود ، نو هغه ته شاعري ویل کیږي.
ابهام د شاعرۍ وروستۍ معروضي پېژندنه نه، بلکې لومړنۍ پېژندنه ده او د شاعرۍ لومړنی شرط هم دی.
فاروقي دا خبره سمه کوي چې: که په شعر کې یوازې ابهام هم وي، نو بیا هم هغه شاعري ده. هغه دا هم وایي چې په عامه توګه ابهام او اصطلاحي لفظ دواړه یو ځای راځي. خو زما په نظر ابهام مخکې راځي او وروسته بیا اصطلاحي لفظ. دا ځکه چې د اصطلاح بنسټ پر ابهام ولاړ دی.
هغه کومه استعاره ده چې په اړه یې تر یوې نه زیاتې پوښتنې نه را پیدا کیږي؟ هره پوښتنه چې رامنځته کیږي، نو د ابهام له امله به وي. همدارنګه د هغه له لومړني حیثیت څخه انکار ناشونی دی، دا چې اصطلاح له ځانه مبهمه وي، نو د ترسیل موضوع هم رامنځته کیږي او د پیغام لېږد لا ښکلی کوي.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیري کسان دا وایي چې پلانکی شعر یا نظم مهمل( چټیات یا بې معنا ) دی. خو د ابهام له امله شعر نه معما ګرځي او نه هم د مبالغې له وجې کوم شعر چټي یا بې معنا کېدی شي. هر شعر مهمل نه وي، یو څه زموږ د تفهیم ګناه هم ده. کېدی شي یو خیال د یو چا لپاره مهمل وي، خو همدغه خیال بیا حتمي نه دی چې د نورو لپاره هم مهمل شي.

مبالغه د ابهام له منځه را وځي او بېرته د استعارې په رګونو کې ننوځي. ابهام چټیات او پیچلتیا نه، بلکې د معنا زیږیدنې عمل دی او یوه نه یوه معنا یې خامخا را وځي. په پیچلتیا کې ځینې ځایونه خامخا ستونزمن وي، خو د نه پوهېدو وړ نه وي.

ځینې حوالې دا ستونزه له منځه وړلی شي، چې وایي: (شاعري پراختیا ده، نو د همدې لپاره مبهمه ده).

دا ډېره آسانه ده چې په یو چا باندې د مهملیت تور ولګول شي. کله چې یو څوک د بشیر بدر او احمد فراز د شعرونو له لوستو سره عادي شي، نو هغه ته خامخا د ن م راشد او میراجي شاعري چټیات بریښي. له ډېرو کسانو نه دا اورېدل شوي چې مېراجي چټیات وایي او ځینې خلک بیا دا وایي چې: (لکه څنګه چې فیض زموږ پر ژبو باندې ناست دی، مېراجي نه دی، ځکه د هغه کلام پر ژبو ډېر نه راځي).

خبره دا ده، چې ټوکې خو هم پر ژبو باندې کښیني، نو آیا د ټوکو (فکاهیو) او شاعرۍ ترمنځ څه توپیر شته؟ فیض او میراجي سره یو برابر نشي بلل کېدی، ځکه هغوی هر یو ځانته د خپل سبک شاعران دي. که د میراجي کلام د چا په یاد کې نه پاتې کیږي، نو په دې کې د هغه ګناه نشته. میراجي د وجود شاعر دی، کله چې ژوند مبهم دی، نو بیا له میراجي څخه ولې دا غوښتنه کیږي، چې د هغه مطالب دې آسان وي؟

فاروقي صاحب ډېره ښه خبره کړې:

- اصلاً د یو چا شاعرۍ ته له مهمل ویلو څخه دومره ویریږم؛ لکه یو مسلمان چې بل مسلمان ته له کافر ویلو ویریږي. خو د افسوس خبره دا ده، چې زموږ په هېواد کې د کفر فتوا له پخوا راهیسې ډېره ارزانه ده او لا تراوسه پاتې ده.

تر اوسه پورې په بحث کې دغه بنسټیزه پوښتنه هم شته، چې د ابهام پېژندنه ولې وټاکل شي؟ د ابهام شرط سمبول دی او په سمبول کې د تشبیه، استعارې یا تمثیل مفهوم شامل وي، چې په دې کې له استعارې نه هم ژورتیا ډېره وي. سمبول له خپلو ټولو ځانګړتیاوو سره را څرګندیږي. فرض کړئ اسمان، چې د زمانې استعاره ده، خو په هغه کې د لوی والي، پراختیا، خوځښت، بدلون او وخت په شان مفاهیم هم شته.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان هم د خدای(ج) لپاره استعاره کېدی شي او هم د ظالم لپاره، چې د محتوا او خرنګوالي له مخې یې مفاهیم بدلیږي. خو همدغه آسمان چې کله د سمبول په معنا راوړل شي، نو په هغه کې له پاسنیو ټولو معناوو څخه مراد دی.

پر ابهام باندې د بحث او څېړنې په هکله د سرولیم ایمپسن کتاب ( Seven types of ambiguity ) معتبره حواله ده. ایمپسن دا کتاب هغه وخت چمتو کړ، چې هغه لا دوه ویشت کلن شوی نهؤ، کله چې هغه د څلرویشتو کالو شو، نو د لومړي ځل لپاره دا کتاب په ۱۹۳۰م کې خپور شو او په نوي ادبي تنقید کې ډېر د پام وړ وګرځېد.

ایمپسن سره له دې چې ابهام یې په اوو برخو تقسیم کړ، د هرې برخې بېله- بېله درجه بندي یې هم وکړه. هغه بلاخره دې پایلې ته ورسېد چې ابهام د شاعرۍ په تومنه کې دی.

هغه د ابهام د تعریف په اړه داسې لیکلي:

“ambiguity” it self can mean an indecision as to what you mean, an intention to mean several things, a probability that one or other or both of two things has been meant, and the fact that a statement has several meanings. It is useful to be able to separate these if you wish, but it is not obvious that in seperting them at any particular point you will not be raising more problem than you solve.(4(

ژباړه : د ابهام موجودیت د موضوع په اړه داسې تردید رامنځته کوي، چې یعنې د هغې به اصلي مفهوم څه وي؟ معنا دا چې څو معناوې زیږوي. کیدی شي چې یوه یا بله(جمله) او یا هم دواړه د دوو شیزونو معنا ورکړي، خو په اصل کې داسې ده چې، جمله د څو معناوو لرونکې ده. دا به ډیره ګټوره وي چې که تاسو وغواړئ تفکیک یې کړئ، البته که لېوالتیا یې لرئ. خو دا څرګنده نه ده چې که د هرې موضوع په تشخیصولو او بېلولو کې نورې ستونزې رامنځته نه کړئ، نو بیا بریالي یاست.

ایمپسن د ابهام د ښایستونو تعبیر د طرز او اسلوب له باریکۍ او نرمښت څخه کوي. خو زما په خیال، ابهام د زرګونو ډولونو مجسمه ده، هغه ته د رسېدو لپاره یوازې اوو نه، بلکې زرګونه لارې شته دي. په هغه کې د ډوبېدو او ننوتو په هڅه، لوستونکی ډېر بوختیږي او معنا بیا هم همغسې پیچلې پاتې کیږي.

ځینې خلک د ابهام سخت مخالف دي، چې د مېراجي او راشد په شاعرۍ کې ابهام ډېر زیات کارول شوی دی. دلته په دې اړه د سلیم احمد د دوو مضامینو حواله راوړل مناسب



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریښي: یو-(ابهام ولې؟) او بل-(ابهام او چلبازي) هغه د ابهام بېلابېل ډولونه یاد کړي او دغه لاندې پوښتنې یې مطرح کړېدي:

- مورِ ته یو نظم مبهم بریښي، لامل یې څه دی؟
- د لوستونکي سره- سره شاعر هم په ابهام کې لوېږي، ولې؟
- د ابهام فني اړتیاوې کومې دي، یعنې د اصولي ابهام غرض او انتها څه دي؟

سلیم احمد د ابهام په اړه د هر اړخېزې پایلې تر لاسه کولو هڅه کړې او ابهام یې د الهام سره ګډ (لازم او ملزوم) بللي دي:

- د شاعرۍ له هوښیار او پوه زده کوونکي څخه دا خبره پټه نه ده، چې شاعري پخپلو وروستیو حدودو کې د نامعلوم حیقیقت نښه ده. دا حقیقت د اظهار او ابلاغ نه، بلکې د اخفا پلوی دی او فطرت یې همداسې دی چې له ځرګندېدو څخه ګوښه کیږي.
  خو شاعري بیا د دغسې حقیقت په لټه کې ده، که څه هم دا حقیقت نه کابو کیږي، خو شاعري داسې یوه هنداره ورته چمتو کوي، څو په هغې کې د هغه انځور وځلیږي او یا لږ تر لږه نیمایي راڅرګند شي. د محبوب په شان په پرده کې پټ، د حقیقت دا ډول را ښکاره کېدل، له شاعرۍ نه الهام جوړوي. الهام، له ابهام نه پرته ناشونی دی او راز په رسوا کېدو سره بیا هم راز پاتې کیږي.

شاعرۍ ته الهام ویل کیږي، دا یوه بېله نظریه ده. دا چې شاعري الهام دی کنه؟ یو بېل بحث دی. خو په دغه بحث کې د ځینو اختلافاتو سره- سره، چې کوم مهم ټکی دی، هغه د ابهام اعتراف دی. ځکه چې دلته د الهام بنسټ ابهام ګڼل شوی دی. په نظري کچه د ابهام مطالعه د مېراجي او راشد د شاعرۍ له پلټلو او څېړلو څخه راپیل شوه، یوې ډلې د ابهام ملاتړ وکړ او بلې ډېر سخت مخالفت وښود. چې په دې معرکه کې د ابهام نظري اساس لا پیاوړی شو.

سلیم احمد په خپل (د ابلاغ مسأله) مضمون کې د وزیرآغا پر (له ابلاغه تر علامته) مضمون باندې یو څو خبرې کړې دي. هغه وایي چې په شاعرۍ کې ابلاغ د الهام په اساس رامنځته کیږي. د هغه په اند تخلیق له داخلیت (د غیر ارادي شعور) څخه خارجیت (اردي شعور) ته له سفر څخه عبارت دی. هغه په دې اند دی چې تخلیقي تصویر د ټول تخلیقي شخصیت نچوړ دی. هغه له دې امله د وزیرآغا او شمس الرحمن فاروقي شاعري د بدې شاعرۍ نمونې بللې؛ چې د هغوی غیر اردي شعور، د ارادي شعور په مرسته نشي لوستل



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدی، ځکه خو د هغوی شاعري میخانیکي کیږي. هغه د (د فکر طاعون) په مقاله کې له فاروقی سره خپل مخالفت ښکاره کړی دی. په دې اړه فاروقي درې مقالې (د تعبیر شرح، د ترسیل د ناکامۍ ویر او د شعر ابلاغ) لیکلي دي، چې مستقیماً په ابهام پورې اړوندې دي. له متن نه د معنا ایستنې عمل ته تعبیر ویل کیږي. تعبیر مختلفې وسیلې لري، خو د معنا اخستنې مرکزي وسیله ابهام دی. په تخلیقي سطحه د اظهار، ترسیل او ابلاغ په پړاوونو کې ابهام د ډیرې کوچنۍ ځپې په شان دی.

د ترسیل د ناکامۍ په خاطر، مخکې له دې چې په لیکوال باندې نیوکه وشي، ښه غور په کار دی، چې د متن تشکیلي نظام څه وایي او متن باید څنګه ولوستل شي؟ هر متن له یوې زاویې څخه نه لوستل کیږي، د میراجي متن د ترسیل د ناکامۍ غم نه، بلکې د ابهام د ښایستونو محور دی.

د میراجي د کلیات لومړنی نظم (چل چلاو) او موضوع یې د دنیا بې ثباتي ده، چې په دې اړه ګڼه شاعري هم شوې ده. میرجي خو له ژوند نه د حباب او د هغه په نسبت یې له نندارې نه د سراب تعبیر کړی دی.

د میر هم مهالی (نظیر) هم داسې وایي:

ټول به حیران پاتې شي
چې کله ډک لاړ شي بنجاره

ښاغلي ولي هم د خط و خال خبره په خال خال یاده کړې او ژوند یې له دردونو او غمونو سره تړلی دی. همغه ؤ چې بیا د درد او غم په اظهار باندې شاعران بوخت شول. کله چې درد محسوس نشي، کله چې د غم ماهیت ونه پېژندل شي، نو هغه بیا په خپل باطن کې څنګه ساتلی شو؟

هو ښاغلیه! مېراجي د غم شاعر دی، رنځونه او غمونه هغه درک کړي دي. درد د هغه دننه او غم د هغه په وجود کې دي. هغه خپل تخلیق ته ولې د وحشي خطاب کوي؟ شپې ته ولې کیسې اوروي؟ دا څنګه عاشق دی چې نه محبوب ته ورسېد او نه له پاڼ څخه وغورځېد؟ د هغه لپاره محبت عبادت ګرځېدلی او همغه له محبته رامنځته شوی هر ځای، د هغه لپاره سپېڅلی دی.

د مېراجي شاعري د عشق صحیفه ده، یو ځای کې داسې وایي:

جوګي دنیا په زرو رنګونو کې ولیده
بس ویې لیده او بیا یې هېره کړله



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند له بې شمېره زاویو څخه لیدل کیدی شي، په څاڅکي کې د سمندر موندل د تصوف کار دی. جز، د عظیم کل برخه ګڼل د اهل تصوف کړنلاره ګرځېدلې. د ژوند هره شېبه د حیات کل یو جز دی.

فاني ویلي دي: (هر نفس د تېر عمر مړی دی فاني ژوند مرمر دی د ژوند کوونکي لپاره)

غالب هم وایي: د څاڅکي عشرت دی، په سمندر کې فنا کېدل.

دغه راز، میراجي هم په یوه شېبه کې د ژوند انه ټیټ ګڼلو تجربه کړې ده:

هر منظر انسان ته ړنا او ښځو ته خوږه جادو ده
شېبه زموږ واک کې ده، که تېره شوه هر څه له منځه ځي
دې یوې شغلې ته ژر وګوره او ګټه ترې واخله
ته ولې دې ته هوس وایې؟
آیا ورکړه چې د یوې شیبې لپاره ده، ورکړه نه بلل کیږي؟
=====
سپوږمۍ پر فلک باندې یوه شېبه ده
او شېبه دا ستوري دي
او د ژوند دوره هم، فکر وکړه، یوه شېبه ده

مېراجي ټول ژوند یوه شېبه ګڼي او وجود د یوې ذرې په توګه تصور کوي. هغه د خوښۍ په فلسفه کې، د ژوند تعبیر له خوب څخه کوي، نو له خوښۍ څخه د هغه د وېرې ادراک څه دی؟ په دې دنیا کې هر څوک خوښي لټوي، خو هغه له خوښۍ نه وېره لري، په دې خاطر چې دا خوښي، ژوند په یو خوب بدل نه کړي.

په خوښۍ کې چې د رومان کوم اړخ پروت دی، هغه د خوب کیفیت ته ځلا وربخښي.

د خوب تښتېدل هغه ته ترخه او دردمنه تجربه ده، خوب په هر حالت کې خوب دی. هر خوب نه رښتیا کیږي، د میراجي په اند د خوب تښتېدل د زړه ماتېدل دي، هغه ته دا پته وه چې هره خوښي فاني ده، ځکه خو یې په دې تجربه کې د وېرې احساس درلود.

زه له خوښیو ویریږم
نه چې زما ژوند
د کایناتو په غمجنه او مبهمه نغمه کې وغورځوي



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چې زما ژوند د خوب په څېر کړي؛

دا سې ښکاري چې هغه نه غواړي د کايناتو په مبهمو نغمو کې ګير شي، خو حقيقت دا دی، چې هغه هره شېبه په هغو نغمو کې ګير پاتې دی؛ په کومو کې چې د کايناتو اسرار پټ دي. هغه ځينې وختونه په شعوري ډول ابهام موزونوي. د هغه ځيني نظمونه د لوستلو پر مهال لومړی اسان برېښي، خو چې کله لوستونکی منځ ته ورننوځي نو له پيچلتيا سره مخ کيږي.
د هغه يو نظم دی (د سمندر بلنه)، چې مختلف تعبيرونه يې شويدي. دلته سمندر اصلي وجودي سمبول دی. خو ځيني کسان سمندر د مور سمبول بولي او وايي چې مېراجي د خپلې مور په ياد کې دا نظم ليکلی دی:

دا يو ګلستان دی... هوا لګيږي، ګلونه غوړيږي
دا غر چوپ او ساکن دی
دا لويه صحرا، وچه، بې پاڼو صحرا
نه صحرا نه غر نه کوم ګلستان، يوازې ما د سمندر اوبه غواړي
چې هر څه له سمندره راغلي، سمندر ته به ځي

ګلستان، غر او صحرا درېواړه درانه سمبولونه دي، په دوی کې د ژوند دواړه اړخونه شتون لري، په ګلستان کې د هوا لګېدل، د ګلونو غوړېدل او د خوشبويو خورېدل دا ټول د ژوند او بقا سمبولونه دي، خو پخپله هغوی تر ډېره ثابت نه پاتې کيږي.
پسرلي پسې منی راځي، د غره لمن کې دره ده، په دره کې سيند روان دی او په سيند کې وړه بېړۍ روانه ده. سيند د ژوند سمبول دی، د هغه په مرسته د بېړۍ خوځېدل، د ژوند رومان دی، خو بېړۍ په تلو تلو کې له سترګو ورکيږي.
دا د فنا ځای دی، يعنې دلته هر څيز فاني دی، د مادې په فطرت کې بدلون راځي، په دې معنا چې له يوې بڼې نه په بله بڼه بدليږي، خو ختميږي نه. فنا او بقا دواړه ځانګړې حالتونه دي، چې هره بقا د فنا په لاره تېرېدونکې ده. پسرلي پسې منی دی، خو په مني پسې بيا هم نوی پسرلی شته.
هر څه له سمندر نه راغلي، بېرته به هملته ورځي. سمندر د ژوند نهايي او ژور سمبول دی، دا د ژوند سرچينه ده. همدارنګه سمندر د وخت سمبول هم دی.



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نری

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعر نه صحرا ته، نه یې غره ته او نه یې هم کوم ګلستان ته پام دی. شاعر خو بس د بوټي پر یوه څانګه خپلې سترګې ښخې کړي دي. بوټي په هره کچه شته؛ لکه د رنګ، نسل او د جسامت له پلوه. کله چې یو وچیږي او یا ماتیږي، نو همئته یو بل بوټی یا نیالګی راټوکیږي.

کله چې شاعر وایي چې: (نو بیا دا آواز هنداره ده - یوازې زه نه پوهېږم)، نو د هندارې طلسم ماتیږي. اواز هنداره ده او هنداره وجود دی. جسم مړ کیږي او روح په بله ځي، همدغه شان په هنداره کې هم تصویر لږ ځنډ تم کیږي او بیا ورکیږي. هنداره پرځای پاتې کیږي، خو څهرې بدلیږي.

د مېراجي له شخصیت او شاعرۍ سره ابهام ژوره اړیکه لري. د میراجي پر جنازه منټو دا ویلي ول، چې که مېراجي لږ په ځنډ مړ شوی وای، نو د هغه مرګ به هم یو دردمن ابهام ؤ. منټو د مېراجي په (درې ګولۍ) خاکه کې لیکلي، چې د هغه په ټول وجود کې د نه بیانېدونکي ابهام داسې زهر تت شوي ول، چې له یو ټکي نه پیل، پر یوه دایره باندې بدل شوي ول. هغه داسې چې د هغه هر ټکی د هغه د پیل ټکی دی او همغه ټکی بیا ، د پای ټکی هم دی.

پای



www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نری

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**